د لوړو زده کړو وزارت

سلام پوهنتون

د اقتصاد پوهنځی

د سوداګرۍ اداري د لیسانس پروګرام تحصیلي نصاب

نصاب تحصیلی برنامهٔ لیسانس ادارهٔ تجارت

Bachelor of Business Administration

Program Curriculum



کال ۱۴۴۷ هـ . ق

حقوقي پاڼه

د تحصيلي نصاب نوم: د سوداګرۍ اداري د ليسانس پروګرام تحصيلي نصاب

اړوند رياست: سلام پوهنتون

ډيزاينر: سلام پوهنتون

ويب سايټ: https://salam.edu.af

ايميل آدرس: salamuk@salam.edu.af

اړيکو شمېره: ۰۲۰۲۲۳۰٦٦۴

د چاپ ځای: انتشارات پوهنتون سلام، کابل، افغانستان

د چاپ کال: ۱۴۴۷هـ.ق / ۱۴۰۴ هـ.ش


بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنتون د رئیس پیغام

اداري علوم د بشري تمدن یو له اساسي او اړینو علومو څخه دی. دې علم ته اړتیا د ټولنې د سازماني او اداري ستونزو د حل له امله ده، ځکه چې په هر عصر او هرځای کې خلک او ټولنه، ښه اداره، سمې مشرۍ، اغیزمنې پانګونې، ښه پلان جوړونې د منابعو عادلانه ویش او د منابعو په برخه کې علمي او عملي لارښوونو ته اړتیا لري، او دا موخې د اداري علومو له لارې تر لاسه کېدلی شي.

د اسلام له نظره هم، اداره او مدیریت یو مهم علم دی او په شرعي نصوصو کې د "احسان" او "اتقان" (کمال او ښه والی) د مفهومونو سره تړل شوی دی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم مقدس حدیث شریف، چې فرمایي: «إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ» (بېشکه الله په هر کار کې احسان (ښه والی) لازمي کړی دی)، د اداري علومو لپاره یو کلیدي بنسټ برابروي. همدارنګه، د هغه صلی الله علیه وسلم بل ارزښتمن حدیث چې فرمایي: «إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ إِذَا عَمِلَ أَحَدُكُمْ عَمَلًا أَنْ يُتْقِنَهُ» (بېشکه الله تعالی دا خوښوي چې کله ستاسو څخه څوک یو کار کوي، نو چې په ښه توګه (محکم ډول او کامله توګه) یې وکړي)، د اداري علم روح تشکیلوي. دا احادیث ښیي چې هر عمل او هر کار باید په ښه کیفیت او بشپړ ډول سرته ورسېږي، او موږ ټول په دې پوهېږو چې یو عمل هغه وخت تر ټولو په ښه توګه سرته رسېږي چې انسان یې په منظمه اداري توګه، د پلان، نظم او دقت سره ترسره کړي. ځکه په اداره او اداري علومو کې په اتقان سره د کار په سرته رسولو، د کار په کیفیت، د پروسو په دوامداره ښه والی او د پایلو په چټکۍ او اغیزمنتیا باندې ټینګار کېږي.

په افغانستان کې اوسمهال د داسې مسلکي او وړتیا درلودونکو خلکو شدیده اړتیا ده چې واقعي اداري مهارتونه ولري. د هېواد د بیارغونې، پرمختګ او ثبات لپاره اړینه ده چې موږ د دولتي ادارو، خصوصي شرکتونو، غیردولتي سازمانونو او د ټولنیز ژوند د بېلابېلو اړخونو د ښې اداري او مدیریت لپاره وړ افراد ولرو. د همدې اساسي اړتیاو د پوره کولو لپاره، سلام پوهنتون هڅه کوي چې د اداري علومو دا علم داسې طراحي او وړاندې کړي چې د اسلامي شریعت د ارزښتونو په رڼا کې د معاصر ژوند پیچلې اړتیاوې پوره کړي. ددې پوهنتون هدف داسې مدیران روزل دي چې نه یواځې د نړیوالو اداري تیوریو او مهارتونو مسلکي پوهه ولري، بلکې د امانت، عدل، مسئولیت او احسان په ځیر اسلامي اخلاقي اصولو ته په ژمنتیا د کارونو اداره وکړی شي.

د اداري علومو د لیسانس (BBA) نصاب د همدغه مهم ماموریت د ترسره کولو لپاره طراحي شوی دی. دا نصاب د مدیریت، حسابداری، مالي چارو، بازار موندنې، انساني منابعو، سوداګریزو قوانینو او د ستراتیژیکو پلان جوړونو په ځیر موضوعات په ځان کې رانغاړي. د دې نصاب په پایله کې زده کونکي د اداره کولو، پراختیایي پروژو رامنځته کولو، اقتصادي ستونزو د حل لپاره نوښتګرې او مسلکي وړتیاوې ترلاسه کوي، ترڅو د افغانستان د راتلونکي د جوړولو او د هېواد د اقتصادي پرمختګ او د ټولنې د اداري چارو په سنبالښت کې مرسته وکړي.

په پایله کې، د BBA نصاب د علمي پوهې او عملي مهارتونو یوه بشپړه پروګرام دی چې د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې د یوې اغیزمنې، مسؤلیتپالې او عدالت بنسټې اداري د جوړولو لپاره د کار خلک روزي، او په دې ډګر کې د افغانستان او د افغاني ټولنې د اړتیاو د پوره کولو هڅه کوي.

د الله تعالی له دربار څخه دعا کوم چې د ژوند په هر ډګر کې د خپل دین د ارزښتونو سره سم د خدمت توفیق را په برخه کړي.

په درنښت
دکتور مصباح الله عبدالباقی
د سلام پوهنتون رئیس

سریزه

د سوداګرۍ اداري د لیسانس برنامې د تحصیلي نصاب طرحه د سلام پوهنتون د اقتصاد پوهنځي د سوداګرۍ اداري د ډیپارتمنت لپاره د متخصصو استادانو د یوې کمیټې له‌خوا ترتیب شوې ده، چې د دکتورا او ماسټرۍ درجې لرونکي لوړې زده کړې او پراخه تجربې لري. وروسته، د ډیپارتمنت د نصاب کمیټې، د ډیپارتمنت علمي شورا، د پوهنځي د نصاب کمیټې، د پوهنځي علمي شورا، او د پوهنتون د نصاب کمیټې خپلې نظریې وړاندې کړې، او د لازمو اصلاحاتو وروسته دا نصاب د پوهنتون د علمي شورا له‌خوا په رسمي ډول تصویب شو. دا لومړی ځل دی چې دغه تحصیلي نصاب تدوین شوی او اوس مهال د بیاکتنې جدي اړتیا نه لري. له همدې امله، دغه نصاب د تحصیلي نصاب د پرمختګ او بیاکتنې په لړ کې نه شاملېږي. البته، په تدریجي توګه او د محصلانو د فراغت وروسته به د دې نصاب د پراختیا او غنا لپاره د بیاکتنې اړتیا رامنځته شي، چې په دې بهیر کې د استادانو، محصلانو، سکتوري ادارو او مسلکي کسانو نظریات هم راټولېږي. موږ په پام کې لرو چې د نصاب د تدوین د پروسې له نهایي کېدو وروسته، دغه نصاب د ازمایښت په ډول تطبیق کړو او د عملي تطبیق پایلې یې په دقت سره وڅېړو. په دې توګه به د نصاب د مفرداتو او د مضامینو اړونده معلوماتو کیفیت په تدریجي ډول لوړ شي، چې دا به په پایله کې د نصاب د پرمختګ او دوامدارې بیاکتنې لپاره ګټور ثابت شي. همدارنګه، موږ هڅه کوو چې په دې برخه کې ځانګړي درسي کتابونه او لارښودونه ولیکو، په دې کتابونو کې نوي مطالب او معاصر علمي معلومات راټول کړو او د ټولنې د علمي اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې خپاره کړو. له بلې خوا، زموږ استادان د دې نصاب د لا غنا او علمي ودې لپاره تحقیقي مقالې، سیمینارونه، کنفرانسونه او نورې علمي برنامې ترسره کوي، څو د سلام پوهنتون د سوداګرۍ اداري د لیسانس د تحصیلي نصاب وده او پرمختګ یقیني شي.

د سوداګرۍ اداري د لیسانس پروګرام اړوند علمي کادرونه مکلف دي چې له یوې خوا د نصاب په مؤثر تطبیق کې هڅه وکړي، او له بلې خوا د دې نصاب د پرمختګ او بیاکتنې په بهیر کې فعاله ونډه واخلي. ځکه چې د ټولنیزو علومو معلومات په چټکۍ سره بدلېږي، نو موږ باید له نړیوالو علمي بدلونونو سره هم‌مهاله او هم‌ګام پاتې شو، څو د پرمختګ له کاروانه وروسته نه شو.د همدې دلیل له مخې، د دې پروګرام د اغېزمن تطبیق او دوامدار پرمختګ مسئولیت خورا درونده دی او جدي پاملرنه غواړي. موږ هڅه کړې ده، او لا به زیاته هڅه وکړو، څو د نړیوالو منل شوو اصولو او معیارونو په پام کې نیولو سره د دې برنامې تدوین او تطبیق ترسره کړو. په نصاب کې تر ډېره بریده نړیوال معیارونه رعایت شوي دي، او د هېواد د لوړو زده‌کړو محترم وزارت لارښوونې په کلکه مراعات شوې دي.

په پای کې، له ټولو مسئولینو، استادانو او کارمندانو څخه چې د دې مهم علمي سند په ترتیب او تدوین کې یې ونډه اخیستې ده، مننه او قدرداني کوو. له لوی خدای (ج) څخه ورته د خیر په عمل کې توفیق او په همدې لاره کې استقامت غواړو.

د یو پرمختللي، متمدن، او له جهالت او تعصب څخه د پاک افغانستان په هیله.

په درنښت

لړليک

عنوانونه **صفحي**

مقدمه ۳

د پروګرام پېژندنه ٤

لرليد ۵

ماموريت ۵

ارزښتونه ۵

د اړتيا ارزونه ۵

د زده کړې موخې ۸

د زده کړې تمه شوي پايلې ۸

د درسي نصاب د پلي کولو شرطونه ۹

د ټاکل شوو مفرداتو مطابق د درسي کتابونو او محتوا د تدوين اصول او معيارونه ۱۱

د درسي نصاب ځانګړتياوې ۱۲

تحصيلي ستراتيژي ۱۲

الف: د پروګرام موده ۱۲

ب: د مضامينو کټګوري ۱۳

ج: د مضمون د کود پېژندنه ۱۶

د: د تدريس او زده کړې ميتودولوژي / کړنلاره ۱۶

ه: د زده کوونکو ارزونه ۱۷

الف: د مضامينو سمستروار جدول په پښتو ژبه ۲۱

ب: د مضامينو سمستروار جدول په دري ژبه ۳۱

ج: د مضامینو سمسترواړ جدول په انګلیسی ژبه ٤١

لومړی برخه: د اساسي مضمونونو لپاره درسي مفردات او اونیز پلانونه ٥٣

د (سوداګرۍ ریاضي) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ٥٥

د (مدیریت اساسات) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ٦٠

د (کوچني اقتصاد) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ٦٥

د (لوي اقتصاد) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ٦٩

د (سوداګریز روابط) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ٧٣

د (تشریحی احصائیه) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ٧٨

د (اټکلی احصائیه) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ٨٣

د (اساسي ریاضي) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ٨٨

د (پیسې او بانکداري) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ٩٣

د (نړیواله سوداګري) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ٩٧

دویمه برخه : د مسلکي مضمونونو لپاره درسي مفردات او اونیز پلانونه ١٠٣

د (مالي محاسبه - ١) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ١٠٥

د (مالی محاسبه - ٢) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ١١٠

د (سوداګرۍ پیژندنه) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ١١٤

د (بازارموندنې اصول) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ١١٨

د (مصرفي محاسبه) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ١٢٣

د (بازار موندنې مدیریت) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ١٢٧

د (سوداګرۍ اخلاق) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ١٣٢

د (سوداګرۍ مالي) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان ١٣٧

د (بشري سرچينو مديريت) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۱٤۲
د (سوداګريز حقوق) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۱٤۸
د (مالي مديريت) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۱۵۳
د (مالي بازارونه او ادارات) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۱٦۰
د (کوچني او منځي کاروبارونه) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۱٦٤
د (تشبثات) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۱٦۹
د (ستراتيژيک مديريت) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۱۷٤
د (اداري رفتار) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۱۸۰
د (پانګې مديريت او پورټفوليو تحليل) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۱۸۵
د (حسابداری معلوماتي سيستمونه) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۱۹۱
د (پروژې مديريت) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۱۹٦
د (بدلون مديريت) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۰۱
د (شرکت مالې امور) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۰۵
د (اسلامی بانکداري او مالي) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۱۲
د (نړيوال مالي مديريت) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۱۷
د (رهبري) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۲۲
دريمه برخه : د انتخابی مضمونونو لپاره درسي مفردات او اونيز پلانونه ۲۲۷
د (ټولنپوهنه) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۲۹
د (روانشناسي) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۳۵
څلورمه برخه: د تول شموله مضمونونو لپاره درسي مفردات او اونيز پلانونه ۲۳۹
د: (اسلام اعتقادی نظام) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲٤۱

د (تلاوت او تجويد) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲٤۹
د (اسلام عبادتي نظام) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۵۵
د (سيرت) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲٦۱
د (اسلام اخلاقي نظام) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲٦۷
د (اسلام ټولنيز نظام) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۷۲
د (فکري پوهنې) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۷۹
د (اديان او مذاهب) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۸٦
د (اسلام سياسي نظام) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۹۲
د (اسلام اداری نظام) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۲۹۹
د (اسلام اقتصادي نظام) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۳۰۳
د (قرآن او عصری علوم) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۳۰۹
د (اسلامي تمدن) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۳۱۵
د (انګليسي ژبه - ۱) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۳۲۱
د (انګليسی ژبه - ۲) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۳۲٦
د (کمپيوټر اساسات) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۳۳۱
د (محيط زيست اساسات) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۳۳۷
پنځمه برخه: د پايانامه لپاره اونيز درسي مفردات او کاري پلان ۳٤۳
د (سوداګری څېړنې ميتودونه) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۳٤۵
د (مونوګراف) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان ۳۵۱
د برنامې د تصويب مرحلې ۳۵۹

لومړی برخه: عمومیات

مقدمه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و الصلاة و السلام على أشرف الأنبياء والمرسلين و على آله و أصحابه أجمعين و من تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

د لوی خدای جل جلاله شکر او حمد ادا کوو، چې مور ته يې دا وياړ راپه برخه کړ، څو د علم او پوهې د ارتقا او د سوداګرۍ د زده کړې او څېړنې په برخه کې يو بنسټيز او اغېزناک ګام واخلو. هيله‌مند يو چې دا هڅه به نه يوازې زمور د ټولنې په خير تمامه شي، بلکې د سوداګرۍ او اقتصاد په برخو کې به د علمي پرمختګ لپاره لاره نوره هم هواره کړي.

لکه څنګه چې نړۍ په معاصر عصر کې د بې‌ساري بدلون، چټک پرمختګ او سختې سيالۍ شاهده ده، نو د لوړو زده کړو د بنسټونو لپاره اړينه ده چې د سوداګرۍ د اداري لپاره يو عصري، جامع او اغېزناک نصاب چمتو کړي. د همدې اړتيا پر بنسټ، د سلام پوهنتون د اقتصاد پوهنځي د ياد نصاب د جوړولو ابتکار ترسره کړ، چې له مخې به يې محصلين، ښوونکي او څېړونکي يو داسې علمي سند ته لاسرسی وموميِ، چې د تدريس، تحليل او څېړنې په چارو کې وضاحت، موثريت او نظم رامنځته کړي، او د تدريس د کيفيت د لوړوالي لامل وګرځي.

د ياد نصاب مواد د علمي، مسلکي او اړونده مضامينو پر بنسټ په دقت سره ترتيب شوي، څو د سوداګرۍ اړوند اساسي او فرعي برخې په متوازن ډول تر پوښښ لاندې راولي. د نصاب د جوړولو بهير څو مهم پړاوونه درلودل، چې پکې د اړتياوو تحليلي ارزونه، د معلوماتو راټولول، د محتوا تنظيم، د پايلو ارزونه، او د ملي او نړيوالو معيارونو رعايت شامل وو. دا ټول پړاوونه د لوړو زده کړو وزارت د نصاب د اصلاحاتو او د عصري کولو تګلارې سره سم ترسره شوي دي.

د نصاب د رسمي ارزونې او تصويب بهير له سوداګرۍ اداري ديپارتمنټ د نصاب کميتی څخه پيل شو، وروسته د سوداګرۍ اداري ديپارتمنت علمی شورا د پوهنځي نصاب کميتی، د پوهنځی علمي شورا، د پوهنتون نصاب کميتی او د پوهنتون علمي شورا له لورې تصويب شو.

مور تمه لرو چې د لوړو زده کړو وزارت له لورې هم دا نصاب په رسمي توګه تأييد شي چې تر څو عملي پړاو ته داخل شي او د سوداګرۍ د اداري په برخه کې د يو معياري، علم‌محوره او روښانه راتلونکي بنسټ کېږدي.

د پروګرام پېژندنه

د سوداګرۍ د اداري کریکولم د سوداګرۍ د مدیریت په برخه کې د لیسانس ځلورکلنې دورې لپاره چمتو شوی دی. دا مسلکي کریکولم زده کړیالانو ته د محاسبې، مالي امورو، بازارموندنې او د بشري مدیریت او رهبریت په برخه کې درسي مفردات او مواد وړاندې کوي چې په توسط یې زده کړیالان کولای شي د کاروبار د مدیریت لپاره خانونه چمتو کړي. هغه زده کونکي که اوغواړي چې د یوې اداري او کاروبار د رهبریت او مدیریت په برخه کې مسلکي زده کړې ترلاسه کړي د ۱۲ ټولګي له بشپړولو وروسته کولای شي چې دا کریکولم تعقیب کړي. د لیسانس دا کریکولم د زده کونکو سره مرسته کوي چې د سوداګرۍ د اداري او مدیریت بېلابېل اړخونه د درسي لیکچرونو او عملي پروژو له لارې وپېژني. دا کریکولم به زده کونکي د سوداګرۍ د اداري، بازار، بازارموندنې او نورو مختلفو اړخونو سره اشنا کړي. زده کونکي به وکولای شي چې د سوداګرۍ په کړنو کې د فکر کولو مهم مهارتونه، د معلوماتو ارزونه، د ستونزو حل کول او د سوداګرۍ په برخه کې سمې پرېکړې تصور او زده کړای شي. د دې کریکولم د لارې به زده کونکي زده کړي چې څنګه د یو کاروبار ټول متعلقینو او شریکانو سره په معامله کې د سوداګرۍ اخلاقي مفاهیم پلي کړي، همدارنګې زده کونکي به د سازماني اهدافو په ترلاسه کولو کې د ډله ایز ډول حرکت کولو په اهمیت پوهه شي او د ټیم د اغېزمن کارکولو لپاره به اړین مهارتونه وکاروي.

دا پروګرام په پښتو، دري او انګلیسي ژبو کې په لاندې ډول نومول شوې ده.

۱. د سوداګرۍ اداري د لیسانس پروګرام (پښتو)

۲. لیسانس ادارۀ تجارت (دری)

۳. Bachelor of Business Administration (انګلیسی) چې مخفف به یې (BBA) لیکل کیږي.

د دې پروګرام درسي نصاب د لوړو زده کړو وزارت د لیسانس د نصاب د پراختیا د رهنمود پر بنسټ ترتیب شوی دی. د دې لپاره چې موجوده پروګرام د نړیوالو معیارونو سره سمون ولري، د درسي نصاب ټاکل شوي مضامین او د ترتیب پروسه یې د څو غوره بهرنیو پوهنتونونو سره پرتله شوې ده. دلته به یو څو نمونې د هغو پوهنتونونو وړاندې کړو چې د دې پروګرام نصاب د هغوی د نصابونو سره تطبیق کوي.

شماره	پوهنتون	رشته	لینک	تحت چتر
۱	اسلامي نړیوال پوهنتون اسلام اباد	BBA	https://www.iiu.edu.pk/faculties/faculty-of-management-sciences/academic-programs/scheme-of-studies-for-bba-4-years-program.	سوداګریز مدیریت
۲	د بحرین پوهنتون کالج (بحرین)	BBA	https://ucb.edu.bh/department-of-business-administration.	سوداګریز مدیریت
۳	د مالایا پوهنتون	BBA	https://fpe.um.edu.my/bachelor-of-business-administration-bba.	سوداګریز مدیریت
۴	د لیورپول پوهنتون ، انګلستان	BBA	https://www.liverpool.ac.uk/courses/undergraduate/business-and-management.	سوداګریز مدیریت

لرليد

د سوداګرۍ اداري د ليسانس پروګرام غواړي چې په افغانستان کې په لوړ کيفيت سره په اداري او اقتصادي علومو کې د متخصصينو د روزلو داسې پروګرام واوسي چې هېواد، سيمې او نړۍ ته په دې ډګر کې اغېزمن کدرونه وړاندې کړي.

ماموريت

په اداري او اقتصادي علومو کې ټولنې ته داسې مسلکي افراد وړاندې کول چې د سوداګرۍ په برخه کې د بازار اړتياوې پوره کړي او د هېواد په اقتصادي وده کې مرسته وکړي.

ارزښتونه

١. د ديني او ملي ارزښتونو او اسلامي شعايرو ساتنه، درناوی او مراعت کول.
٢. د عقيدوي، فکري، اخلاقي، علمي او مسلکي روحيې هر اړخيز پياوړتيا.
٣. د اخلاص، تقوا او د عباداتو د ترسره کولو روحيه پياوړې کول.
٤. د اسلام ارزښتونو ته د ژمنو کادرونو روزنې ته پاملرنه.
٥. د اسلامي اخوت، وحدت، شفقت، همدردۍ، خدمتګارۍ، متقابل احترام او ايثار روحيه پياوړې کول.
٦. په ژوند کې د شرعي احکامو عملي کول او د هغوی په اړه د باور پياوړتيا.
٧. د ديني او عصري علومو ترمنځ د اړيکې پياوړتيا او ترمنځ يې د دينی اصولو او عصري اړتياوو په اساس توازن رامنځته کول.
٨. د انسان د روح، عقل او بدن د اړتياوو ترمنځ د اړيکې پياوړتيا او تر منځ يې د وحي او الهي احکامو پر اساس توازن رامنځته کول.

د اړتيا ارزونه

الف. اوسنی وضعيت

په افغانستان کې د اقتصادي، تجارتي، مالي او خدماتي فعاليتونو د پراختيا له زياتېدو سره، يو له اساسي ننګونو څخه په دولتي او خصوصي ادارو کې د مسلکي بشري ځواک کمښت په ځانګړي ډول د اداري او تجارت په برخه کې دی. د دولتي ادارو، خصوصي شرکتونو، بانکونو، مالي مؤسسو او غيردولتي سازمانونو يوه ستره برخه هغه کسانو ته سپارل شوې چې په مديريت، اداره او تجارت کې منظم او معياري اکادميک تعليم نه لري؛ دا وضعيت د پلان جوړونې په ضعف، د توليد او خدمتونو په ټيټې کچې، په اداري او مالي چارو کې د شفافيت په نشتوالي او په بازار کې د سالمې سيالۍ په ناتوانۍ تمامېږي.

د اداري او تجارت رشته د اداري او اقتصادي علومو له بنسټيزو ځانګو څخه ده چې د سازماني او تجارتي ژوند مهم اړخونه تنظيموي؛ لکه د بشري منابعو مديريت، بازاريابي او پلور، مالي مديريت او حسابداری، عملياتي مديريت، بانکداري، کارآفريني او د وړو او منځنيو تشبثاتو اداره. د هېواد د اقتصاد ورځ تر بلې زيات تړاو له دغو برخو سره، او د بازار کار له لوري د متخصصو کدرونو پرله‌پسې اړتيا دا ځرګندوي چې د ليسانس اداري او تجارت د پروګرام ايجاد او پياوړتيا يوه جدي اړتيا ده. د همدې اړتيا پر بنسټ، سلام پوهنتون دغه پروګرام د خپلو اکادميکو لومړيتوبونو له جملې څخه ګڼي، څو مسلکي او متعهد کدرونه وروزي، د افغانستان د علمي ټولنې او د کار بازار اړتياوو ته ځواب ووايي او ځوانانو ته د معياري لوړو زده کړو زمينه برابره کړي.

ب. د پروګرام اړتیا او اهمیت

د اداري او تجارت رشته په دولتي او خصوصي سکتورونو کې د اداري، مدیریتي او تجارتي فعالیتونو پراخ ساحه تر پوښښ لاندې نیسي؛ له اداري جوړښت طرحه، د بشري منابعو مشرتابه او تنظیم، ستراتیژیک پلان جوړونې او د پروژو مدیریت څخه نیولې، تر بازاریابۍ، پلور، د مراجعینو خدمت، مالي مدیریت او حسابداري او د بازار تحلیل پورې. هر اداري او تجارتي تصمیم چې د سازمانونو په سطحه نیول کېږي، مستقیم اقتصادي او مدیریتي اغېز لري او د دې لپاره د مسلکي پوهې او مهارتونو شتون حتمي دی.

په وروستیو لسیزو کې د افغانستان د بازار کار په بېلابېلو سکتورونو کې د مسلکي مدیرانو، مجربو اداري کارکوونکو، مالي متخصصانو او حسابدارانو، د بشري منابعو مسوولینو، د بازاریابۍ مدیرانو او کارآفرینانو اړتیا په دوامداره توګه لوړه شوې ده. د تجارتي چاپېریال چټکو بدلونونو، د سیالۍ د فضا پراختیا، نویو ټکنالوژیو او عصري د اداري او حسابدهۍ معیارونو ته په کتو، د لیسانس په کچه د اداري او تجارت د مسلکي ځواک روزنه اوس له هر بل وخت څخه زیاته مهمه احساسېږي.

په همدې رڼا کې، د لیسانس اداري او تجارت د پروګرام ایجاد او تطبیق له لاندې اړخونو څخه ځانګړې اړتیا او اهمیت لري:

١. په دولتي او خصوصي ادارو کې د مدیریت، اداري، حسابداري، مالي چارو، بازاریابۍ او بشري منابعو په برخو کې د مسلکي کډرونو د کمښت جبران.
٢. د داسې مسلکي مدیرانو او اداري کارکوونکو روزنه چې د معاصرو مدیریتي اصولو او د ښه حکومتدارۍ د معیارونو پر بنسټ وکولای شي سازمانونه او مؤسسې په مؤثره او ځواب‌ګو ډول اداره کړي.
٣. په ملي او محلي کچه د کارآفرینۍ د ودې او د وړو او منځنیو تشبثاتو د ایجاد او پراختیا لپاره د زمینې برابرول، تر څو خصوصي سکتور پیاوړی او دوامدار کار فرصتونه رامنځته شي.
٤. د حسابداري، مالي راپور ورکولو، د منابعو د مدیریت او د داخلي کنټرول سیستمونو له لارې د اداري او مالي شفافیت د لوړولو لپاره د مسلکي کډرونو روزنه.
٥. په دولتي او غیردولتي ادارو کې د اقتصادي او مدیریتي پالیسیو د طرحې او عملي کولو په برخه کې د علمي او تخنیکي اړتیاوو پوره کول.
٦. د مدیریت، اداري او تجارت له اړوندو رشته‌وو سره په تړاو د لوړو زده کړو (ماستري او دوکتورا) لپاره د دوامداري تحصیل بنسټ برابرول.

ج. اړتیا سنجۍ پایلې

د ټولنې او د کار بازار د علمي او عملي اړتیاوو د دقیقې پېژندنې لپاره، د سلام پوهنتون اړوند پوهنځي په وروستیو کلونو کې د معیاري میتودونو (پوښتنلیکونو وېش، مرکې او مشورتي ناستې) له لارې له درې اصلي ډلو څخه نظر غوښتنه کړې ده: محصلان او فارغان، استادان، او دولتي او خصوصي کارفرما اداري. د دې اړتیا سنجونې لنډیز په لاندې ډول وړاندې کېږي:

١ .د محصلانو او فارغانو د نظرپوښتنې راپور

د اداري او تجارت دیپارتمنت، د خپلو موخو او تصویب شویو پلانونو له مخې، د تحصیل د کیفیت د لوړولو او د پروګرام د محتوا د بازار د حقیقي اړتیاوو سره د برابرولو په موخه، د اقتصاد، اداري او تجارت، مدیریت، بانکداري او ورته رشته‌وو له محصلانو او فارغانو څخه په سلام پوهنتون او ځینو نورو مؤسسو کې نظر اخیستی دی.

د ځوابونو د تحلیل له مخې، له اتیا سلنې (٪۸۰) څخه ډېر محصلان او فارغان، د لیسانس اداري او تجارت د پروګرام ایجاد «ضروري» او «په بشپړ ډول د بازار د اړتیاوو سره سم» ارزولی او ځرګنده کړې یې ده چې دغه پروګرام کولی شي په بانکونو، تجارتي شرکتونو، مالي مؤسسو، دولتي ادارو او غیردولتي سازمانونو کې د هغوی د استخدام فرصتونه په ځرګند ډول زیات کړي. همدارنګه، ډېرې ځواب ویونکو ټینګار کړی چې د پروګرام په نصاب کې باید عملي مهارتونو ته خانګړې پاملرنه وشي؛ لکه د حسابداری او مدیریتي سافټویرونو کارول، د بازاریابی تخنیکونه، د پروژې مدیریت او د اغېزمنې اړیکې مهارتونه.

۲ .د استادانو د نظرپوښتنې راپور

یاد دیپارتمنت د تخصصي لیدلورو د ترلاسه کولو لپاره، د سلام پوهنتون او ځینو نورو پوهنتونونو د اقتصاد، اداري او تجارت، مدیریت او ورته پوهنځیو له استادانو څخه نظر غوښتنه کړې ده.

د دې نظرپوښتنې پایلې ښیي چې له پنځه اتیا سلنې (٪۸۵) څخه ډېر استادان، د هېواد د اوسنیو شرایطو لپاره د لیسانس اداري او تجارت د پروګرام ایجاد او تطبیق «ضروري» او «لوړ لومړیتوب» ګڼي. استادانو ځرګنده کړې چې دا پروګرام کولی شي د مسلکي مدیرانو، مالي متخصصانو او ځوانو کارآفرینانو په روزنه کې اساسي رول ولوبوي، د لیسانس په کچه د مدیریت او تجارت په برخه کې د علمي څېړنو او مطالعو زمینه برابره کړي او په پایله کې د دولتي او خصوصي بنسټونو اداره او مدیریت ته د پام وړ ښه والی ور وبښي.

۳ .د کارفرما ادارو (دولتي او خصوصي سکتور) د اړتیا سنجونې راپور

د بازار د حقیقي اړتیاوو د سنجولو په موخه، د اداري او تجارت دیپارتمنت له یو شمېر دولتي او خصوصي ادارو؛ لکه اړوندو اقتصادي وزارتونو او دولتي ادارو، بانکونو، مخابراتي شرکتونو، تجارتي او تولیدي شرکتونو، د تجارت او صنایعو خونې، غیردولتي مؤسسو او ځینو تعلیمي او تحصیلي مرکزونو څخه نظر غوښتنه کړې ده.

تر لاسه شوې پایلې ځرګندوي چې له پنځه اویا سلنې (٪۷۵) څخه ډېر مسؤلان او استازي، په خپلو ادارو کې د مدیریت، حسابداری، مالي چارو، بشري منابعو او بازاریابی په برخو کې د مسلکي کدرونو له ځرګند کمښت څخه یادونه کوي او باور لري چې د لیسانس اداري او تجارت فارغان کولی شي د دې خلا یوه مهمه برخه ډکه کړي. همدارنګه، یادو ادارو د اداري او تجارت رشته «کارا»، «اغېزمنه» او «له اوسنیو او راتلونکو بازاري اړتیاوو سره برابره» بللې او په هېواد کې په لوړو زده کړو مؤسسو کې د داسې پروګرامونو د ایجاد او پراختیا پر اهمیت یې ټینګار کړی دی.

پایله

د بازار کار له موجود وضعیت، د محصلانو او فارغانو له لیدلورو، د استادانو له نظریاتو او د کارفرما ادارو له پایلو سره په کتو، په سلام پوهنتون کې د لیسانس اداري او تجارت د پروګرام ایجاد یوه بېړنۍ او مهمه علمي، اقتصادي او ټولنیزه اړتیا ګڼل کېږي. تمه ده چې دغه پروګرام به وکولای شي په بېلابېلو اداري او تجارتي برخو کې د مسلکي بشري ځواک د کمښت په کمولو، د هېواد د مدیریتي او اقتصادي ظرفیتونو په پیاوړتیا او په دولتي او خصوصي سکتور کې د دوامدارو کاري فرصتونو په رامنځته کولو او د خدمتونو د کیفیت په لوړولو کې مهم رول ولوبوي.

د زده کړې موخې

د اداري او تجارت د لیسانس پروګرام تعلیمي موخې په لاندې ډول دي:

- زده‌کوونکي به د اداري او تجارت بنسټیز مفاهیم زده کړي او د اقتصادي پراختیا په برخه کې د هغوی اهمیت وپېژني.
- زده‌کوونکي به د مسلکي اخلاقو، شفافیت او د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې د تجارتي فعالیتونو مفهوم درک کړي.
- زده‌کوونکي به په ابتدایي ډول د پلان جوړونې، سازماندهۍ، او اداري دندو ترسره کولو مهارت ولري.
- زده‌کوونکي به د حسابداری، مالي مدیریت، او بودیجې جوړونې بنسټیز پوهه ترلاسه کړي.
- زده‌کوونکي به د بازارموندنې اصول، د پیرودونکو اړتیاوې، او د محصولاتو د معرفۍ ابتدایي ستراتیژۍ زده کړي.
- زده‌کوونکي به د بشري منابعو مدیریت او کار ټیمونو اصول زده کړي.
- زده‌کوونکي به د رهبرۍ ابتدایي مهارتونه او په کاري چاپېریال کې مؤثره اړیکې زده کړي.
- زده‌کوونکي به د سوداګریزو مسایلو د تحلیل لپاره له بنسټیزو احصایوي او تحلیلي طریقو ګټه پورته کړي.
- زده‌کوونکي به د کوچنیو پروژو مدیریت او د سرچینو تنظیم اصول زده کړي.
- زده‌کوونکي به د ډیجیټل بازارموندنې بنسټیزې طریقې زده کړي او د اسلامي اقتصاد او بانکداری اصول ورسره اشنا شي.
- زده‌کوونکي به د مالیاتو، محاسبې او سوداګریزو قوانینو ابتدایي پوهه ترلاسه کړي.
- زده‌کوونکي به وکولای شي د کوچنیو تشبثاتو پلانونه جوړ کړي.
- زده‌کوونکي به د مسلکي اخلاقو، ټولنیزې مسؤلیت او د اسلامي ارزښتونو پر اساس خپله دنده ترسره کړي.

د زده کړې تمه شوي پایلې

فارغ زده کوونکي به وتوانیږي چې:

- د پیچلو سازماني ننګونو د حل لپاره اخلاقي، نوښتګر او هراړخیزې حل‌لارې طرحه او تطبیق کړي.
- سازمانونه د بدلون، ناڅرګندتیا او پیچلتیا په شرایطو کې په ستراتیژیک او مسؤلانه ډول رهبري کړي.
- د سوداګرۍ د ستونزو د تحلیل لپاره کمیي ماډلونه او تحلیلي وسایل وکاروي او د شواهدو پر بنسټ پرېکړې وکړي.
- د نړیوال اقتصادي او سوداګریز چاپېریال د بدلونونو ارزونه ترسره کړي او پر بنسټ یې ستراتیژیک تصمیمونه ونیسي.
- د خطر، پانګوالی، بودیجې او پانګې جوړښت په برخو کې د پرېکړو د ملاتړ لپاره مالي تحلیلونه ترسره کړي.
- مالي او محاسبوي معلومات تشریح کړي، او د دې معلوماتو ارزښت، اعتبار او محدودیتونه وپېژني.
- د څېړنیزو میتودونو، د معلوماتو راټولولو تخنیکونو، او احصایوي وسایلو له لارې سوداګریزې ستونزې تحلیل کړي.
- څېړنیز راپورونه د علمي معیارونو مطابق چمتو کړي او موندنې یې د تدریس، پالیسۍ جوړونې او مسلکي پرېکړو لپاره وکاروي.
- د مصرفوونکو چلند، د بازار د تمایلاتو او د پېرېدونکو د ارزښت پر بنسټ د بازارموندنې ستراتیژۍ جوړې او ارزونه یې ترسره کړي.
- د انساني سرچینو، سازماني چلند او ټیمي همکارۍ د ښه والي لپاره نوښتګر اقدامات تر سره کړي.
- د اسلامي اقتصاد اصول او د شریعت پر بنسټ مالي کړنلارې د معاصرې سوداګرۍ په عملیاتو کې پلي کړي.
- د ډیجیټل بازارموندنې ستراتیژۍ او نوې ټکنالوجي د سوداګریز فعالیت د پیاوړتیا لپاره وکاروي.
- د ستراتیژیک مدیریت اصول، نوښت، او د کړنو د ارزونې وسیلې د سوداګریزو ستراتیژیو په جوړولو، پلي کولو او ارزونو کې وکاروي.

- نړیوال بازارونه، سیالي او د بیې ټاکلو ماډلونه تحلیل کړي، ترڅو د سوداګرۍ د پراختیا فرصتونه وپیژني او تعقیب یې کړي.
- د سوداګرۍ په برخه کې د اخلاقي معیارونو، نړیوالو ارزښتونو، او ټولنیزو مسؤلیتونو ته ژمنتیا وښیي.

د درسي نصاب د پلي کولو شرطونه

د سوداګرۍ اداري د لیسانس پروګرام د اغیزمن تطبیق په موخه د اقتصاد پوهنحی لاندې امکانات په لاس کې لري.

د پروګرام قانوني مجوز

د سوداګرۍ اداري د لیسانس پروګرام د ۱۴۳۰ هـ.ق د شوال د ۲۱ نېټې سره سم، چې د ۱۳۸۸ هـ.ش د ۰۷/۱۸ نېټې سره برابره ده، د محترم وزارت تحصیلات عالی هېواد د عالي شورا په ۲۷۷۱ نمبر پروتوکول کې مطرح او تأیید شو.

بشري سرچینې

الف) استادان

شمیره	شهرت		تحصیلات			دندي ټرون		خرګندونې
	نوم	تخلص	د تحصیل درجه	تحصیلی رشته	علمي رتبه	دایمي	قرارداد	
۱	ډاکتر عبدالله	صادق	دکتور	د مدیریت علوم	پوهنمل	هو		
۲	ډاکتر محمد قاسم	ایاز	دکتور	د مدیریت علوم(دبشري سرچینو مدیریت)	پوهنمل	هو		
۳	ډاکتر عبدالقهار	صافی	دکتور	د مدیریت علوم(د بشري سرچینو مدیریت)	پوهنمل	هو		
۴	استاد صفی الله	شینواری	ماستر	د سوداګرۍ اداري	نه لري	هو		
۵	استاد محمد طارق		ماستر	اقتصاد	نه لري	هو		
٦	استاد ذبیح الله	وهاب	ماستر	د سوداګرۍ اداري	نه لري	هو		

ب) وړ او با تجربه تخنیکران

په د برنامه کی د ور او مسلکی تخنیکرانو ته اړتیا نه ښکاري.

شمیره	شهرت		تحصیلات			دندي ټرون		خرګندونې
	نوم	تخلص	د تحصیل درجه	تحصیلی رشته	علمي رتبه	دایمي	قرارداد	

ج) اداري کارکونکو

شمیره	شهرت		تحصیلات			دندي ترون		څرګندونې
	نوم	تخلص	دتحصیل درجه	تحصیلی رشته	کاری تجربه	دایمي	قرارداد	
۱	ذبیح الله	وهاب	ماستر	د سوداګری اداري ماستر	۵ کال	هو		
۲	اسد الله	فیضان	لیسانس	شرعیات	۴ کال	هو		
۳	محمد طیب	روحانی	بکلوریا	دولسم تولګی	۷ کال	هو		

د) د کتابتون او معلوماتی تکنالوژی مسؤلین

شمیره	شهرت		تحصیلات			دندي ترون		څرګندونې
	نوم	تخلص	د تحصیل درجه	تحصیلی رشته	کاری تجربه	دایمي	قرارداد	
۱	عبدالرحمن	حسن خیل	ماستر	د اسلامی تعلیمات	۱۰ کال	هو		
۲	داد الله	همت	لیسانس	کتابتون او معلوماتی ساینس	۱ کال	هو		
۳	عبدالقاهر	ضیاء	لیسانس	کمپیوتر ساینس	۳ کال	هو		
۴	محمد اقبال	نوری	لیسانس	کمپیوتر ساینس	۳ کال		هو	

د فزیکي منابع

۱ . ودانی: سلام پوهنتون د نړیوالو پوهنتونونو د معیارونو پر بنسټ دوه مجهزې او لوړپوړې ودانۍ لري، چې په کې د اقتصاد پوهنځي په شمول ټولو پوهنځیو لپاره د تعلیمي او څېړنیزو فعالیتونو لپاره ټول اړین امکانات، لکه پرمختللي ټولګي، مجهز لابراتوارونه، او نور عصري علمي تجهیزات لري. د سلام پوهنتون ودانۍ په داسې ستراتېژیک موقعیت کې واقع دي چې محصلین کولی شي په اسانه او په چټکۍ سره ورته لاسرسی ولري.

۲ . ټولګي: د اقتصاد پوهنځی د عصري ټولګیو ټولې اړتیاوې لري ، پوهنځی دا مهال لاندې اسانتیاوي لري: د کنفرانس خونې د لوی اندازې خونې د لیکچر سټایل لارښوونې او روزنې لپاره ډیزاین شوي. د کنفرانس خونې د منځنۍ اندازې لارښوونې خونې. یادي خونې د ناستې د ترتیب پورې اړه لري ، دا خونې ممکن د لیکچر سټایل یا د ګردي میز بحثونو او یاهم د لري ځای څخه د کنفرانسونو لپاره. لارښوونو لپاره وکارول شی د سیمینار خونې د کوچنۍ اندازې لارښوونې خونې چې معمولا د لږ شمیر خلکو د ځای پر ځای کولو لپاره کارول کیږي. آډیو/ليد سره مجهز خونې: د غږ/ليد او انټرنیټ میشته لارښوونو لپاره مجهزې خونې د کمپیوټر روزنې خونې: د هر زده کونکي لپاره د کمپیوټر کاري سټیشنونو او انټرنیټ لاسرسي سره سمبال خونه.

۳ . کتابتون: د سلام پوهنتون مرکزي کتابتون له ۷۰۰۰ څخه ډېر کتابونه لري، چې پکې ټول د درسي نصاب کتابونه، تخصصي او عمومي منابع شامل دي. د نوي تعلیمي کتابونو او معتبرو حوالهيي منابعو وروستۍ نسخې په دوامداره توګه د کتابتون ټولګي ته اضافه کیږي، تر څو د زده‌کوونکو، استادانو او څېړونکو علمي او تحقیقي اړتیاوې پوره کړي. په د اداره او تجارت برخه کې، کتابتون ۲۵۹۸ عنوانه منابع لري، چې له دې جملې څخه ۱۶۳۷ چاپي کتابونه او ۹۶۱ الکترونیکي منابع د زده‌کوونکو او څېړونکو په لاسرسي کې دي. سربېره پر دې، د سلام پوهنتون خپل ډیجیټل کتابتون لري، چې له ۴۰۰۰ څخه زیاتو علمي ژورنالونو او ۱۰،۰۰۰ برقي کتابونو ته لاسرسی برابروي. همدارنګه، د اداره او تجارت برخه د زده‌کوونکو او کارمندانو لپاره د د درسي کتابونو، تعلیمي منابعو او سټیشنري توکو د برابرولو په موخه خپل جلا کتاب پلورنځی لري، او دغه سیستم د نورو پوهنځیو زده‌کوونکو او کارمندانو لپاره هم پلي کیږي.

۴ . کمپیوټر او انټرنیټ: د سلام پوهنتون د تعلیمي کارونې د موخې لپاره د اصلي کیمپس په اوږدو کې یو شمیر کمپیوټر لابراتوارونه جوړ کړي دي. په کتابتون کې هم د عمومي تعلیمي کارونې لپاره کمپیوټرونه شتون لري. د دې برنامه سربیره لابراتوارونه هم چمتو شوي دي کوم چې د دوی ځانګړي اړتیاو لپاره تنظیم شوي.

کافي موده

دسوداګرۍ اداري د لیسانس پروګرام په داسې توګه تنظیم شوی چې دټاکلي نصاب د تدریس لپاره به کافي وخت ولري.

که د هر ډول ستونزې له امله تدریسي کریډیټونه ضایع شي، نو دا زیان به د کورس په جریان کې هرومرو جبرانېږي. شل فیصده ازموینې به په داسې ډول تنظیمېږي چې ټول ټاکل شوي تدریسي ساعتونه یوازې تدریس ته ځانګړي پاتې شي او د تدریس د مهالویش د خنډ باعث ونه ګرځي.

د سوداګرۍ اداري د لیسانس پروګرام د رسمي درسي وخت څخه علاوه د محصلینو د مسلکي ودې او د عملي مهارتونو د لوړولو په موخه ښلا ښل پروګرامونه لري، د ښلګې په توګه د عملي نندارتونو چمتو کول، عملي ساحو ته لېږل، د محصلینو ترمنځ رقابتي پروګرامونه چمتو کول او داسې نور.

د سوداګرۍ اداري د لیسانس پروګرام درسونه به په اوونۍ کې (٦) ورځو پورې ترسره کېږي، چې د هرې ورځې درسي ساعتونه به لږ تر لږه (٦) کریډیټه او ډېر نه ډېر (٩) کریډیټه وي. همداراز، د درسي ساعتونو ترمنځ او د لمانځه لپاره وقفه به په پام کې نیول کېږي.

د ټاکل شوو مفرداتو مطابق د درسي کتابونو او محتوا د تدوین اصول او معیارونه

١. درسي محتوا باید د اسلامي اصولو، دیني او ملي ارزښتونو ته په پام سره داسې ترتیب شي چې موضوعات او بڼه یې د شرعي احکامو او د حنفي فقهې سره سمون ولري، اداري سیستم، نومونه او اصطلاحات یې فساد ته لاره نه هواروي او د شرعي روحیې او اهدافو سره په ټکر کې نه وي.
٢. درسي محتوا باید داسې ترتیب شي چې د ديني اصالت مطابق وي او دنیاوي اړتیاوو او عصریتوب ته هم پکې پاملرنه وشي، د ټولو علومو او فنونو وروستي لاسته راوړنې او نوښتونه پکې ځای شي، او نړیوال معیارونه چې د شرعي احکامو سره په ټکر کې نه وي هم پکې په پام کې ونیول شي.
٣. زده کړې د انسان فطرت تکمیلوي، ښو صفاتو ته وده ورکوي، او په پایله کې د اخلاص، تقوا، عبادت، اسلامي وروروليۍ، یووالي، خواخوږۍ، خدمت، درناوي او ایثار روحیه پیاوړې کوي. په حقیقت کې زده کړې راتلونکی نسل داسې روزي چې د هېواد او ټولنې لپاره یو نمونه او مقتدا وګرځي. له همدې امله، درسي محتوا او مواد باید داسې ترتیب شي چې له یوې خوا دا اړتیاوې پوره کړي او له بلې خوا، علم د مادي شتمنیو د راټولولو پر ځای، د یو فضیلت په توګه د زده‌کوونکو په ذهنونو کې ځای پر ځای کړي.
٤. د ساینسي، ټولنیزو، ادبي او بشري علومو درسي محتوا باید داسې ترتیب شي چې عقیدوي، فکري او اخلاقي برخې یې د اسلامي عقیدې او اخلاقي نظامونو سره سمون ولري، د هغې بنسټونه، سرچینې او ځانګړتیاوې د اسلامي شریعت مطابق وي. همداراز، د حقوقو، اقتصاد، سیاست، اداره، مدیریت، پالیسي، قانون، انسان‌پوهنې، ټولنپوهنې، اړواپوهنې، هنر او روزنیزو علومو محتوا باید د حنفي فقهې مطابق وي.
٥. د ټولنیزو او ادبي علومو درسي محتوا باید داسې ترتیب شي چې د اسلامي علومو، فنونو، تاریخ، کلتور، ارزښتونو، ویاړونو او شخصیتونو اړوند بسیا او مستند معلومات ولري، او د نړۍ د مادي او معنوي پرمختګ په دواړو برخو کې د مسلمانانو رول

څرګند کړي. محصلينو ته بايد داسې احساس ورکړي چې اسلام يو کامل او شامل دين دی، چې د ژوند په ټولو برخو کې ځانګړي نظامونه، اصول او لارښوونې لري، کوم چې په هر وخت او هر ځای کې د عمل وړ او تطبيقېدونکي دي.

٦. درسي محتوا بايد داسې ترتيب شي چې محصلين مستقيم له لرغوني يونان څخه د نشأة ثانيه (رنسانس، د لويديځ دوهم ځل پرمختګ) پراو ته ونه‌کښل شي او داسې تلقين ورته ونه‌شي چې ګويا ټوله نړۍ د منځنيو پېړيو (قرون وسطى) پر مهال په تياره کې وه. ځکه حقيقت داسې نه و، دا دوره يوازې د لويديځوالو لپاره تياره وه، حال دا چې مسلمانانو په همدې دوران کې سترې علمي او تجربوي لاسته راوړنې درلودې، چې تاريخ يې شاهد دی.

٧. د ساينسي او تجربوي علومو درسي محتوا بايد داسې ترتيب شي چې د علمي حقايقو، ساينسي واقعيتونو، اټکلونو او فرضيو ترمنځ روښانه تفکيک وشي. ځکه هغه موارد چې پر حقايقو ولاړ وي،د اسلام خلاف نه دي،خو اټکلونه او قياسونه کېدای شي د اسلام سره ټکر ولري. استادان او مؤلفين بايد د قرآن کريم هغه آيتونه، چې د کايناتو په اړه دي،د ساينسي اټکلونو او فرضيو د تاييد لپاره بې‌ځايه استعمال نه کړي. ځکه دا کار نه يوازې قرآن ته کوم خدمت نه کوي،بلکې دا اټکلونه ناسم ثابتېدای شي،او د قرآن کريم په اړه شکونه رامنځته کولی شي.

٨. د ساينسي او تجربوي علومو نصاب بايد د تاريخي پس منظر له مخې د مسلمانو علمي شخصيتونو رول وښيي، او دا روښانه کړي چې مسلمانانو عالمانو د نړۍ لپاره د تجربې او علمي تحقيق اصول وضع کړل، او د لويديځ او اروپا تحقيقات هم د همدې اصولو پر بنسټ ولاړ دي.

٩. د طبيعي او ساينسي علومو په هغه مواردو کې، چې له کايناتو، طبيعي پېښو او آفتونو سره تړاو لري، بايد يوازې مادي اړخ ته اشاره ونه‌شي، بلکې الهي او شرعي اړخ يې هم وخېړل شي.

١٠. د ساينس، طبيعي علومو، ژبو او نورو اړينو علومو او فنونو درسي کتابونه بايد داسې ترتيب شي، چې د دې علومو اړوند د نورو ملتونو له تجربو ګټه واخيستل شي، خو عقيدوي، فکري او کلتوري مسايل انتقال نه‌شي.

د درسي نصاب ځانګړتياوې

د يو پروګرام تحصيلی نصاب بايد لاندې ځانګړتياوې ولري، چې په ترتيب سره د نصاب په بسته کې ذکر شوي وي:

١ . د يادې شوي پروګرام نصاب د اسلامي شريعت او ملي او ديني ارزښتونو پر بنسټ تدوين شوی دی.
٢ . په يادې شوې نصاب کې، د شرعي احکامو او اسلامي قوانينو په رعايت سره، د اړوندې رشتې متناسب نړيوال معيارونه په پام کې نيول او کارول شوي دي.
٣ . د دغه پروګرام درسي مفردات او منابع د همدې رشتې د متخصص استادانو له خوا، چې د دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې لري، د نوې او بااعتباره علمي منابعو پر بنسټ ترتيب او تهيه شوي دي».

تحصيلي ستراتيژي

الف: د پروګرام موده

د سوداګری اداری ليسانس د برنامه نصاب به لږترلږه په ٤ او حد اکثر په ٧ کلونو کي تدريس شی چی اته سمسترونه پکی شامل دی. لومړی سمستر يوه اساسي دوه مسلکي او دره ټول شمول لري. دوهم سمستر دوه اساسی دره مسلکي او دوه ټول شمول لري. دريم سمستر دوه اساسی دره مسلکي او دوه ټول شمول لري. څلورم سمستر يوه اساسي پنځه مسلکي او يوه ټول شمول لري. پنځم سمستر اشپږ مسلکي او يوه ټول شمول لری. اووم سمستر پنځه مسلکی او يوه ټول شمول لری. اتم سمستر څلور مسلکي او يوه ټول شمول لري.

ب: د مضامينو کټګوري

د سوداګرۍ اداري د ليسانس برنامې نصاب په ۱۰ اساسي مضمونونه، ۲۶ مسلکي مضمونونه ، ۲ انتخابي مضمونونه، ۱۸ ټول شموله مضمونونه او ۲ پايان‌نامه مضمونونه لري. کې ۱۵۳ کريډټونه کيږي.

1. د اساسي مضامينو جدول

شمیره	د مضمون نوم			کود	کریدیت
	پښتو	دري	English		
۱	اساسی ریاضی	ریاضی اساسی	Basic Math	B.BA.0122	۳
۲	سوداګرۍ ریاضی	ریاضی تجارتی	Business Mathematics	B.BA.0223	۳
۳	د مدیریت اساسات	اساسات مدیریت	Principles of Management	B.BA.0227	۳
۴	کوچنی اقتصاد	اقتصاد خُرد	Microeconomics	B.BA.0232	۳
۵	سوداګریز روابط	ارتباطات تجارتی	Business Communication	B.BA.0321	۳
٦	تشريحي احصائيه	احصائیه توصیفی	Descriptive Statistics	B.BA.0324	۳
۷	لوي اقتصاد	اقتصاد کلان	Macroeconomics	B.BA.0334	۳
۸	اټکلي احصائيه	احصائیه استنباطی	Inferential Statistics	B.BA.0425	۳
۹	پيسې او بانکداري	پول و بانکداری	Money and Banking	B.BA.0436	۳
۱۰	نړيواله سوداګرۍ	تجارت بین المللی	International Business	B.BA.0647	۳
				ټول کريډيټونه	**۳۰**
				فيصدي	۱۹.٦۱٪

۲. د مسلکي مضامينو جدول

شمیره	د مضمون نوم			کودِ	کریدیت
	پښتو	دري	English		
۱	مالي محاسبه- ۱	محاسبه مالی- ۱	Financial Accounting –I	B.BA.0126	۳
۲	د سوداګرۍ معرفي	معرفی تجارت	Introductions to Business	B.BA.0128	۳
۳	مالي محاسبه- ۲	محاسبه مالی- ۲	Financial Accounting –II	B.BA.0226	۳
۴	د بازار موندنې اساسات	اصول بازاریابی	Principles of Marketing	B.BA.0329	۳
۵	مصرفي محاسبه	محاسبه مصرفی	Cost Accounting	B.BA.0335	۳
٦	د بازار موندني مديريت	مدیریت بازاریابی	Marketing Management	B.BA.0437	۳
۷	د سوداګرۍ مالي تمويل	تمویل مالی تجارت	Business Finance	B.BA.0439	۳
۸	سوداګريز اخلاق	اخلاق تجارت	Business Ethics	B.BA.0452	۳
۹	د سوداګرۍ حقوق	حقوق تجارت	Business Law	B.BA.0538	۳
۱۰	د بشري سرچينو مديريت	مدیریت منابع بشری	Human Resource Management	B.BA.0540	۳

۱۱	مالي مديريت	مدیریت مالی	Financial Management	B.BA.0541	۳
۱۲	کوچني او منځني کاروبارونه	تشبثات کوچک و متوسط	Small and Medium Enterprises	B.BA.0542	۳
۱۳	مالي بازارونه او ادارات	بازارها و موسسات مالی	Financial Market and Institutions	B.BA.0543	۳
۱۴	د افغانستان اقتصاد	اقتصاد افغانستان	Afghanistan Economy	B.BA.0631	۳
۱۵	تشبثات	کارآفرینی	Entrepreneurship	B.BA.0644	۳
۱۶	ستراتیژیک مدیریت	مدیریت استراتژیک	Strategic Management	B.BA.0645	۳
۱۷	مالی تفتیش	تفتیش مالی	Auditing	B.BA.0646	۳
۱۸	اداري چلند	رفتار سازمانی	Organizational Behavior	B.BA.0648	۳
۱۹	د پروژې مدیریت	مدیریت پروژه	Project Management	B.BA.0749	۳
۲۰	دحسابداری معلوماتي سیستمونه	سیستم های معلومات حسابداری	Accounting Information System	B.BA.0751	۳
۲۱	د پانګونې مدیریت او د پورټفولیو تحلیل	تحلیل پرتفولیو و سبد سرمایه گذاری	Investment & Porotfolio Analysis	B.BA.0754	۳
۲۲	د بدلون مدیریت	مدیریت تغییر	Change Management	B.BA.0755	۳
۲۳	د شرکت مالي امور	امور مالی شرکت ها	Corporate Finance	B.BA.0856	۳
۲۴	رهبری	رهبری	Leadership	B.BA.0857	۳
۲۵	نړیوال مالي مدیریت	مدیریت مالی بین المللی	International Financial Management	B.BA.0858	۳
۲۶	اسلامی بانکداري او مالي	مالی و بانکداری اسلامی	Islamic Banking & Finance	B.BA.0859	۳
				ټول کریډیټونه	**۷۸**
				فیصدي	۵۰.۹۸٪

۳. د انتخابی مضامینو جدول

شمیره	د مضمون نوم			کوډ	کریډیټ
	پښتو	دري	English		
۱	ټولنپوهنه	جامعه شناسی	Sociology	B.BA.0453	۲
۲	روانشناسي	روانشناسی	Psychology	B.BA.0533	۲
				مجموعه	**۴**
				فیصدی	۲.۶۱٪

٤. ټول شموله مضامینو جدول

شمیره	د مضمون نوم			کوډ	کریډیټ
	پښتو	دري	English		
١	د اسلام اعتقادي نظام	نظام اعتقادی اسلام	Islamic Belief System	SL.IC.0171	٢
٢	تلاوت او تجوید	تلاوت و تجوید	Recitation & Tajwid	SL.IC.0172	١
٣	د اسلام د عبادتي نظام	نظام عبادتی اسلام	Worship system in Islam	SL.IC.0273	٢
٤	سیرت	سیرت	Biography	SL.IC.0274	٢
٥	د اسلام اخلاقي نظام	نظام اخلاقی اسلام	Islamic Moral System	SL.IC.0375	٢
٦	د اسلام ټولنیز نظام	نظام اجتماعی اسلام	Islamic Social System	SL.IC.0376	٢
٧	فکری روزنه	تربیه فکری	Intellectual Training	SL.IC.0477	٢
٨	ادیان او مذاهب	ادیان و مذاهب	Religions and Denominations	SL.IC.0478	١
٩	د اسلام سیاسي نظام	نظام سیاسی اسلام	Islamic Political System	SL.IC.0579	٢
١٠	د اسلام اداري نظام	نظام اداری اسلام	Islamic Administrative System	SL.IC.0580	٢
١١	د اسلام اقتصادي نظام	نظام اقتصادی اسلام	Islamic Economic System	SL.IC.0681	٢
١٢	قرآن او معاصر علوم	قرآن و علوم معاصر	Quran and Contemporary Science	SL.IC.0782	٢
١٣	اسلامي تمدن	تمدن اسلامی	Islamic Civilization	SL.IC.0883	٢
١٤	د افغانستان تاریخ	تاریخ افغانستان	History of Afghanistan	B.BA.0314	٢
١٥	انګلیسی ژبه- ١	زبان انگلیسی- ١	English Language-I	B.BA.0115	٢
١٦	د کمپیوتر اساسات	اساسات کمپیوتر	Computer Basics	B.CS.0102	٣
١٧	انګلیسی ژبه- ٢	زبان انگلیسی- ٢	English Language-II	B.BA.0220	٢
١٨	د محیط زیست اساسات	اساسات محیط زیست	Environmental Science Basics	B.BA.0217	٢
				ټول کریدیتونه	**٣٥**
				فیصدی	٢٢.٨٨٪

٥. مونوګراف

شمیره	د مضمون نوم			کوډ	کریدیت
	پښتو	دري	English		
١	د سوداګرۍ څېړنې میتودونه	روش های تحقیق تجاری	Business Research Methods	B.BA.0750	٣
٢	مونوګراف	پایانامه	Monograph	B.BA.0850	٣
				مجموعه	٦
				فیصدی	٣.٩٢٪

٦. د پروګرام د عمومي جدول جوړښت

ښيې	د مختلفو کټګوريو مضامين	د کريډيټونو شمېر	د کريډيټونو شمېر په فيصدۍ کې
١	د اساسي مضامينو کريډيټونو شمېر	٣٠	١٩.٦١٪
٢	د مسلکي مضامينو کريډيټونو شمېر	٧٨	٥٠.٩٨٪
٣	ټول شموله مضامينو کريډيټونو شمېر	٣٥	٢٢.٨٨٪
٤	انتخابي مضامينو کريډيټونو شمېر	٤	٢.٦١٪
٥	د مونوګراف کريډيټونو شمېر	٦	٣.٩٢٪
	د ټول کريډيټونو مجموعي شمېر	**١٥٣**	**١٠٠٪**

ج: د مضمون د کود پيژندنه

د مضامينو کوډونه: ټولو مضامينو ته کوډونه د پوهنتون د کريديت د سيستم د پاليسۍ مطابق ورکړای شوي دي.

(**B.BA.0101**) کوډ په لاندې دول تشريح شوی دی.

(**B**) دا حروف هدف د ليسانس پروګرام دی.

(**BA**) دا دوه حروف هدف د سوداګرۍ د اداري ډيپارټمنټ ده.

(**01**) دا دوه عدده هدف لومړنی سمستر دی.

(**01**) دا اخري عدده هدف د مضمون نمبر دی.

د: د تدريس او زده کړې ميتودولوژي / کړنلاره

د تدريس طريقې په لاندې برخو ويشل شويدې:

١. استاذ محوره طريقه

٢. شاګرد محوره طريقه

٣. په تکنالوجي متمرکزه طريقه

(Students Centered Learning/ Outcome Based Education, E-Learning)

٤. لکچرونه وړاندې کول، سپينه تخته، ملټي ميډيا پريزنټشنونه او کتابونه

٥. دمحصل محوري ميتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه

٦. کورنۍ دندې، ډله ايز بحث، د قضيې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې

٧. ازموينه، کوئز، پريزنټشنونه، د سمولو تمرينونه (د رول لوبول)، د کورس اړوند مستند فلمونه / ويډيو زده کړه

ه: د زده کوونکو ارزونه

۱ . د شاګرد د ارزونې اصول په لاندې ډول دي.

حاضري او صنفي فعاليت	۱۰ نمره
کورنۍ دندې او پريزينټيشن، عملي دندې	۱۰ نمره
د نيمه سمستر ازموينه	۲۰ نمره
د اخري سمستر ازموينه	٦۰ نمره

۲ . زده کوونکي د لاندې اصولو په اساس ارزيابي کيږي.

- د سمستر په پيل کې زده کوونکو سره د ارزونې معيارونه / اصول شريکيږي تر څو په هغه اصولو او مشخصاتو پوه شي د کوم په واسطه چې د دوی درجه بندي کيږي.
- يو زده کوونکی بايد په هر مضمون کې ٪٦۰ نمرې ولري او کم تر کم بايد د ټولو مضامينو سلنه ئی ٦٥ که يو شاګرد په يو مضمون کې ناکام شي نو نوموړی شاګرد به هغه کورس تکراروي.
- که چيرته يو زده کوونکی په تولو مضامينو کی ٪٦٥ نمرې ترلاسه نه کړي نو هغه به د علمي څارنې لاندې نيول کيږي.
- که چيرته يو زده کوونکی په دوو پرله پسې سمسترونو کی د کمترينو ضروریاتو په ترلاسه کولو بريالی نشي نو د نوموړې برنامې نه به اخراجيږي.

۳ . په اخره کې د زده کوونکي درجه بندي په لاندې ډول کيږی.

درجه	سطحه	فيصدی
A	اعلی	٪ ۱۰۰ - ۹۰
B	ډير ښه	٪ ۸۹ - ۸۰
C	ښه	٪ ۷۹ - ۷۰
D	مناسب	٪ ٦۹ – ٥٥
F	ناکام	٪ ٥٥ کم ناکام

دویمه برخه: د سمستروار مضامینو جدولونه

الف: د مضامینو سمستروار جدول په پښتو ژبه

کال (اول) سمستر (اول)									
ګڼه	مضمون	کوډ	د مضمون کټګوري	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
					نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
۱	انګلیسی ژبه-۱	B.BA.0115	ټول شموله	۲	۱	۲		۳	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	نه لري	
۲	د کمپیوټر اساسات	B.CS.0102	ټول شموله	۲	۱	۲		۳	د کمپیوټر ساینس ډیپارټمنټ	نه لري	
۳	مالي محاسبه-۱	B.BA.0121	مسلکي	۳	۱	۴		۵	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	نه لري	
۴	اساسي ریاضي	B.BA.0122	اساسی	۳	۱	۴		۵	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	نه لري	
۵	د سوداګرۍ پیژندنه	B.BA.0128	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	نه لري	
٦	د اسلام اعتقادي نظام	SL.IC.0171	ټول شموله	۲	۲	۰		۲	د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ	نه لري	
۷	تلاوت او تجوید	SL.IC.0172	ټول شموله	۱	۰	۲		۲	د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ	نه لري	
ټولټال				۱٦	۸	۱٦		۲۴			

د انتخابي مضمونونو څانګړنې									
ګڼه	مضمون	کوډ	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
				نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
ټولټال										

کال (اول) سمستر (دویم)										
ګڼه	مضمون	کوډ	د مضمون کټګوري	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
					نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
۱	انګلیسی ژبه - ۲	B.BA.0220	ټول شموله	۲	۱	۲		۳	د سوداګری اداري دیپارټمنټ	انګلیسی ژبه	
۲	مالي محاسبه- ۲	B.BA.0226	مسلکي	۳	۱	۴		۵	د سوداګری اداري دیپارټمنټ	مالي محاسبه ۱	
۳	د مدیریت اساسات	B.BA.0227	اساسي	۳	۲	۲		۴	د سوداګری اداري دیپارټمنټ	نلري	
۴	د سوداګرۍ ریاضي	B.BA.0223	اساسي	۲	۱	۲		۳	د سوداګری اداري دیپارټمنټ	اساسی ریاضی	
۵	کوچنی اقتصاد	B.BA.0232	اساسي	۳	۲	۲		۴	د سوداګری اداري دیپارټمنټ	د سوداګرۍ پیژندنه	
٦	د اسلام د عبادت نظام	SL.IC.0273	ټول شموله	۲	۲	۰		۲	د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ	نلري	
۷	د چاپیریال علوم اساسات	B.BA.0217	ټول شموله	۱	۲	۰		۲	د سوداګری اداري دیپارټمنټ	نلري	
۸	سیرت	SL.IC.0274	ټول شموله	۲	۲	۰		۲	د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ	نلري	
ټولټال				۱۸	۱۳	۱۲		۲۵			

د انتخابي مضمونونو څانګړنې									
ګڼه	مضمون	کوډ	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
				نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
ټولټال										

کال (دویم) سمستر (دریم)										
ګڼه	مضمون	کوډ	د مضمون کټګوري	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
					نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
۱	سوداګریزې اریکې	B.BA.0321	اساسي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	د سوداګرۍ پیژندنه	
۲	تشریحي احصائیه	B.BA.0324	اساسي	۳	۱	۴		۵	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	نلري	
۳	لوي اقتصاد	B.BA.0334	اساسي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	کوچنی اقتصاد	
۴	د بازار موندنې اساسات	B.BA.0329	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	د سوداګرۍ پیژندنه	
۵	مصرفي محاسبه	B.BA.0335	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	مالي محاسبه ۲	
٦	د افغانستان تاریخ	B.BA.0314	ټول شموله	۱	۱	۰		۱	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	نلري	
۷	د اسلام اخلاقي نظام	SL.IC.0375	ټول شموله	۲	۲	۰		۲	د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ	نلري	
۸	د اسلام ټولنیز نظام	SL.IC.0376	ټول شموله	۲	۲	۰		۲	د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ	نلري	
ټولټال				۲۰	۱۴	۱۲		۲٦			

د انتخابي مضمونونو څانګړنې									
ګڼه	مضمون	کوډ	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
				نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
ټولټال										

کال (دویم) سمستر (څلورم)									
ګڼه	مضمون	کوډ	د مضمون کټګوري	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
					نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
۱	پیسي او بانکداري	B.BA.0436	اساسي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	لوي اقتصاد	
۲	د بازار موندني مدیریت	B.BA.0437	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	د بازار موندنې اساسات	
۳	اټکلي احصائیه	B.BA.0425	اساسي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	تشریحي احصائیه	
۴	سوداګریز اخلاق	B.BA.0452	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	سوداګریزې اریکې	
۵	د سوداګرۍ تمویل	B.BA.0439	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	مصرفي محاسبه	
٦	ټولنپوهنه	B.BA.0453	انتخابی	۲	۱	۲		۳	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	نلري	
۷	فکرۍ روزنه	SL.IC.0477	ټول شموله	۲	۲	۰		۲	د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ	نلري	
۸	دینونه او مذهبونه	SL.IC.0478	ټول شموله	۱	۱	۰		۱	د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ	نلري	
ټولټال				۲۰	۱۴	۱۲		۲٦			

د انتخابي مضمونونو څانګړنې									
ګڼه	مضمون	کوډ	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
				نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
۱	ټولنپوهنه	B.BA.0453	۲	۱	۲		۳	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	نلري	
ټولټال			۲	۱	۲		۳			

کال (درېیم) سمستر (پنځم)									
ګڼه	مضمون	کوډ	د مضمون کټګوري	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
					نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
۱	د بشري سرچینو مدیریت	B.BA.0540	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري دیپارټمنټ	د مدیریت اساسات	
۲	د سوداګرۍ حقوق	B.BA.0538	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري دیپارټمنټ	د سوداګرۍ پیژندنه	
۳	مالي مدیریت	B.BA.0541	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري دیپارټمنټ	د سوداګرۍ تمویل	
۴	کوچني او منځني کاروبارونه	B.BA.0542	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري دیپارټمنټ	کوچنی اقتصاد	
۵	روانشناسي	B.BA.0533	انتخابی	۲	۱	۲		۳	د سوداګرۍ اداري دیپارټمنټ	نلري	
٦	مالي بازارونه او ادارات	B.BA.0543	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري دیپارټمنټ	پیسي او بانکداري	
۷	د اسلام سیاسي نظام	SL.IC.0579	ټول شموله	۲	۲	۰		۲	د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ	نلري	
۸	د اسلام اداري نظام	SL.IC.0580	ټول شموله	۲	۲	۰		۲	د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ	نلري	
ټولټال				۲۱	۱۵	۱۲		۲۷			

د انتخابي مضمونونو څانګړې									
ګڼه	مضمون	کوډ	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
				نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
۱	روانشناسي	B.BA.0533	۲	۱	۲		۳	د سوداګرۍ اداري دیپارټمنټ	نلري	
ټولټال			۲	۱	۲		۳			

کال (درېیم) سمستر (شپږم)										
ګڼه	مضمون	کوډ	د مضمون کټګوري	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
					نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
۱	تشبثات	B.BA.0644	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	د بازار موندنې مدیریت	
۲	ستراتیژیک مدیریت	B.BA.0645	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	مالي بازارونه او ادارات	
۳	تفتیش	B.BA.0646	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	مالي بازارونه او ادارات	
۴	نړیواله سوداګرۍ	B.BA.0647	اساسي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	مالي مدیریت	
۵	اداري رفتار	B.BA.0648	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	مالي بازارونه او ادارات	
٦	د افغانستان اقتصاد	B.BA.0631	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	نلري	
۷	د اسلام اقتصادي نظام	SL.IC.0681	ټول شموله	۲	۲	۰		۲	د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ	نلري	
ټولټال				۲۰	۱۴	۱۲		۲٦			

د انتخابي مضمونونو څانګړنې									
ګڼه	مضمون	کوډ	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
				نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
ټولټال										

کال (څلورم) سمستر (اووم)									
ګڼه	مضمون	کوډ	د مضمون کټګوري	د کریډیټونو شمیر	اونیز درسي ساعتونه				د تدریس مسؤوله څانګه	مخ اړي مضمونونه	کتنې
					نظري	عملي	ساحوي	ټولټال			
۱	د پروژې مدیریت	B.BA.0749	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	مصرفي محاسبه	
۲	د پانګونې مدیریت او د پورټفولیو تحلیل	B.BA.0754	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	مالي مدیریت	
۳	د بدلون مدیریت	B.BA.0755	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	نلري	
۴	د څېړنې میتودونه	B.BA.0750	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	نړیواله سوداګرۍ	
۵	د حسابداری معلوماتي سیستمونه	B.BA.0751	مسلکي	۳	۲	۲		۴	د سوداګرۍ اداري ډیپارټمنټ	مالي مدیریت	
- د اسلامي اخلاقي نظام اصلي سرچينې (قرآن، سنت، عقل او اجماع) وپېژني.
- له اسلامي ليدلوري د فضيلتونو او رذيلتونو (اخلاقي ښېګڼو او بديو) وېش ودرکوي.
- د نيت او اخلاص مقام د اخلاقي اعمالو په ارزښت کې وپېژني.
- مهمې فردي اخلاقي فضيلتونه لکه رښتينولي، امانت، تقوا، صبر او زړورتيا وپېژني.
- مهمې ټولنيزې اخلاقي ښېګڼې (لکه عدالت، احسان، ايثار، تواضع او د وعدې وفا) درک کړي.
- د کورنۍ په چاپېريال کې د اخلاقي اړيکو (د مور او پلار، مېرمن او اولاد حقونه) سره آشنا شي.
- د اسلامي ټولنيز چلند آداب او د انساني اړيکو اصول وپېژني.
- د اسلامي اخلاقو د روزنې طريقې (مراقبه، محاسبه نفس او مجاهده) درک کړي.
- د اخلاقو رول د اسلامي ټولنې په جوړښت او د نړيوالو اړيکو په سمون کې تحليل کړي.
- د اخلاقي روزنې خنډونه لکه د نفس غوښتنې، شيطاني وسوسې او ناسالم چاپېريال وپېژني.
- وکړای شي د اسلامي اخلاقو اصول په ورځنۍ ژوند کې تطبيق کړي او د معاصرو اخلاقي ستونزو لپاره عملي حل لارې وموميي.

د تدريس او زده کړې طريقې

- لکچرونه وړاندې کول، سپينه تخته، ملټي ميډيا پريزنټشنونه او کتابونه.
- دمحصل محوري ميتود له مخې ددرسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.
- کورنۍ دندې، ډله ايز بحث، د قضيې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې.
- ازموينه، کوئز، پريزنټشنونه، د سمولو تمرينونه (د رول لوبول)

د محصلانو د ارزونې طريقه

- صنفي فعاليت او حاضري (۱۰ %)
- کورنۍ وظيفه (۱۰ %)
- د سمستر منځنۍ ازموينه (۲۰ %)
- د سمستر وروستۍ ازموينه (٦۰ %)

د مضمون درسي مفردات: (فصلونه او فرعي عنوانونه)

لومړی څپرکی: د اخلاقو پيژندنه او اسلامي نظام

- د اخلاقو لغوي معنا، د اخلاقو اصطلاحي تعريف، د اخلاقو نظام تعريف
- د اسلام د اخلاقي نظام مفهوم، د اسلامي اخلاقي نظام اهميت او اهداف
- د اسلامي اخلاقي نظام فلسفه او اساسات، د اسلامي اخلاقي نظام مصادر او ځانګړتياوې
- د عقايدو، عباداتو او معاملو سره د اسلامي اخلاقي نظام تړاو

دوهمه څپرکی: د اخلاقو ډولونه او د ځان ژغورنه

- د اخلاقو ډولونه
- طبعي او کسبي اخلاق، حسنه او سيئه اخلاق، فردي او اجتماعي اخلاق
- د حسنه اخلاقو د خپلولو او له سيئه اخلاقو د ځان ژغورنې لارې چارې

دريمه څپرکی: د نفس پېژندنه او تزکيه

- د نفس او نفيس غرايزو پېژندنه او کنټرول، د نفس د مراتب پېژندنه: أماره، لوامه، مطمئنه
- له اسلامي اخلاقو څخه د انحراف لاملونه، د نفس تزکيه: مشارطه، مراقبه، محاسبه، مواخذه
- د فاسدو ټولنو پېژندنه او د ځان ژغورنه

څلورمه څپرکی: غوره فردي اخلاق

- اخلاص: لغوي معنا او اصطلاحي تعريف، حکم، ګټې او لارې چارې
- توکل، تقوا، تواضع، صبر، شجاعت
- حياء او عفت، سخاوت، صداقت او امانت، پر وعده وفا، عفوه او بخښنه، شفقت او ترحم، محبت

پنځمه څپرکی: غوره اجتماعي اخلاق

- عدالت، تسامح، صله رحمي، ايثار او قرباني
- احترام او شفقت، احسان او تعاون، مېلمه پالنه، د استاذانو احترام، له والدينو، ګاونډيانو او ټولنې سره ښه چلند

شپږمه څپرکی: سيئه اخلاق او د هغوی مخنيوی

- فردي ناوړه اخلاق: ريا او سمعه، فسق او فجور، دروغ، غصب، بخل، حسد
- نور ناوړه اخلاق: تکبر، سوء ظن، تعصب، اسراف، حب دنيا، چاپلوسي، تجسس، عيب جويی، استهزاء، ظلم، خيانت، غيبت، فحشاء
- د رسول الله صلی الله عليه وسلم او راشده خلفاوو د اخلاقو څو بيلګې
- د حاکمانو او چارواکو اسلامي اخلاق: اخلاص، تقوی، عدالت، صداقت، نظم، شجاعت، صبر، تواضع، مساوات، د مشکلاتو حل، شورا، اصلاح، لوړه حوصله او همت

د (اسلام اخلاقي نظام) مضمون اونيز پلان

اونۍ	منځپانګه	اونيز درسي ساعتونه			
		ټولټال	نظري	عملي	ساحوي
لومړۍ	د اخلاقو لغوي معنا د اخلاقو اصطلاحي تعريف د اخلاقو نظام تعريف. د اسلام د اخلاقي نظام مفهوم د اسلامي اخلاقي نظام اهميت اواهداف د اسلامي اخلاقي نظام فلسفه او اساسات د اسلامي اخلاقي نظام مصادر د اسلامي اخلاقي نظام ځانګرتياوې	۲	۲		

دوهمه	عقايدو سره اسلامي اخلاقي نظام تړاو عباداتو سره د اسلامي اخلاقي نظام تړاو معاملاتو سره د اسلامي اخلاقي نظام تړاو د اخلاقو ډولونه اول تقسيم : طبعي اوکسبي اخلاق او بېلګې يې دوهم تقسيم : حسنه اوسيئه اخلاق اوبېلګې يې دريم تقسيم : فردي اواجتماعي اخلاق او بېلګې يې	۲	۲		
دريمه	دحسنه ااخلاقو د خپلولواو له سيئه اخلاقوځخه د ځان ژغورنې لارې چارې د نفس او نفيس غرايزو پېژندنه او کنټرول دنفس دمراتبو پېژندنه الف (أماره نفس ب (لوامه نفس ج(مطمئنه نفس له اسلامي اخلاقو ځخه د انحراف لاملونه	۲	۲		
خلورمه	(دنفس تزکيه الف (مشارطه ب (مراقبه ج (محاسبه د (مواخذه دفاسدو ټولنو پېژندنه او دځان ژغورنه	۲	۲		
پنځمه	غوره فرديااخلاق اخلاص لغوي معناواصطلاحي تعريف داخلاص حکم اخلاص د قرآن کريم او احاديثو په رڼا کې اخلاص د آثارو او علماوکرامو داقوالو په رڼا کې د اخلاص ګټې او د اخلاص دخپلولو لارې چارې توکل، تقوا،تواضع، صبر، شجاعت	۲	۲		
شپږمه	حياء اوعفت، سخاوت، صداقت او امانت، پر وعده وفا، عفوه او بخښنه، شفقت او ترحم، محبت	۲	۲		
اووه	غوره اجتماعي اخلاق. عدالت، تسامح،صله رحمي، ايثار او قرباني، احترام او شفقت، احسان او تعاون، مېلمه پالنه، د استاذانو احترام، له والدينو سره ښه چلند له ګاونډيانو سره ښه چلند	۲	۲		
اته	سيئه اخلاق. فردي ناوړه اخلاق. ريا اوسمعه لغوي معنا صطلاحي تعريف. د ريا او سمعې حکم ريا او سمعه د قرآن کريم او احاديثو په رڼا کې ريا او سمعه د آثارو او د علماء کرامو د اقوالو په رڼا کې د ريا او سمعې زيانونه او ترې دخلاصون لارې چارې فسق او فجور، عداوت، تکبر، دروغ، غضب،جبن	۲	۲		
نهمه	بخل، حسد، سوء ظن او بدګماني، تعصب، اسراف اوتبذير،حب دنيا	۲	۲		
لسمه	متلق او چاپلوسي، تجسس، عيب جويي، استهزاء او تمسخر، ظلم، خيانت او غدر، غيبت، فحشاء	۲	۲		

يوولسمه	د رسول الله صلى الله عليه وسلم او دراشده خلفاوو داخلاقو څوبيلګې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو څو بيلګې د عمررضى الله عنه د اخلاقو څو بيلګې د عثمان رضى الله عنه د اخلاقو څو بيلګې ابوبكر صديق رضى الله عنه د اخلاقو څو بيلګې د علي كريم الله وجهه د اخلاقو څو بيلګې ارزونه	۲	۲		
دوولسمه	دحاكمانو او چارواكو اسلامي اخلاق.اخلاص او تقويوړتيا او ښه حكومتولي امتيازي سياسي پوهه	۲	۲		
ديارلسمه	عدالت، احسان، صداقت، پروعده وفا	۲	۲		
څوارلسمه	نظم او انتظام، شجاعت، صبر او زغم، عفو اوبخښنه	۲	۲		
پنځلسمه	تواضع او سادګي، عدل او مساوات، كاراهل كارته سپارل، د مشكلاتو د حل وړتيا درلودل	۲	۲		
شپاړسمه	شورا او د انتقاد منل، اصلاح او سمون، لوړه حوصله او همت، دراز ساتل	۲	۲		

مقرر كتاب	محتوا او نوي درسي كتابونه دې د دې نصاب له ټاكل شويو مفرداتو سره سم، د لوړو زده كړو وزارت تر څارنې او سرپرستۍ لاندې، د رسمي ژبو ترڅنګ په انګليسي ژبه كې د (تجربوي او طبيعي علومو) او په عربي ژبه كې د (ټولنيزو علومو) لپاره د لاندې ټكو په پام كې نيولو سره ترتيب او تأليف شي: • په تجربوي علومو كې دې د مضمون محتوا د وروستيو پرمختګونو سره سم ترتيب شي، او چيرې چې اړتيا وي د مسلمان پوهانو رول او لاسته راوړنې دې هم پكې يادې شي. • په ټولنيزو، انساني او ادبي علومو كې دې ديني اصل وساتل شي او په ساينسي او طبيعي علومو كې چيرې چې اړتيا وي،د ظاهري علتونو ترڅنګ دې الهي او شرعي اړخ هم ذكر شي،لكه: زلزله، باران، طوفان، د اقليم بدلون، د نفوس كنټرول، د انساني اعضاوو پيوند او داسې نور.

د سرچينو فهرست	
اصلی سرچينی	۱. اخلاق للمسلم للشيخ وهبة الزحيلي ۲. إحياء علوم‌الدين للامام الغزالي. ۳. د اسلامي حاكمانو اخلاق او صفات للشيخ عبدالباقي‌حقاني
مرستندوی سرچينی	٤. تربية الاولاد للشيخ عبدالله ناصح علوان ٥. تحفة الدعاة الاصلاح الرعية والرعاة، دعوت و ارشاد جلب جذب كمپسون 6. خلق المسلم للشيخ محمد الغزالي

د (اسلام ټولنیز نظام) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان

پوهنتون	سلام پوهنتون
پوهنځی	اقتصاد
ډیپارټمنټ	د سوداګرۍ اداره
د پروګرام عنوان	د سوداګرۍ اداري لیسانس
د مضمون کوډ	SL.IC.0376
د کریډیټونو شمیر	۲
کټګوري	ټول شموله
مخکینی مضمون	نلري
سمستر	دریم

د مضمون لنډه پېژندنه

د اسلام ټولنیز نظام اسلامي ثقافت دمضامینو په لړکې څلورم مضمون دی چې دمنطقي تسلسل له مخې په څلورم سمیسټر کې تدریسیږي، دهرمسلمان لپاره ددې نظام پېژندل ځکه ضروري دي چې دا نظام دااسلامي ټولنې‌د افرادو ترمنځ او داسلامي ټولنې له نورو غیر اسلامي ټولنو سره اړیکې د قرآن‌کریم، احادیثو او اسلامي فقهې له لارښوونو سره سمې تنظیموي.

دا مضمون له مطالعې او زده‌کړې وروسته محصلان د اسلام د ټولنیز نظام د مفهوم، اصولو ، اساساتو، فرد او کورنۍ جوړونې، د کورنۍ له منځه وړلو په عواملو، د اسلام د ټولنیز نظام لارښوونو سره سم د فردي او ټولنیز ژوند اداب مراعاتوي، له ټولنیزو ناخوالو سره مبارزه کوي او د ټولنې په وده کې مسؤولانه فعاله ونډه اخلي.

د مضمون زده کړه ییزې موخې

د کورس په بشپړیدو سره، زده کونکي به پدې پوه شي:

- د اسلام د ټولنیز نظام د اساساتو په اړه بشپړه پوهه تر لاسه کول او هغه ایتونو او احادیث زده‌کول چې د ټولنې او د ټولنیز ژوند په اړه راغلي دي.
- د اسلام په ټولنیز نظام کې دکورني نظام د جوړښتونو او د اسلامي ټولنیز نظام له اصولو سره د فردي ژوند د جوړښتونو اړیکه پېژندل.
- هغه لارښوونې او دالیل پېژندل چې پر ټولنه حاکم دي او د ناخوښو دودونو او عرفونو تفکیک.
- د کورنیو شخړو لاملونه مشخصول او حل لارې ورته لټول.
- د اسلام له ټولنیز نظام څخه په علمي او اکاډمیک ډګر کې د دفاع وړتیا ترلاسه کول او د اسلام له لید لوري د ټولنیزو ناخوالو سره د مبارزې لارې چارې پېژندل.

د مضمون تمه شوي پايلې

د دې کورس د بشپړولو لپاره، محصلان بايد لاندې فعاليتونه په عمل کې ترسره کړي او وکولی شي:

- د اسلامي ټولنې ځانګړنې د قرآن او سنت له نظره وپېژني.
- د «امت اسلامي» مفهوم درک کړي او د هغې د ځانګړتياوو او د نورو ټولنو سره د توپير اړخونه وپېژني.
- په اسلامي ټولنيز نظام کې د افرادو او ټولنې متقابل حقوق وپېژني.
- د کورنۍ نظام د اسلام له نظره وپېژني او د هغې مقام د ټولنې د بنسټيزې هسته په توګه درک کړي.
- د کورنۍ د غړو حقوق او مسؤليتونه د اسلام له ليدلوري وپېژني.
- د اسلامي وروروليۍ (اخوت اسلامي) مفهوم درک کړي او د هغې رول د ټولنيز يووالي او انسجام په ټينګښت کې وپېژني.
- د ګاونډيانو، خپلوانو او نورو ټولنيزو ډلو حقوق وپېژني.
- د «امر بالمعروف او نهی عن المنکر» مفهوم د ټولنيزې ځارنې او اصلاح د اصل په توګه درک کړي.
- د اسلامي حقوقي او قضايي نظام بنسټونه وپېژني او د هغوی رول د ټولنيزو شخړو په حل کې تحليل کړي.

د تدريس او زده کړې طريقې

- لکچرونه وړاندې کول، سپينه تخته، ملټي ميډيا پريزنټشنونه او کتابونه.
- دمحصل محوري ميتود له مخې ددرسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.
- کورنۍ دندې، ډله ايز بحث، د قضيې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې.
- ازموينه، کوئز، پريزنټشنونه، د سمولو تمرينونه (د رول لوبول).

د محصلانو د ارزونې طريقه

- صنفي فعاليت او حاضري (۱۰ %)
- کورنۍ وظيفه (۱۰ %)
- د سمستر منځنۍ ازموينه (۲۰ %)
- د سمستر وروستۍ ازموينه (۶۰ %)

د مضمون درسي مفردات: (فصلونه او فرعي عنوانونه)

لومړۍ څپرکی: د ټولنيز نظام پېژندنه

- د ټولنيز نظام تعريف، اهميت او اړتيا، د اسلام د ټولنيز نظام تعريف، اهميت، ارزښت او اړتيا
- په اسلامي عباداتو کې اجتماعيت: لمانځ، زکات، روژه، حج، سياست
- د اسلام د ټولنيز نظام سرچينې، د اسلام د ټولنيز نظام بنسټونه
- د اسلامي ټولنيز نظام ځانګړتياوې: الهي وحي، عقيده او ايمان، نيک اخلاق، اخوت، تعاون، عدالت، مساوات، امر بالمعروف، نړيوال او کامل نظام

دوهمه څپرکی: د اسلامي ټولنيز نظام اصول او اهداف

- د اسلامي ټولنيز نظام اساسي اصول، لويديځوال ټولنپوهان، مسلمان ټولنپوهان، د اسلام ټولنيز نظام اهداف
- د فرد جوړښت: له رب سره اړيکه، ايمان او عقيده، له ځان سره اړيکه، اخلاق او آداب، له ټولنې سره اړيکه
- په اسلام کې د فرد جوړونې اصول: موحد مسلمان، عالم انسان، ښوونکی انسان، متفکر انسان
- د کورنۍ جوړښت: مفهوم او ډولونه، د کورنۍ مفهوم په غير اسلامي ټولنو کې
- د مسلمانې کورنۍ ځانګړتياوې، د مسلمانې کورنۍ د روزنې اصول، د کورنۍ د جوړښت پر وړاندې خنډونه

دريمه څپرکی: نکاح، کورنۍ او طلاق

- د نکاح تعريف، مشروعيت، حکم او ډولونه
- د نکاح ارکان او شرطونه، د زوجينو اهليت، د عاقدينو خوښه، ولي
- د نکاح آداب، ګټې، حکمتونه او اهداف، محرمات او ډولونه، د مرکې معنی، اصول، آداب او د اړيکې حکم
- د زوجينو د انتخاب معيارونه، تعدد الزوجات او د نبي کريم حکمتونه
- د نکاح ډولونه: موقت، متعه، تحليل، شغار، مسيار، پټه نکاح، د خاوند او مېرمنې حقوق
- د اولاد حقوق: مخکې له پيدايښت او وروسته له پيدايښت، د والدينو حقوق
- د طلاق د مخنيوي لارې چارې، د طلاق ډولونه او احکام: رجعي، بائن، مغلظ، سني او بدعي
- خلع او تفريق: پېژندنه، مشروعيت، حکمتونه، شرطونه او پايلې
- ايلاء، ظهار او لعان، د مېرمنې عدت: مشروعيت، حکمت او ډولونه، د نسل تنظيم حدود او احکام

څلورمه څپرکی: د ټولنې اصلاح او د اسلامي ټولنيز نظام پلي کول

- د اسلامي ټولنې د جوړېدو لارې چارې: توحيد ته بلنه، اجتماعي عباداتو ته هڅونه، د دين حاکميت، په ټولنيزو چارو کې ګډون، متقابل مسؤوليت
- اسلام د ټولنيز وحدت د رامنځته کولو لارې: نيک ګومان، ښه وينا، عدالت، بخښنه، صله رحمي، ليدنه کاته، ښه ګاونډيتوب
- د ټولنې په اصلاح کې د فرد مسؤوليت، د انساني کرامت رعايت
- ټولنيز آداب: د اجازې آداب، سلام، مجلس، خبرو اوربدو او ويلو آداب، معاشرت، مسجد، د علم مجلس، خوراک او څښاک، خوب، لباس، مېلمستيا، د ناروغ پوښتنه، د لارې او سفر آداب

پنځمه څپرکی: د ټولنيزو انحرافاتو مخنيوی

- د انحراف لاملونه: سيکولريزم، ليبراليزم، نشنليزم، استشراق، تنصير
- د حجاب تعريف، اهميت او حکمتونه، د بې حجابۍ اضرار
- په تعليمي چاپېريال کې اختلاط او مفاسد، په ادارو کې اختلاط او زيانونه
- اخلاقي انحرافات: فحشاء، عرياني، خيانت، غلا، رشوت، اداري فساد
- مسکرات او مخدرات: حکم او زيانونه. سود، غرر، قمار، غيبت او تهمت
- موسيقي او رقص: حکم، فلسفه او زيانونه، په ټولنه د موسيقي اغېزې
- د معاصرو وسايلو ناسم استعمال: انټرنټ، ټولنيزې شبکې، تلويزيون، موبايل

د (اسلام ټولنيز نظام) مضمون اونيز پلان

اونۍ	منځپانګه	اونيز درسي ساعتونه			
		ټولټال	نظري	عملي	ساحوي
لومړۍ	د ټولنيز نظام تعريف، اهميت او اړتيا. د اسلام د ټولنيز نظام تعريف، اهميت، ارزښت او اړتيا . د اسلام په ځاني او مالي عباداتو کې اجتماعيت. لمونځ، زکات، روژه، حج، سياست .... د اسلام د ټولنيز نظام سرچينې.د اسلام د ټولنيز نظام بنسټونه.د اسلام د ټولنيز نظام ځانګړتياوې. الهي وحي، عقيده او ايمان،نيک اخلاق، اخوت، تعاون، ترحم او همدردي، عدالت، مساوات، امر بالمعروف، د قواعدو الزامي والی، نړيوال، کامل او شمول...	۲	۲		
دوهمه	د اسلام د ټولنيز نظام اساسي اصول. ټولنپوهان: لويديځوال ټولنپوهان. مسلمان ټولنپوهان. د اسلام ټولنيز نظام اهداف . د اسلامي ټولنې جوړښت د اسلام له ليدلوري. .د فرد جوړښت.دکورنۍ جوړښت دټولنې جوړښت د فرد جوړښت او برخې يې: له خپل رب سره اړيکه ايمان اوعقيده، له خپل ځان سره اړيکه، اخلاق او آداب له ټولنې سره اړيکه صله رحمې، ترحم، مرسته، غم شريکي او داسې نور په اسلام کې د فرد جوړونې اصول، موحدمسلمان عالم انسان، ښوونکی انسان. متفکر انسان	۲	۲		
درېيمه	د کورنۍ جوړښت د کورنۍ مفهوم په اسلامي ټولنه‌کې او ډولونه يې: کوچنۍ کورنۍ متوسطه کورنۍ لويه کورنۍ د کورنۍ مفهوم په غيراسلامي ټولنوکې د مسلمانې کورنۍ ځانګړتياوې. د مسلمانې کورنۍ د روزنې اصول. د مسلمانې کورنۍ د جوړښت پر وړاندې خنډونه	۲	۲		

څلورمه	د نکاح تعریف د نکاح مشروعیت د نکاح حکم او ډولونه د نکاح ارکان د نکاح شرطونه د زوجینواهلیت د عاقدینوخوښه د ولي موجودیت او اجازه د نکاح آدابد نکاح ګټې او حکمتونه د نکاح اهداف	۲	۲		
پنځمه	محرمات او ډولونه یې: نسبي او سببي .دائمي او موقت د مرکې (خطبه) معنی او مفهوم.د مرکې (خطبه) شرعي اصول او آداب.د زوجینو د یو او بل د انتخاب معیارونه.د مرکې (خطبه) وروسته او مخکې تر نکاح له مخطوبې سره د اړیکې حکم.	۲	۲		
شپږمه	تعدد الزوجات د نبي‌کریم صلی الله علیه وسلم د تعدد زوجات حکمتونه. د نکاح بېلا بېل ډولونه:(موقت، متعه، تحلیل، شغار، مسیار، پټه نکاح)دزوجینوحقوق: د خاوندحقوق، د میرمنې حقوق ګډحقوق	۲	۲		
اووه	اولادونو حقوق: لومړی: مخکې له پیدایښت. د ښې مورانتخاب . د ژوند حق ورکول. د سلامتیا حق دوهم: له پیدایښت وروسته: اذان او اقامت ښه نوم غوره کول عقیقه، ختنه(سنتول)، نفقه .، ښه روزنه. واده د والدینوحقوق: احترام . خدمت اطاعت . د اړتیا پرمهال نفقه ورکول، دعا ورته کول او داسې نور	۲	۲		
اته	دطلاق د مخنیوي لارې چارې عفو او تفاهم، نصیحت او سپارښتنه بستره بهلول، شرعي تأدیب. تحکیم	۲	۲		
نهمه	د طلاق ډولونه او احکام یې. رجعي، بائن، مغلظ سني اوبدعي‌طالق. حسن او احسن طلاق.) دوهم: خلع: د خلع پېژندنه، مشروعیت ، حکمتونه، شرطونه، پایلې او د خلع بدل) .درېیم:تفریق: (د تفریق پېژندنه، لاملونه او احکام یې) (د ایلاء، ظهار او لعان پېژندنه او اړوند احکام یې)	۲	۲		

	د مېرمنې عدت، مشروعیت، حکمت، ډولونه او اړوند احکام یې. د اسلام له نظره تحدید نسل حدود ، شرطونه او احکام یې.				
لسمه	د اسلام په اجتماعي نظام کې د ټولنې جوړونه د اسلامي ټولنیز نظام درامنځته کولو لارې چارې توحید ته بلنه اجتماعي عباداتو ته هڅونه په ټولو برخوکې د دین حاکمیت په اجتماعي ډول په کارونو کې ګډون متقابل مسؤولیت ټولنیز چلند ته پاملرنه،راکړه ورکړه (تعاملات) د جزایي قوانینو وضع کول. اسلام په ټولنیز نظام کې د وحدت د رامنځته کولو لارې چارې: په خلکو نیک ګومان. له خلکو سره ښه وینا او اخلاق ښه چلند او عدالت.عفو او بخښنه. صله رحمي. له یو بل سره لیده کاته.له ګاونډي سره ښه چلند.	۲	۲		
یوولسمه	د ټولنې په اصلاح کې د فرد مسؤولیت د انساني کرامت رعایت.ټولنیز آداب د اجازې او لیدنې آداب.د سلام آداب.د مجلس آداب د خبرو کولو او اوربدلو آداب.د معاشرت آداب د مسجد آداب.د علم د مجلس آداب د خوراک او څښاک آداب.د خوب آداب د کالو اغوستلو آداب.د مېلمستیا آداب د ناروغ پوښتنې آداب د لارې آداب.د سفر آداب	۲	۲		
دوولسمه	په اسلامي ټولنه کې د بې نظمۍ او انحراف لاملونه سیکولریزم. لېربالیزم. نشنلیزم. استشراق. تنصیر او د داسې نورو انحرافاتو پېژندنه او د ترویج د مخنیوي لارې چارې.	۲	۲		
دیارلسمه	د حجاب تعریف، او اهمیت د حجاب حکمتونه، ګټې او حکم یې د بې حجابۍ دیني او دنیوي اضرار او مفاسد یې. تعلیمي او تحصیلي چاپیریال کې د اختلاط او بې حجابۍ مفاسد او اضرار. دیني او دنیوي تاوانونه په ادارو کې د نارینه او ښځینه اختلاط مفاسد او اضرار.	۲	۲		

څوارلسمه	اخلاقي انحرافات. اختلاط او د هغې مفاسد. فحشاء اوعرياني. خيانت او ډولونه يې. غلا، حکم اوضرورونه يې.. رشوت او اداري فساد او د مخنيوي لارې چارې يې ..	۲	۲		
پنځلسمه	مسکرات او مخدرات او د پېر او پلور حکم او زيانونه يې. سود، غرر، قمار، حکم او زيانونه يې. غيبت، تهمت، تعريف، گناه او حکم يې. موسيقي او رقص او د حرمت دلائل يې. د موسيقي د حرمت فلسفه او زيانونه يې. په ټولنه د موسيقي ناوړه اغېزې	۲	۲		
شپاړسمه	معاصرو توکو څخه ناسمه استفاده (انټرنټ ،ټولنيزي شبکې، تلويزيون اوموبايل)	۲	۲		

مقرر کتاب	محتوا او نوي درسي کتابونه دې د دې نصاب له ټاکل شويو مفرداتو سره سم، د لوړو زده کړو وزارت تر څارنې او سرپرستۍ لاندې، د رسمي ژبو ترڅنګ په انګليسي ژبه کې د (تجربوي او طبيعي علومو) او په عربي ژبه کې د (ټولنيزو علومو) لپاره د لاندې ټکو په پام کې نيولو سره ترتيب او تأليف شي: • په تجربوي علومو کې دې د مضمون محتوا د وروستيو پرمختګونو سره سم ترتيب شي، او چيرې چې اړتيا وي د مسلمان پوهانو رول او لاسته راوړنې دې هم پکې يادې شي. • په ټولنيزو، انساني او ادبي علومو کې دې ديني اصل وساتل شي او په ساينسي او طبيعي علومو کې چيرې چې اړتيا وي،د ظاهري علتونو ترڅنګ دې الهي او شرعي اړخ هم ذکر شي،لکه: زلزله، باران، طوفان، د اقليم بدلون، د نفوس کنټرول، د انساني اعضاوو پيوند او داسې نور.

د سرچينو فهرست	
اصلی سرچينی	1. حجة الله البالغة، لشاه ولي الله الدهلوي .. ۲. الهداية، للامام أبي الحسن علي بن أبي بكرالمر غيناني . ۳. ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمين ،للشيخ أبي الحسن علي الندوي. ٤. البحرالرائق،لابن نجيم الحنفي.
مرستندوی سرچينی	٥. فقه الاسره، لوهبة الزحيلي. ٦. التكافل الاجتماعي فی اسلام، لمصطفی السباعي. 7. تربية الاولاد فی الاسلام ، لعبد الله ناصح علوان.

د (فکري پوهنې) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان

پوهنتون	سلام پوهنتون
پوهنځی	اقتصاد
ډیپارټمنټ	د سوداګرۍ اداره
د پروګرام عنوان	د سوداګرۍ اداړې لیسانس
د مضمون کوډ	SL.IC.0477
د کریډیتونو شمیر	۲
کټګوري	ټول شموله
مخکینی مضمون	نلري
سمستر	څلورم

د مضمون لنډه پېژندنه

دغه مضمون یو له هغو مهمو او ټول شموله مضامینو څخه دی چې په ترڅ کې یې د فکري پوهنې اړوند ځینې مهم موضوعات لکه د یاد مضمون د تاریخ په اوږدو کې په بېلابېلو پراوونو څخه تېرېدل، د فکري او پوځي جګړې ترمنځ توپیر، د غرب فکري سرچینې، ځانګړنې یې، د فکري جګړو د وسایلو لکه صلیبي جګړو، استعمار، د هغو موخې او د صلیبیانو د ناکامېدو لاملونه، استشراق، د هغه ډولونه، سیکولرېزم او اسلامي نړۍ ته یې راتګ، داعیان او موخې یې، همدارنګه تنصیر، د هغو حقیقت، تاریخي مخینه، وسایل، موخې او د هغو د مخنیوي لارې په ګوته کېږي، همدارنګه خینې نور مهم مسایل لکه له نړیوالتوب، د هغو له ډولونو سره د محصلانو اشنا کول دي، او لوستلو محصلان د سمستر په پای کې کولای شي چې د غرب له فکري جګړو او د اسلام او مسلمانانو پر خلاف د هغوی له دسیسو څخه ځان خوندي کړي او په اکاډمیکه، منطقي او مستد له توګه له خپلو اسلامي افکارو او ارزښتونو څخه د دفاع کولو جوګه شي.

د دې مضمون په مطالعه او په پایله کې بیا د اسلامي فکر بنسټیزې سرچینې، ځانګړنې، نړۍ ته یې لاسته راوړنې، همدارنګه د دښمن نیمګړتیاوې او دېته ورته نورې مهمې مسئلې بیانیږي.

د مضمون زده کړه ییزې موخې

د کورس په بشپړیدو سره، زده کونکي به پدې پوه شي:

- د شرعي نصوصو په رڼا کې محصلانو ته د اسلامي فکر په اړه بشپړ معلومات ورکول او روزل یې.
- په اکاډمیکه، منطقي او مستدله توګه له خپلو اسلامي افکارو او ارزښتونو څخه دفاع کول.
- د فزیکي او فکري جګړې ترمنځ محصلانو ته توپیرونه په ګوته کول او د فکري جګړې له خطرناکو اغېزو څخه یې خبرول.
- اسلامي ټولنې ته د ناوړه او ناسمو افکارو د واردېدو مخنیوی او د مقابلې لارې چارې به کوته کول.

د مضمون تمه شوي پايلې

د دې کورس د بشپړولو لپاره، محصلان بايد لاندې فعاليتونه په عمل کې ترسره کړي او وکولی شي:

- د انتقادي تفکر وړتيا په ځان کې وروزي او د مسئلو د تحليل توان د بېلابېلو اړخونو له مخې ترلاسه کړي.
- د پوښتنې کولو مهارت او د علمي نقد ځواک پياوړی کړي.
- وکړای شي د باور وړ او معتبر معلوماتي سرچينې وپېژني او تر منځ يې توپير وکړي.
- د منطقي استدلال او د برهان وړاندې کولو مهارتونه وروزي.
- د ستونزو د حل توان د منظمو او سيستماټيکو لارو له مخې پياوړی کړي.
- د خلاق تفکر وړتيا او د نوو مفکورو د وړاندې کولو توان وده ورکړي.
- د تحليل او تأمل (تفکر ژور) پر بنسټ د پرېکړې نيولو مهارت پياوړی کړي.
- د علمي، محترمانه او منطقي بحث او مناظرې مهارتونه تقويه کړي.
- په اسلام کې د تعقل، تفکر او خردورځی اهميت درک کړي.
- د فکري مغالطو د پېژندنې او د هغو د مخنيوي توان پياوړی کړي.

د تدريس او زده کړې طريقې:

- لکچرونه وړاندې کول، سپينه تخته، ملټي ميډيا پريزنټشنونه او کتابونه.
- دمحصل محوري ميتود له مخې ددرسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.
- کورنۍ دندې، ډله ايز بحث، د قضيې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې.
- ازموينه، کوئز، پريزنټشنونه، د سمولو تمرينونه (د رول لوبول).

د محصلانو د ارزونې طريقه

- صنفي فعاليت او حاضري (۱۰ %)
- کورنۍ وظيفه (۱۰ %)
- د سمستر منځنۍ ازموينه (۲۰ %)
- د سمستر وروستۍ ازموينه (٦۰ %)

د مضمون درسي مفردات: (فصلونه او فرعي عنوانونه)

لومړۍ څپرکی: د فکري پوهنې پيژندنه

- د فکري پوهنې تعريف
- اهميت
- موضوع
- غرض او اهداف
- مصادر
- اساسات
- ځانګړتياوې

دوهمه څپرکی: فکري جګړه

- د فکري جګړې تعریف
- تاریخ
- د فکري جګړې اهداف
- لویدیځو ولسونو ته د اسلامي دعوت د رسېدو مخنیوی، په لویدیځ کې اسلام بدنامول
- د اسلامي امت د تاریخ بدنامول
- په نړیواله کچه د اسلام او مسلمانانو بدنامول
- مسلمانان په خپلو منځو کې په فکري او فزیکي جګړو بوختول، مسلمانان د خپل راتلونکي په باب مشکوک ساتل
- د اسلامي امت نړیوال تشخیص کمزورول
- په اسلامي هېوادونو کې د لویدیځ لاسپوڅي واک ته رسول، نړیوال اسلامي خوځښتونه بدنامول

دریمه څپرکی: د فکري جګړې وسایل

- غربي فرهنګ ترویج
- سیکولریزم ترویج
- په مصنوعي توګه د مشرتابه رامنځته کول، له تعلیمي نصابونو د افشاکوونکو مطالبو حذف
- میډیا او رسنۍ تر واک لاندې راوستل

څلورمه څپرکی: د اسلامي نړۍ پېژندنه

- د اسلامي نړۍ تعریف
- اهمیت
- ستراتېژیک موقعیت
- اسلامي نړۍ د درې وچو زړه د اسیا، افریقا او اروپا ترمنځ
- بحرونه، کانالونه، خلیجونه او سیندونه چې اسلامي نړۍ پرې اغېز لري
- د اسلامي نړۍ شتمنۍ، کرهڼیزې شتمنۍ، اقلیمي امتیاز
- حیواني شتمنۍ، بحري شتمنۍ، معدني شتمنۍ، صنعتي شتمنۍ، د نړیوالو سفرې کرښو مرکزیت

پنځمه څپرکی: د اسلامي نړۍ د شاته پاتې کېدو عوامل

- داخلي عوامل
- په ډلو او حزبونو وېش
- بېځایه مناظرې او اختلافات
- له یوه هېواد څخه ګڼ واکمنان
- خارجي عوامل
- د مغولو یرغل
- صلیبي جګړې
- اروپایي استعمار
- صهیوني تحریک
- کمونیزم یرغل

- د داخلي او خارجي ګواښونو ناوړه عواقب
- د اسلامي شریعت نه تطبیقول
- د عثماني خلافت سقوط
- د وضعي قوانینو د تطبیق پیل
- د فرانسي تر استعمار لاندې هېوادونه
- الجزایر ۱۸۳۰، تونس ۱۸۸۱، مراکش ۱۹۲۱، سنګال ۱۸۸۲
- د انګلستان تر استعمار لاندې هېوادونه
- هندوستان ۱۸۵۷، مصر ۱۸۸۲، عراق ۱۹۱۴، فلسطین او اردن ۱۹۱۸، سوډان ۱۸۹۸، نایجیریا ۱۸۵۱
- د ایټالیا تر استعمار لاندې هېوادونه
- صومالیا او ارتریا ۱۸۸۷، لیبیا ۱۹۱۱
- د شوروي اتحاد تر استعمار لاندې هېوادونه
- د منځنۍ اسیا هېوادونه، د ختیځې اروپا هېوادونه

ښپړمه څېړکی: د اسلامي نړۍ معاصر وضعیت

- فکري وضعیت
- صلیبي جګړې، تاریخ او اهداف
- استعمار، تګلارې او اهداف
- استشراق، تاریخ، ډولونه، اهداف او وسایل
- تنصیري خوځښتونه، تاریخ، اهداف او وسایل
- د مخنیوي لارې، ټولنیز وضعیت
- غرب ډوله ښځینه ازادي
- له حجاب سره مبارزه
- د تعدد الزوجات له منځه وړل
- د نارینه او ښځینه اختلاط زیاتول
- له کوره د ښځو ایستل، د کورنۍ جوړښت ویجاړول
- سیاسي وضعیت
- د نړۍ له قیادت څخه محرومېدل
- د دین او سیاست بېلول
- سیکولریزم خپرېدل
- قومي، ژبني، سمتي، حزبي او الحادي تفرقې
- اقتصادي وضعیت، د شتمنیو مصادره
- خارجي تجارت د استعمار په انحصار کې
- د اسلامي هېوادونو تولیدات شنډول
- سود، احتکار او مالي فساد پراخول، شتمني په محدودو کسانو کې تمرکز
- د اقتصادي فشار له لارې د دیني ارزښتونو کمزوري
- تعلیمي او تقنیني وضعیت
- د اسلامي تعلیمي نظام پرځای وضعي نظام، د شرعي قوانینو پرځای وضعي قوانین

د (فکري پوهنې) مضمون اونیز پلان

اونۍ	منځپانګه	اونیز درسي ساعتونه			
		ټولټال	نظري	عملي	ساحوي
لومړۍ	د فکري پوهنې تعریف،اهمیت، موضوع، غرض او اهداف مصادر، اساسات او ځانګړتیاوې فکري جګړه. د فکري جګړې تعریف، تاریخ	۲	۲		
دوهمه	د فکري جګړې اهداف: لویدیځو ولسونو ته د اسلامي دعوت د رسېدو مخنیوی. د لویدیځو ولسونو په منځ کې اسلام بدنامول. د سلامي امت تېر تاریخ بدنامول. په نړۍ کې اسلام او مسلمان ولسونه په بېلابېلو پلمو بدنامول. مسلمانان په خپلو منځو کې په فزیکي او فکري جګړو بوختول. مسلمانان د هغوی د راتلونکي په باب مشکوک ساتل،په نړیواله کچه د اسلامي ا مت په خیث د مسلمانانو نړیوال تشخیص ته صدمه رسول. په اسلامي هیوادونو کې خپل لاسپوڅي د واک او ځواک پر ګدۍ کښېنول. نړیوال اسلامي خوځښتونه بدنامول.	۲	۲		
درېیمه	د فکري جګړې وسایل: غربي فرهنګ ترویجول. علمانیت (Secularism) ترویجول. په کاذب او مصنوعي ډول قیادتونه رامنځته کول. له تعلیمي او تحصیلي نصابونو څخه هغه مواد لرې کول چې د دښمن توطیې افشا کوي. میډیا او رسنی تر خپل واک لاندې راوستل.	۲	۲		
څلورمه	د اسلامي نړۍ پېژندنه د اسلامي نړۍ اهمیت ستراتیژیک موقعیت اسلامي نړۍ د دریو لویو وچو (اسیا،افریقا او اروپا) زېږه. هغه بحرونه، کانالونه، خلیجونه او سیندونه چې اسلامي نړۍ پرې مستقیم اغېز لري او ګټه ترې اخلي.	۲	۲		
پنځمه	د سلامي نړۍ شتمنی:کرهنیزې (زراعتي) شتمنی. په نړیواله کچه اقلیمي امتیاز. حیواني شتمنی.بحري شتمنی. معدني شمتنی.صنعتی شمتنی. اسلامي نړۍ د نړیوال سفري(بري، بحري او جوی) کرښو مرکز.	۲	۲		

شپږمه	د سلامي نړۍ د شاته پاتې کېدو اسباب او لاملونه داخلي لاملونه. په ډلو او حزبونو د مسلمانانو وېش. په بې ځایه بحثونو او مناظرو مسلمانان اخته کول.له یوه ځخه د ډېرو واکمنانو شتون.	۲	۲		
اوومه	خارجي لاملونه:د مغولو یرغل. صلیبي جګړې.اروپایي استعمار. صهیوني تحریک.د کمونیزم یرغل.	۲	۲		
اتمه	د داخلي او خارجې ګواښونو ناوړه عواقب. د سلامي شریعت نه تطبیقول. د عثماني خلافت سقوط د وضعي قوانینو د تطبیق پیلامه. په اسلامي هېوادونو د فرانسې، انګلستان او ایټالیې پراخ استعماري یرغل. د فرانسوي استعمار لاندې هېوادونه. الجزائر (۱۸۳۰م)، تونس (۱۸۸۱م) مراکش (۱۹۲۱م)، سنګال (۱۸۸۲م)	۲	۲		
نهمه	د انګلیسي استعمار لاندې هېوادونه: هندوستان (۱۸۵۷م) ، مصر (۱۸۸۲م) عراق (۱۹۱۴م)،فلسطین او اردن (۱۹۱۸م) سوډان (۱۸۹۸م)، نایجیریا (۱۸۵۱م)	۲	۲		
لسمه	د ایټالیې تر استعمار لاندې هېوادونه: صومالیا او ارتریا (۱۸۸۷م) لیبیا (۱۹۱۱م) د شوروي اتحاد د استعمار لاندې هېوادونه: د منځنی اسیا هېوادونه، اروپا هېوادونه	۲	۲		
یوولسمه	د سلامي نړۍ معاصر وضعیت: فکري وضعیت.لومړی مرحله: صلیبي جګړه (CRUSADE WARS)د صلیبي جګړو تاریخ او اهداف دوهمه مرحله: استعمار(COLONIZATION)د استعمار تګلارې او اهداف	۲	۲		
دولسمه	دېیمه مرحله: استشراق (ختیځ پوهنه (ORIENTALISM) د استشراق تاریخ، ډولونه، تګارې، اهداف او وسایل.د استشراق موضوعات او د مخنیوي لارې یې.څلورمه مرحله: تنصیري خوځښتونه (CHRISTIANISM) د تنصیر تاریخ، اهداف او وسایل.د تنصیر د مخنیوي لارې.	۲	۲		
دیارلسمه	ټولنیز وضعیت:د ښځو غرب ډوله آزادي.	۲	۲		

	د حجاب له منځه وړل.د تعدد الزوجات اصل له منځه وړل.د ښځينه وو او نارينه وو ترمنځ اختلاط.د مساوات او پرمختګ په پلمه له کوره د مسلمانې ښځې ايستل.د مسلمانو کورنيو جوړښت له منځه وړل.				
څوارلسمه	سياسي وضعيت:د نړۍ قيادت له لاسه ورکول. دين او سياست بېلول.علمانيت، (SECULARISM)د دښمن لخوا قومي، حزبي، ژبني، سمتي او الحادي تعصبات او نظريات ترويجول.	۲	۲		
پنځلسمه	اقتصادی وضعيت: د استعمار لخوا د مسلمانانو پر شتمنيو ولکه. د مسلمانانو خارجي تجارت د استعمار په انحصار کې.د اسلامي هېوادونو توليدات شنډول. سود، احتکار او مالي فساد ترويجول. د مسلمانانو شتمنی په محدودو لاسونو کې انحصارول.د اقتصادي فشارونو له لارې مسلمانان له خپلو ديني او ملي ارزښتونو څخه په شا کول.	۲	۲		
شپاړلسمه	تعليمي او تقنيني وضعيت: د اسلامي تعليمي نظام پرځای و ضعي تعليمي نظامونه ترويجول. د شرعي قوانينو پرځای وضعي قوانين ترويجول.	۲	۲		

مقرر کتاب	محتوا او نوي درسي کتابونه دې د دې نصاب له ټاکل شويو مفرداتو سره سم، د لوړو زده کړو وزارت تر څارنې او سرپرستۍ لاندې، د رسمي ژبو ترڅنګ په انګليسي ژبه کې د (تجربوي او طبيعي علومو) او په عربي ژبه کې د (ټولنيزو علومو) لپاره د لاندې ټکو په پام کې نيولو سره ترتيب او تأليف شي: • په تجربوي علومو کې دې د مضمون محتوا د وروستيو پرمختګونو سره سم ترتيب شي، او چيرې چې اړتيا وي د مسلمان پوهانو رول او لاسته راوړنې دې هم پکې يادې شي. • په ټولنيزو، انساني او ادبي علومو کې دې ديني اصل وساتل شي او په ساينسي او طبيعي علومو کې چيرې چې اړتيا وي،د ظاهري علتونو ترڅنګ دې الهي او شرعي اړخ هم ذکر شي،لکه: زلزله، باران، طوفان، د اقليم بدلون، د نفوس کنټرول، د انساني اعضاوو پيوند او داسې نور.

د سرچينو فهرست	
اصلی سرچينی	۱. ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين، للشيخ أبي الحسن علي الندوي. ۲. رجال الفكروالدعوة، للشيخ أبي الحسن علي الندوي. ۳. الاتجاهات الفكرية المعاصرة، على محمد جريشه دار الوفاء
مرستندوی سرچينی	٤. أساليب الغزو الفكري، على محمد جريشه دار الوفاء ٥. الحركة الفكرية ضد الاسلام، بركات عبدالفتاح دويدار

د (اديان او مذاهب) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان

پوهنتون	سلام پوهنتون
پوهنځی	اقتصاد
ډيپارټمنټ	د سوداګرۍ اداره
د پروګرام عنوان	د سوداګرۍ اداري ليسانس
د مضمون کوډ	SL.IC.0478
د کريډيتونو شمير	۱
کټګوري	ټول شموله
مخکيني مضمون	نلري
سمستر	څلورم

د مضمون لنډه پېژندنه

اديان او مذاهب د ټول شموله مضامينو په لړ کې يو مهم مضمون دي، چې په کې د الهي او وضعي اديانو په اړه هر اړخيز معلومات په داسې ډول وړاندي کيږي چې د ښلاښلو معتقداتو په اړه د هر دين ليد لوری او لنډ اعتقادي اصول بيانيږي، همدارنګه د ديني مراسمو، شعايرو او نېکيو او بديو په اړه بحثونه کيږي، له مرګ وروسته د بيا راژوندي کولو په اړه د هر دين ليد لوری بيانيږي، تر څو د اسماني اديانو او وضعي اديانو ترمنځ د توپير په اړه محصلان بشپړه معلومات ترلاسه کړي.

همدارنګه په ياد مضمون کې د ښلاښلو حق او باطل ډلو او مسلکونو اړوند معلومات، کلي اصول، بنسټونه او سرچينې يې بيانيږي، د اړتيا پرمهال د باطلو مقابله او د راپورته کړيو پوښتنو ځوابول او د حقو ډلو په اړه د دلايلو په رڼا کې خلکو ته قناعت ورکول د ياد مضمون مهمه موخه ده، نو اړينه ده چې هر محصل خپل دين ته د بلنې په ډګر کې پرقانع کوونکو دلايلو سمبال او د ښو او بدو ترمنځ توپير کوونکی وي.

د مضمون له مطالعې او زده کړې وروسته محصل د اسماني او وضعي اديانو او مذاهبو د مراسمو او شعايرو په اړه باوري، د اديانو او مذاهبو په اړه ليد لوری روښانه کيږي او د خپل دين او مذهب حقانيت ورته څرګندېږي.

د مضمون زده کړه ييزې موخې

د کورس په بشپړيدو سره، زده کونکي به پدې پوه شي:

- د نړۍ د آسماني او وضعي اديانو له اعتقادي اصولو سره د محصلانو آشنا کول.
- د اديانو د مطالعې په پايله کې د اسلام سپېڅلي دين حقانيت څرګندول.
- د باطلو اديانو، فرقو او مذاهبو پېژندل، له اضرارو څخه يې ځان خوندي کول او شکوکو او شبهاتو ته يې په مستدله او علمي توګه ځوابونه موندل.
- د دعوت او بلنې په ډګر کې د اديانو او مذاهبو په اړه کافي معلومات ترلاسه کول، او د اسلام د سپېڅلي دين د دفاع او بلنې په لارکې ترې ګټه اخيستل.

د مضمون تمه شوي پايلې

د دې کورس د بشپړولو لپاره، محصلان بايد لاندې فعاليتونه په عمل کې ترسره کړي او وکولی شي:

- د «دين» او «مذهب» مفاهيم په سمه توګه درک کړي او د دواړو تر منځ بنسټيز توپيرونه وپېژني.
- د نړۍ د سترو اديانو (ابراهيمي، هندو، بودايي، زرتشتي او نورو) له تاريخچې او د رامنځته کېدو له بنسټونو سره آشنايي وموميِ.
- د بېلابېلو اديانو اساسي ښوونې، مقدس متون او بنسټيز باورونه وپېژني.
- د سترو اديانو تر منځ د خدا پېژندنې، نړۍ پېژندنې او انسان پېژندنې په برخو کې تشابهات او توپيرونه درک کړي.
- د اسلام د اصلي مذهبونو (شيعه، سني، تصوف او نور) تاريخچه او د هغوی د رامنځته کېدو بهير وپېژني.

د تدريس او زده کړې طريقې

- لکچرونه وړاندې کول، سپينه تخته، ملټي ميډيا پريزنټشنونه او کتابونه.
- دمحصل محوري ميتود له مخې ددرسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.
- کورنۍ دندې، ډله ايز بحث، د قضيې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې.
- ازموينه، کوئز، پريزنټشنونه، د سمولو تمرينونه (د رول لوبول).

د محصلانو د ارزونې طريقه

- صنفي فعاليت او حاضري (۱۰ %)
- کورنۍ وظيفه (۱۰ %)
- د سمستر منځنۍ ازموينه (۲۰ %)
- د سمستر وروستۍ ازموينه (٦٠ %)

د مضمون درسي مفردات: (فصلونه او فرعي عنوانونه)

لومړۍ څپرکی: د دين پېژندنه

- د دين لغوي معنا
- د دين اصطلاحي تعريف،د دين اهميت او اړتيا
- د دين ډولونه: آسماني او غير آسماني، د دين، مسلک، مذهب او منهج ترمنځ توپير

دوهمه څپرکی: الهي اديان او اسلام

- الهي اديان پېژندنه
- اسلام د وروستي کامل دين په توګه، د اسلام د حقانيت، کمال او شموليت دلايل
- د اسلام ځانګړتياوې، د شريعت، طريقت او مذهب ترمنځ اړيکې
- مشهورې کلامي، فقهي او تصوفي فرقې

دریمه څپرکی: تحریف شوي اسماني ادیان

- یهودیت تعریف، تأسیس، شخصیتونه، معاصرې فرقې، کتابونه، عقاید، د تحریف دلایل، د خپرېدو سیمې
- نصرانیت تعریف، تأسیس، شخصیتونه، معاصرې فرقې، کتابونه، عقاید، د تحریف دلایل، د خپرېدو سیمې
- صابئین تعریف، تأسیس، شخصیتونه، عقاید، د خپرېدو سیمې

څلورمه څپرکی: غیر اسماني شرقي ادیان

- زردشتیت تعریف، تأسیس، شخصیتونه، کتابونه، عقاید، د خپرېدو سیمې
- هندوایزم تعریف، تأسیس، شخصیتونه، کتابونه، عقاید، د خپرېدو سیمې
- بودایزم تعریف، تأسیس، شخصیتونه، کتابونه، عقاید، د خپرېدو سیمې
- کنفوشیزم تعریف، کتابونه، شخصیتونه، عقاید، د خپرېدو سیمې
- شنټوایزم تعریف، تأسیس، شخصیتونه، کتابونه، عقاید، د خپرېدو سیمې

پنځمه څپرکی: مهمې تاریخي فرقې

- نصیریه، قرامطه، دروز، اسماعیلیه
- اغاخانیه تعریف، تأسیس، شخصیتونه، عقاید، خپرېدو سیمې بهائیت، قادیانیت
- پروېزیت تعریف، تأسیس، شخصیتونه، عقاید، خپرېدو سیمې

شپږمه څپرکی: معاصر فکري، اقتصادي او سیاسي نظامونه

- کمونیزم او سوشیالیزم تعریف، تأسیس، شخصیتونه، اصول، خپرېدو سیمې، نیمګړتیاوې
- کاپیټالیزم تعریف، تأسیس، شخصیتونه، اصول، خپرېدو سیمې، نیمګړتیاوې
- سیکولریزم تعریف، تأسیس، شخصیتونه، اصول، خپرېدو سیمې، نیمګړتیاوې

اوومه څپرکی: د غربتوب نوې نظریې

- تغریب: مفهوم، اهداف، ډګرونه، د مخنیوي لارې
- نړیوالتوب: مفهوم، ډولونه، سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي ساحې، د توحید او تقریب الأدیان فتنه

اتمه څپرکی: اسلام او جدیدیت

- تعریف او پېژندنه
- اړتیا
- اغېزې
- نیمګړتیاوې

د (اديان او مذاهب) مضمون اونيز پلان

اونۍ	منځپانګه	اونيز درسي ساعتونه			
		ټولټال	نظري	عملي	ساحوي
لومړۍ	د دين لغوي معنا. د دين اصطلاحي تعريف. د دين اهميت او اړتيا. د دين ډولونه: آسماني اديان، غير آسماني اديان د دين، مسلک، مذهب او منهج ترمنځ توپير	۱	۱		
دوهمه	الهي اديان: اسلام د الهي اديانو په لړ کې د وروستني کامل دين په توګه: د سلام پېژندنه. د سلام د حقانيت، کمال او شموليت دلايل. د اسلام د سپېځلي دين ځانګړتياوې. د شريعت، طريقت او مذهب ترمنځ اړيکه او مشهوره کلامي، فهي او تصوفي فرقې، مذاهب او طريقې.	۱	۱		
درېيمه	اسماني تحريف شوي او منسوخ اديان په پخوانی او معاصره بڼه: يهوديت: تعريف تأسيس او مهم شخصيتونه، او معاصرې فرقې يې، کتابونه، افکار او عقايد يې. د يهوديتد د تحريف، منسوخيت او بطلان دلايل د خپرېدو او اغېز ځايونه يې.	۱	۱		
څلورمه	نصرانيت (مسيحيت) تعريف. تأسيس او مهم شخصيتونه، او معاصرې فرقې يې. کتابونه ، افکار او عقايد يې. د مسيحيت د تحريف، منسوخيت او بطلان دلايل. د خپرېدو او اغېز ځايونه يې.	۱	۱		
پنځمه	الصابئة: تعريف. تأسيس او مهم شخصيتونه او معاصرې فرقې يې. افکار او عقايد يې. د خپرېدو او اغيز ځايونه يې	۱	۱		
شپږمه	د غير اسماني شرقي اديانو تعريف. د زردشتيت تعريف. تاسيس او مهم شخصيتونه يې. کتابونه ، افکار او عقايد يې د خپريدو او اغېز ځايونه يې.	۱	۱		

اوومه	د هندوایزم تعریف تاسیس او مهم شخصیتونه یې. کتابونه ، افکار او عقاید یې د خپریدو او اغېز ځایونه یې.	۱	۱		
اتمه	د بودایزم تعریف: تاسیس او مهم شخصیتونه یې. کتابونه ، افکار او عقاید یې د خپریدو او اغېز ځایونه یې.	۱	۱		
نهمه	د کنفوشیزم تعریف. د شنتوایزم تعریف. تاسیس او مهم شخصیتونه یې. کتابونه ، افکار او عقاید یې د خپریدو او اغېز ځایونه یې. د شنتوایزم تعریف تاسیس او مهم شخصیتونه یې. کتابونه ، افکار او عقاید یې د خپریدو او اغېز ځایونه یې.	۱	۱		
لسمه	ځینې مشهوري فرقې. نصیریه، قرامطه، دروز، اسماعیلیه او اغاخانیه فرقې. تعریفونه یې. تاسیس او مهم شخصیتونه یې. افکار او عقاید یې د خپریدو او اغېز ځایونه یې.	۱	۱		
یوولسمه	د بهائیت، قادیانیت او پروېزیت فرقې. تعریفونه یې. تاسیس او مهم شخصیتونه یې. افکار او عقاید یې د خپریدو او اغېز ځایونه یې.	۱	۱		
دولسمه	ځینې مهم معاصر فکري، اقتصادي، سیاسي او ټولنیز نظامونه: د کمونیزم (الشیوعیة) او سوشیالیزم (الاشتراکیة) تعریف تاسیس او مهم شخصیتونه یې. افکار عقاید او اصول یې د خپریدو او اغېز ځایونه یې. نیمګړتیاوې او د بطلان دلایل یې.	۱	۱		
دیارلسمه	د کاپیټالیزم (الرأسمالیة) تعریف تاسیس او مهم شخصیتونه یې. افکار عقاید او اصول یې د خپریدو او اغېز ځایونه یې. نیمګړتیاوې او د بطلان دلایل یې.	۱	۱		

څوارلسمه	دسیکولریزم تعریف. تاسیس او مهم شخصیتونه یې. افکار عقاید او اصول یي د خپریدو او اغېز ځایونه یې. نیمګړتیاوې او د بطلان دلایل یې. التغریب (غرب ګرایي) د تغریب مفهوم، اهداف او ډګرونه او مخنیوی یې.	۱	۱		
پنځلسمه	نړیوالتوب، مفهوم، ډولونه او ډګرونه یې. سیاسي. اقتصادي. فرهنګي.اجتماعي. د بشریت او اسلام ضد فتنه،توحید او تقریب الأدیان.	۱	۱		
شپاړلسمه	اسلام او جدیدیت: پېژندنه. اړیتا، اغېزې او نیمګړتیاوې یې.	۱	۱		

مقرر کتاب	محتوا او نوي درسي کتابونه دې د دې نصاب له ټاکل شویو مفرداتو سره سم، د لوړو زده کړو وزارت تر څارنې او سرپرستۍ لاندې، د رسمي ژبو ترڅنګ په انګلیسي ژبه کې د (تجربوي او طبیعي علومو) او په عربي ژبه کې د (ټولنیزو علومو) لپاره د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره ترتیب او تألیف شي: • په تجربوي علومو کې دې د مضمون محتوا د وروستیو پرمختګونو سره سم ترتیب شي، او چیرې چې اړتیا وي د مسلمان پوهانو رول او لاسته راوړنې دې هم پکې یادې شي. • په ټولنیزو، انساني او ادبي علومو کې دې دیني اصل وساتل شي او په ساینسي او طبیعي علومو کې چیرې چې اړتیا وي،د ظاهري علتونو ترڅنګ دې الهي او شرعي اړخ هم ذکر شي،لکه: زلزله، باران، طوفان، د اقلیم بدلون، د نفوس کنټرول، د انساني اعضاوو پیوند او داسې نور.

د سرچینو فهرست	
اصلی سرچینی	۱. الملل والنحل للعلامة محمد بن عبدالکریم الشهرستاني. ۲. اظهارالحق للشیخ محمد رحمة الله الکیرانوي. ۳. ماهی النصرانیة؟ مفتي محمد تقي العثماني
مرستندوی سرچینی	٤. الموسوعة المیسرة فی الأدیان والمذاهب المعاصرة، الندوة العالمیة للشباب الاسلام. ٥. الاتجاهات الفکریة المعاصرة للشیخ علي محمد جریشة. ٦. المستشرقون والاسلام للدکتور مصطفی السباعي.

د (اسلام سياسي نظام) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان

پوهنتون	سلام پوهنتون
پوهنځی	اقتصاد
ډيپارټمنټ	د سوداګرۍ اداره
د پروګرام عنوان	د سوداګرۍ اداري ليسانس
د مضمون کوډ	SL.IC.0579
د کريډيتونو شمير	۲
کټګوري	ټول شموله
مخکيني مضمون	نلري
سمستر	پنځم

د مضمون لنډه پېژندنه

د اسلام سياسي نظام يو له هغو نظامونو څخه دی چې په اړه يې نن ورځ ترټولو زياتې شبهې شتون لري او له ډېرو بريدونو سره مخ دی، تردې چې د ځينو خبرو مسلمانانو ترمنځ د دې پوچې نظريې د خپرېدو لامل شوی دی چې وايی سياست له دين څخه جلا دی.

دا نظام چې په پنځم سمستر کې تدريسيږی په ترڅ کې يې محصلان د سمستر په پای کې د دين او سياست د اړيکې په اړه د اثبات دلايلو، د اسلام د سياسي نظام اصولوو اساساتو، جوړښتونو او اهدافو په اړه مستدل او کلي معلومات ترلاسه کوي.

محصل پوهيږي چې په اسلام کې دولت څنګه جوړيږي .د اسلامي واکمن حقوق او وظايف څه دي؟ د رعيت مکلفيتونه څه دی؟ څرنګه اسلامي دولت له نورو دولتونو سره خپلې اړيکې رغوي؟ همداراز په اسلام کې د سولې او جګړې ارزښت او دا چې اسلام څرنګه سوله تامينوي، د سولې بېلابېل ډولونه او د نړی له ټولو هېوادونو سره څرنګه سوله او په کومو شروطو او موخو رامنځته کېدای شي.

د مضمون زده کړه ييزې موخې

د کورس په بشپړيدو سره، زده کونکي به پدې پوه شي:

- د سياست له مفهوم او په اسلامي سياست کې د اسلام د سياسي نظام له نظريې سره اشنايي، د اسلام د سياسي نظام د بنسټونو پېژندنه او د اسلامي واکمن او د رعيت حقوق او وجايب پېژندل.
- د شرعي او علي سرچينو له مخې دين سره د سياست اړيکه ، په اسلام کې د سياست او د دين د جلاوالي لاملونه پېژندل او ترديد يې.
- د اسلام د سياسي نظام سرچينې پېژندل، د دولت تشکيلوونکې قوې او د هرې يوې صلاحيتونه، او د اسلام په سياسي نظام کې د شورا ارزښت پېژندل.
- د ټولنيز عدالت د تامين اصول، له نامسلمانانو سره چلن او د اسلامي دولت له نورو غير اسلامي دولتونو سره د سولې او جنګ په حالتونو کې اړيکې پېژندل.

د مضمون تمه شوي پايلې

د دې کورس د بشپړولو لپاره، محصلان بايد لاندې فعاليتونه په عمل کې ترسره کړي او وکولی شي:

- د اسلامي سياسي نظام بنسټونه او موخې د توحيد، عدالت، امامت او شوری پر محور باندې درک کړي.
- د الهي حاکميت مفهوم وپېژني او د هغه توپير له سکولار نظامونو کې د ولسي حاکميت سره تحليل کړي.
- د اسلامي نظام د حاکم او قانون جوړوونکي ځانګړنې (لکه علم، عدالت، تقوا او کفايت) وپېژني.
- د حاکم او ولس تر منځ متقابل حقوق او مسؤليتونه په اسلامي سياسي چوکاټ کې درک کړي.
- د اسلامي سياسي نظام اساسي بنسټونه (مشرتوب، اجرائيه، مقننه او قضائيه قوا) وپېژني.
- د «بيعت» مفهوم د اسلامي حکومت د مشروعيت د يوه ميکانيزم په توګه درک کړي.
- د شوری او مشورې رول د اسلامي نظام د ستراتيژيکو پرېکړو په نيولو کې تحليل کړي.
- د اسلامي دولت دنده او مسؤليتونه د داخلي او نړيوالو اړيکو په ساحو کې وپېژني.
- د امت اسلامي مفهوم او د هغې مقام د اسلامي سياسي نظام په جوړښت کې درک کړي

د تدريس او زده کړې طريقې

- لکچرونه وړاندې کول، سپينه تخته، ملټي ميډيا پريزنټشنونه او کتابونه.
- دمحصل محوري ميتود له مخې ددرسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.
- کورنۍ دندې، ډله ايز بحث، د قضيې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې.
- ازموينه، کوئز، پريزنټشنونه، د سمولو تمرينونه (د رول لوبول).

د محصلانو د ارزونې طريقه

- صنفي فعاليت او حاضري (۱۰ %)
- کورنۍ وظيفه (۱۰ %)
- د سمستر منځنۍ ازموينه (۲۰ %)
- د سمستر وروستۍ ازموينه (۶۰ %)

د مضمون درسي مفردات: (فصلونه او فرعي عنوانونه)

لومړۍ څپرکی: د سياسي نظام عمومي پېژندنه

- د سياسي نظام مفهوم او تعريف، اهميت او تاريخي شاليد
- د شرعي سياست تعريف، موضوع، غرض، مشروعيت او اهميت
- اسلام او سياست: تړاو، خای، د دين او سياست تلازم او د جلاوالي پايلې
- شرعي او وضعي سياست پرتله، د اصطلاحاتو پېژندنه: ايمان، دين، شريعت، فقه، حقوق، قانون
- د سياسي افکارو تاريخ:، د نامسلمانو نظريات؛ فطري حالت، اجتماعي تړون، ځواک نظريه، پلارواکي او الهي اصل.
- د مسلمانانو نظريات؛ وحي، الهي حاکميت، خلافت

دوهمه څپرکی: نړیوال سیاسي نظامونه او ډیموکراسي

- عمده سیاسي نظامونه: شاهي، اشراف واکي، دیکتاتوري، ډیموکراسي، جمهوریت
- د ډیموکراسي تعریف، فلسفه، فکري بنسټونه، تاریخي لاملونه
- د ډیموکراتیکو ادارو رامنځته کېدل: سیاسي ګوندونه، ټاکنې، اساسي قانون، مقننه
- د جمهوریت او ډیموکراسي نقد او پرتله

دریمه څپرکی: د اسلام سیاسي نظام

- د سرچینو وېش: اصلي او اتفاقي، فرعي او اختلافي
- د اسلام د سیاسي نظام بنسټونه، اهداف، ځانګړتیاوې او اصول
- د دولت تعریف، اهمیت، رامنځته کېدو نظریې او عناصر
- په اسلام کې د دولت مفهوم، اهمیت او ارکان، د حکومت تعریف، مشروعیت او سرچینې
- د اسلامي دولت مشر: نومونه، حیثیت، شرایط او صفات
- د امیر ټاکنه: حکم، طریقې، بیعت، شورا، استخلاف، استیلا او پرتله یې

څلورمه څپرکی: د دولت جوړښت او اداره

- د امام او رعیت حقوق او وجایب
- په اسلام کې د حکومت مسؤلیتونه: عدالت، امنیت، حدود، زکات، شریعت حاکمول
- وزیران: تعریف، ډولونه، شرایط، ټاکنه او صلاحیتونه، والیانو: شرایط، ټاکنه، عزل، مسؤلیتونه
- د امام عزل، دلایل او طریقې، بغاوت او احکام یې

پنځمه څپرکی: مقننه او قضائیه قوه

- مقننه قوه: تعریف، اهمیت، تاریخ، په اسلام کې قانون جوړونې اصول، حدود او ساحه
- شورا: تعریف، نومونه، ډولونه، مشروعیت، غړي، شرایط او صلاحیتونه
- د اسلامي مقننه قوې پرتله معاصر نظامونو سره، قضائیه قوه: تعریف، اهمیت، تاریخ، مشروعیت او فضیلت
- قضایي اصول، خپلواکي، د قاضي شرایط، صفات او مسؤلیتونه
- د اسلامي قضائیه قوې پرتله معاصر قضایي نظامونو سره

شپږمه څپرکی: نړیوالې اړیکې او نړیوال حقوق

- د اسلامي هېواد اړیکې له اسلامي هېوادونو سره
- د غیراسلامي هېوادونو ډولونه: دارالحرب، دارالأمن
- په جنګ کې د اړیکو اصول، د جهاد مشروعیت، حکم او آداب، په سوله کې اصول، ټرونونه او شروط
- په اسلام کې د انساني اړیکو بنسټونه: کرامت، وحدت، تسامح، عدالت، مرسته، وفا
- د ګډې دفاع ټرونونه او اصول

د (اسلام سياسي نظام) مضمون اونيز پلان

اونۍ	منځپانګه	اونيز درسي ساعتونه			
		ټولټال	نظري	عملي	ساحوي
لومړۍ	د سياسی نظام مفهوم: د سياسي نظام تعريف. اهميت او تاريخ د شرعي سياست تعريف، موضوعو غرضو مشروعيت، شرعي حكم، اهميت د اسلام او سياست ترمنځ ټراو او په اسلام کې د سياست ځای. له دين سره يې د تلازم دلايل او له دين څخه يې د جلاوالي لاملونه او پايلې. د شرعي او وضعي سياست مقايسه او پرتله. د اصطلاحاتو پېژندنه. ايمان، دين شريعت، فقه، حقوق، او قانون	۲	۲		
دوهمه	د سياسي افكارو تاريخ او ليد لوری. د نامسلمانو له نظره د سياسي افكارو تاريخ او ليد لوری.فطري حالت د ټولنيز ټرون نظريه. د ځواک نظريه د پلارواکی نظريه .د الهي اصل نظريه د مسلمانانو له نظره د سياسي افكارو تاريخ او ليد لوری. وحي، الهي حاكميت او خلافت.	۲	۲		
درېيمه	د نړی بېلابېل عمده سياسی نظامونه. شاهي . Monarchy اشراف واکي . Aristocracy ديکتاتوري Dictatorship ډيموکراسي Democracy جمهوريت Republic	۲	۲		
څلورمه	جمهوريت او ډيموکراسي .د ډيموکراسي تعريف فلسفه او فکري بنسټونه يې د ډيموکراسی د منځته کېدو تاريخي لاملونه د ډيموکراسی له اغېزې جوړې شوې اداړې سياسی گوندونه.تاکنې .مقننه .اساسي قانون د جمهوريت او ډيموکراسی نقد او پرتله	۲	۲		
پنځمه	د اسلام د سياسي نظام سرچينې اصلي او اتفاقي سرچينې. فرعي او اختلافي سرچينې. د اسلام د سياسي نظام بنسټونه. د اسلام د سياسي نظام اهداف.	۲	۲		

شپږمه	د اسلام د سیاسي نظام ځانګړتیاوې. د اسلام د سیاسي نظام اساسي ا صول. د اسلام دسیاسي نظام شرطونه.	۲	۲		
اوومه	د دولت تعریف، اهمیت، تاریخ، د رامنځته کېدو لاملونه او بېلابېلې نظریې او د تشکیل عناصریې. د اسلام په سیاسي نظام کې د دولت تعریف،اهمیت، تاریخ د دولت بنسټیز عناصر او ارکان د حکومت تعریف، مشروعیت او د مشروعیت منابع.	۲	۲		
اتمه	د اسلام په سیاسي نظام کې د دولت مشر نومونه، القاب او شرعي حیثیت یې. د دولت د مشر شروط او مواصفات. د امیر د ټاکلو شرعي حکم د امیر د ټاکلو طرېقې. بیعت د بیعت تعریف د بیعت مشروعیت. د بیعت حکم د بیعت ډولونه شورا (اهل حل او عقد) استخلاف د استخلاف تعریف. داستخلاف مشروعیت د استخلاف ډولونه.د استخلاف شرعي حکم د استخلاف او ولیعهدی ترمنځ فرق استیلاء د استیلاء تعریف .د استیلاء ډولونه د استیلاء شرعی حکم د شرعي او ضعي ټاکنیز نظام ترمنځ فرق او پرتله.	۲	۲		
نهمه	په اسلامي نظام کې د امام او رعیت حقوق او وجایب. په اسلام کې د حقوقو او جایبو اصول او اساسات د امام حقوق، اطاعت، نصیحت، مرسته درناوی، له بیت المال څخه یې لګښت دعاء د امام او اسلامي حکومت و جایب او مسؤولیتونه له شرعي اصولو سره سم د دولت چارې اداره کول. دولتي منصبونو ته امین او وړ افراد ټاکل د دین ساتل او شریعت حاکمول حدود قایمول .زکات راټولول ا و بیت المال تنظیمول. عدل او انصاف پلي کول.په نیکیو امر او له بدیو منع کول .عبادات قایمول .امنیت تامینول د رعیت حقوق تامینول .د دولت له حریم څخه دفاع.	۲	۲		

لسمه	وزيران او واليان. د وزير تعريف، د وزيرانو ډولونه، د تفويض وزير، د تنفيذ وزير. د وزيرانو شروط او صفات او د تاکلو طريقه او عزل يې. د وزيرانو صلاحيتونه او مسؤوليتونه. د والي تعريف، شروط او صفات، د تاکلو طريقه او عزل. صلاحيتونه او مسؤوليتونه. د امام عزل، د عزل اسبابو د عزل صلاحيت او طريقې. د اسلامي نظام پر خلاف بغاوت او احکام يې.	۲	۲		
يوولسمه	مقننه قوه. د مقننه قوې تعريفو اهميت او تاريخ، د اسلام په سياسي نظام کې د قانون جوړونې اصول او اساسات. په اسلام کې د قانون جوړونې حدود، ساحه او مجال. شورا: د شورا تعريف. د شورا نومونه. د شورا ډولونه. ملزمه شورا، معلمه شورا. سياسي شورا تقنيني شورا د شورا مشروعيت. د شورا حکم.	۲	۲		
دولسمه	د شورا د غړو تعداد، شروط او صفات. د شورا د غړو د انتخاب طريقه. د شورا صلاحيتونه او مسؤليتونه. د غړو د انتخاب او عزل صلاحيت د اسلام په سياسي نظام کې مقننه قوه او له نورو معاصرو مقننه قوو سره يې مقارنه.	۲	۲		
ديارلسمه	قضائيه قوه. د قضائيه قوې تعريف او اهميت. د سلام په سياسي نظام کې د قضائيه قوې تعريف، اهميت او تاريخ. د قضائيه قوې مشروعيت، شرعي حکم او فضيلت.	۲	۲		
څوارلسمه	د قضائيه قوې اصولو اساسات او خپلواکي. د قاضي شروط، صفات، ادابو صلاحيتونه او مسؤليتونه. د سلام په سياسي نظام کې قضائيه قوه او له نورو معاصرو قضائيه قوو سره يې پرتله.	۲	۲		

پنځلسمه	نړيوالي اړيکې له نورو اسلامي هېوادونو سره د اسلامي هېواد د اړيکو شرعي اصول. د غير اسلامي هېوادونو سره د اسلامي هېواد د اړيکو شرعي اصول. د غير اسلامي هېوادونو ډولونه. دار الحرب، دار الأمن. د جنګ په حالت کې له غيراسلامي هېوادونو سره د اړيکو اصول او حدود يې. د جهاد مشروعيتو شرعي حکم، فضيلت، حکمت او آداب يې	۲	۲		
شپاړلسمه	د سولې په حالت کې د اړيکو اصول او حدود. د سولې او تړونونو اصول او شروط. په اسلام کې د انساني اړېکو بنسټونه او اصول. انساني کرامت، د انساني ټولنې وحدت تسامح، اخلاقي ارزښتونه. همدردي. عدالت. مرسته. بالمثل معامله. په ژمنه وفا. تړونونه او پرې ژمن پاتې کېدل. د ګډې دفاع تړونونه او شروط يې.	۲	۲		

مقرر کتاب	محتوا او نوي درسي کتابونه دې د دې نصاب له ټاکل شويو مفرداتو سره سم، د لوړو زده کړو وزارت تر څارنې او سرپرستۍ لاندې، د رسمي ژبو ترڅنګ په انګليسي ژبه کې د (تجربوي او طبيعي علومو) او په عربي ژبه کې د (ټولنيزو علومو) لپاره د لاندې ټکو په پام کې نيولو سره ترتيب او تأليف شي: • په تجربوي علومو کې دې د مضمون محتوا د وروستيو پرمختګونو سره سم ترتيب شي، او چيرې چې اړتيا وي د مسلمان پوهانو رول او لاسته راوړنې دې هم پکې يادې شي. • په ټولنيزو، انساني او ادبي علومو کې دې ديني اصل وساتل شي او په ساينسي او طبيعي علومو کې چيرې چې اړتيا وي،د ظاهري علتونو ترڅنګ دې الهي او شرعي اړخ هم ذکر شي،لکه: زلزله، باران، طوفان، د اقليم بدلون، د نفوس کنټرول، د انساني اعضاوو پيوند او داسې نور.

د سرچينو فهرست	
اصلی سرچينی	۱. الآحكام السلطانية، للماوردي ۲. السياسة الشرعية. عبدالوهاب خلاف.
مرستندوی سرچينی	۳. السياسة و الادارة فی الاسلام. عبدالباقي حقاني ٤. اسلام او سياسي اندونه. مفتی محمد تقی عثماني.

د (اسلام اداری نظام) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان

پوهنتون	سلام پوهنتون
پوهنځی	اقتصاد
ډیپارټمنټ	د سوداګرۍ اداره
د پروګرام عنوان	د سوداګرۍ اداري لیسانس
د مضمون کوډ	SL.IC.0580
د کریډیتونو شمیر	۲
کټګوري	ټول شموله
مخکینی مضمون	نلري
سمستر	پنځم

د مضمون لنډه پېژندنه

د اسلامي اداري نظام هم یو له هغو بنسټیزو مضامینو څخه دی چې ډېرى هغو پوښتنو ته پکې ځواب ویل شوی چې ایا اسلام له خپله کوم اداري سېستم او کړنلاره لري او که پهه دې اړه مسلمانان اړ دي چې له نورو زده کړه ترلاسه کړي؟ نو دلته به د اسلام هر اړخیزه اداري کړنلارې او اصول په ګوته کیږي.

دا نظام هم په پنځم سمستر کې تدریسیږي په ترڅ کې یې محصلان د سمستر په پای کې په اسلام کې د اداري جوړښت د اثبات دلایلو، د اسلام اداري نظام اصولو، اساساتو، جوړښتونو او اهدافو په اړه مستدل او کلي معلومات ترلاسه کوي.

د سمستر په پایله کې یې محصل پوهیږی چې په اسلام کی اداري جوړښت څه ډول دی او کوم اصول لري؟ د اداري مراتبو او رعایت څه حیثیت لري؟ د اداري پر وړاندي د رعیت مکلفیتونه څه دي؟ د اسلامي حکومتولئ په اداري چوکاټ کې د خلکو پر وړاندې مسؤولیتونه څه دي؟ همدارنګه کاري وختونه، له بیت المال څخه د واکمن د ګټې اخېستلو حدود او په هغو کې نور تصرفات د کمولو اصولو له مخې کولای شي؟ په ادارو کې ګومارنه او عزل د کومو اصولو له مخې باید وشي او څه ډول خلکو ته لومړیتوب ورکړل شي.

د مضمون زده کړه ییزې موخې

د کورس په بشپړیدو سره، زده کونکي به پدې پوه شي:

- د اداري له مفهوم او په اسلامي حکومتولئ کې د اداري نظام له نظریې سره اشنایي، د اسلام اداري نظام د بنسټونو پیژنده او په اسلامي حکومتولئ کې د اداري اصولو او کړنلارې پېژندنه.
- د شرعي اصولو له مخې په اداره کې د ګومارنې او عزل د اصولو پېژندنه او د هغه د پلي کولو لارې چارې په ګوته کول
- د اسلام د اداري نظام سرچینې پېژندل، د دولت د بېلابېلو ارګانونو تر منځ د اړیکې پېژندنه او د یوبل په کارنو کې د مداخلې او نه مداخلې حدودو پیژندنه.
- د اسلامي واکمن د تیروتنو اصلاح،د مشورې حیثیت او حکم او په پایله کې د قائمې اداري پرخلاف د وتلو حکم پېژندل.

- د ټولنیز عدالت د تامین اصول، د اداري وختونو پیل او پای، د کارمندانو لپاره د حق الزحمې ټاکل او له علمي او کاري وړتیا سره یې سمه اندازه په ګوته کول.

د مضمون تمه شوي پایلې

د دې کورس د بشپړولو لپاره، محصلان باید لاندې فعالیتونه په عمل کې ترسره کړي او وکولی شي:

- د اسلامي اداري نظام بنسټیز مفاهیم (عدالت، شفافیت او مسؤلیت) درک کړي.
- د اسلامي نظام د کارکوونکو او مدیرانو ځانګړنې (امانت، تقوا او کفایت) وپېژني.
- وکړای شي د اداري بنسټونو (لکه دولت، اجرائیه او نظارتي برخې) رول د اسلام له نظره تحلیل کړي.
- له نظارتي او کنترولي میکانیزمونو (امر بالمعروف، نهی عن المنکر، حسابرسي) سره آشنا شي او د هغوی اهمیت درک کړي.
- د ټولنې د اداري او مالي اصولو (لکه انفاق، زکات او د منابعو عادلانه وېش) مفکوره درک کړي.
- وکړای شي د اوسنیو اداري نظامونو نقد د اسلامي معیارونو پر بنسټ ترسره کړي.

د تدریس او زده کړې طریقې

- لکچرونه وړاندې کول، سپینه تخته، ملټي میډیا پریزنټشنونه او کتابونه.
- دمحصل محوري میتود له مخې ددرسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.
- کورنۍ دندې، ډله ایز بحث، د قضیې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې.
- ازموینه، کوئز، پریزنټشنونه، د سمولو تمرینونه (د رول لوبول).

د محصلانو د ارزونې طریقه

- صنفي فعالیت او حاضري (۱۰ %)
- کورنۍ وظیفه (۱۰ %)
- د سمستر منځنۍ ازموینه (۲۰ %)
- د سمستر وروستۍ ازموینه (٦۰ %)

د مضمون درسي مفردات: (فصلونه او فرعي عنوانونه)

لومړۍ څپرکی: د اداري پېژندنه

- د اداري لغوي او اصطلاحي معنا، د اداري ډولونه، د اداري تاریخ او اهمیت
- د پیغمبرانو علیهم السلام په تاریخ کې اداره، د رسول الله صلی الله علیه وسلم او راشده خلفاوو په وخت کې اداره

دوهمه څپرکی: د اداري د احکامو سرچینې او مقاصد

- د اداري احکامو د استخراج سرچینې، د اداري احکامو اهداف او مقاصد
- د اسلامي اداري ځانګړتیاوې، د اسلامي اداري د جوړولو ضرورت

دریمه څپرکی: د حاکمانو او مسؤولینو ټاکنه

- په اداره کې د حاکمانو او مسؤولینو د ټاکلو اړتیا، د حاکمانو او مسؤولینو ټاکنه، د ټاکلو صلاحیت او اختیار

- په اسلامي اداره کې د ټاکلو اصول، د لوړپوړو مسؤولینو په ټاکنه کې مشوره
- د حاکم او مسؤول ځانګړتیاوې، امانتداري، اهلیت او نور

څلورمه څپرکی: د منصب غوښتنه او مسؤولیت

- د منصب او مقام غوښتنه، له ټولنیزو ګټو پرته د منصب غوښتنه، د ټولنیزو ګټو لپاره د منصب غوښتنه
- د دیني او ټولنیزو مصلحتونو پر بنسټ د منصب منل، د نیک حاکم مرتبه، اجر او ثواب

پنځمه څپرکی: د ټاکنو تګلاره او اداري تنظیم

- له علمي، بدني وړتیا سره سم منصب سپارل د ګومارل شوي تن ازمویل، په ګومارنه کې اصلح ته په صالح ترجیح ورکول
- د ټاکونکي دندې او مسؤولیتونه، ټاکل شویو حاکمانو ته لارښوونې
- د ټاکل شویو اړتیاوې پوره کول، د امیر سپارښتنې، مشورې او لارښوونې

شپږمه څپرکی: ځارنه، محاسبه او اداري عدالت

- د حاکمانو دندې او وجایب، د عالمانو او پوهانو د مشورو پابندي
- د وخت پابندي، له منصب څخه د ناوړې ګټې اخیستنې حرمت، د خلکو نیوکې اورېدل او اصلاح
- د مسؤولینو ځارنه، د ځارنې حدود او اداب، ظالم حاکم ته سزا ورکول، د مکافاتو او مجازاتو اصل
- د حاکمانو او مسؤولینو عزل او شرطونه

د (اسلام اداري نظام) مضمون اونیز پلان

اونۍ	منځپانګه	اونیز درسي ساعتونه			
		ټولټال	نظري	عملي	ساحوي
لومړۍ	د اداري لغوي او اصطلاحي معنا. د اداري ډولونه.د اداري تاریخ او اهمیت.	۲	۲		
دوهمه	د پیغمبرانو علیهم السلام په تاریخ کې اداره. د رسول الله صلی الله علیه وسلم او راشده خلفاوو په وخت کې اداره.	۲	۲		
دریمه	د اداري احکامو د استخراج سرچینې. د اداري احکامو اهداف او مقاصد.د اسلامي اداري ځانګړتیاوې.	۲	۲		
څلورمه	د اسلامي اداري د جوړولو ضرورت او په اداره کې د حاکمانو او مسؤولینو د ټاکلو اړتیا. د حاکمانو او مسؤولینو ټاکنه.	۲	۲		
پنځمه	د حاکمانو او مسؤولینو د ټاکلو صلاحیت او اختیار. په اسلامي اداره کې د ټاکلو ا صول.	۲	۲		
شپږمه	د لوړپوړو حاکمانو او مسؤولینو په ټاکنه کې مشوره. د حاکم او مسؤول ځانګړتیاوې.امانتداریو اهلیت او داسې نور.	۲	۲		
اووه	د منصب او مقام غوښتنه له ټولنیزو ګټو پرته د منصب غوښتنه. د ټولنیزو ګټو لپاره د منصب غوښتنه.	۲	۲		

اتمه	د يني او ټولنيزو مصلحتونو پر بنسټ مسؤوليت او منصب سمبالول او د پيغمبرانو عليهم السلام سنت. په اسلامي شريعت کې د نيک حاکم مرتبه. اجر او ثواب.	۲	۲		
نهمه	د ټاکنو تګلاره او اصول له علمي او بدني وړتيا سره سم منصب سپارل او ګټې يې د ګومارل شوي تن ازمويل په ګومارنه کې اصلح ته په صالح ترجيح ورکول	۲	۲		
لسمه	د ټاکونکي دندې او مسؤوليتونه ټاکل شويو حاکمانو ته لارښوونې	۲	۲		
يوولسمه	د ټاکل شويو حاکمانو اړتياوې پوره کول ګومارل شويو ته د امير سپارښتنې، مشورې او لارښوونې	۲	۲		
دولسمه	د حاکمانو دندې او وجيبې د ديندارو، عالمانو او پوهانو د مشورو پابندي	۲	۲		
ديارلسمه	د وخت پابندي، له منصب څخه د ناوړې ګټې اخيستنې حرمت، د خلکو نيوکې اورېدل او اصلاح	۲	۲		
څوارلسمه	د مسؤولينو څارنه، د څارنې حدود، د څارنې اداب او کړنلار	۲	۲		
پنځلسمه	ظالم حاکم ته سزا ورکول د مکافاتو او مجازاتو اصل	۲	۲		
شپاړلسمه	د حاکمانو او مسؤولينو عزل او شرطونه يې	۲	۲		

مقرر کتاب	محتوا او نوي درسي کتابونه دې د دې نصاب له ټاکل شويو مفرداتو سره سم، د لوړو زده کړو وزارت تر څارنې او سرپرستۍ لاندې، د رسمي ژبو ترڅنګ په انګليسي ژبه کې د (تجربوي او طبيعي علومو) او په عربي ژبه کې د (ټولنيزو علومو) لپاره د لاندې ټکو په پام کې نيولو سره ترتيب او تأليف شي: • په تجربوي علومو کې دې د مضمون محتوا د وروستيو پرمختګونو سره سم ترتيب شي، او چيرې چې اړتيا وي د مسلمان پوهانو رول او لاسته راوړنې دې هم پکې يادې شي. • په ټولنيزو، انساني او ادبي علومو کې دې ديني اصل وساتل شي او په ساينسي او طبيعي علومو کې چيرې چې اړتيا وي،د ظاهري علتونو ترڅنګ دې الهي او شرعي اړخ هم ذکر شي،لکه: زلزله، باران، طوفان، د اقليم بدلون، د نفوس کنټرول، د انساني اعضاوو پيوند او داسې نور.

د سرچينو فهرست	
اصلی سرچينی	۱. الآحكام السلطانية، للماوردي ۲. السياسة الشرعية. عبدالوهاب خلاف.
مرستندوی سرچينی	۳. السياسة و الادارة فی الاسلام. عبدالباقي حقاني ٤. اسلام او سياسي اندونه. مفتی محمد تقی عثماني.

د (اسلام اقتصادي نظام) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان

پوهنتون	سلام پوهنتون
پوهنځی	اقتصاد
ډيپارټمنټ	د سوداګرۍ اداره
د پروګرام عنوان	د سوداګرۍ اداري ليسانس
د مضمون کوډ	SL.IC.0681
د کريډيتونو شمير	۲
کټګوري	ټول شموله
مخکيني مضمون	نلري
سمستر	شپږم

د مضمون لنډه پېژندنه

اقتصاد د بشري ژوند د ملا د تير په څېر د بشر له مهمو ا ړتياوو څخه ګنل کيږي، د اسلام سپيڅلی دين نه يوازې اقتصادي احکام لري، بلکې د عباداتو له جملې څخه په اسلام کې يو مهم مالي عبادات زکات دی، له همدې امله د اسلامي ثقافت د نصاب په چوکاټ کې په شپږم سمستر کې د اسلام اقتصادي نظام لوستل کيږي.

د سمستر په پايله کې يې محصل پوهيږی د اقتصادي نظامونو، د مال او په اسلام کې يې د ارزښت او هدف، د ملکيت ډولونو، عوايدو، مصارفو او د مال د ګټلو او ورته وده ورکولو د شرطونو په اړه کړي معلومات ترلاسه کوي او د فردي او ټولنيز اقتصاد په رغيدو او وده کې د اسلامي لارښوونو او احکامو په پلي کولو کې هر اړخيز کوښښ کوي.

د مضمون زده کړه ييزې موخې

د کورس په بشپړيدو سره، زده کونکي به پدې پوه شي:

- د اسلامي اقتصادي نظام کي مباحث او مفاهيم پيژندل او د نورو وضعي اقتصاي نظامونو په اړه پرتليز او مقايسوي معلومات ترلاسه کول.
- په عوايدو، مصارفو او د شتمنۍ په وېش کې د اسلام اقتصادي نظام او د نورو وضعي نظامونو لکه سوسيالستي او پانګوال نظامونو تر منځ توپيرونه پيژندل.
- د اسلام په اقتصادي نظام کې د ملکيت ډولونه او د هر ډول ځانګړنې پيژندل.
- په اسلام کې د خصوصي ملکيت مشروع او نامشروع اسباب، د سود ډولونه، احکام او د حرمت فلسفه او سودي اجناس پيژندل.
- د مشروع شرکت ډولونه پيژندل او د بيمې له احکامو او ډولونو سره بلدتيا، او د بيمې د بديل په توګه تکافل پيژندل.

د مضمون تمه شوي پايلې

د دې کورس د بشپړولو لپاره، محصلان بايد لاندې فعاليتونه په عمل کې ترسره کړي او وکولی شي:

- د اسلامي اقتصادي نظام بنسټونه او موخې (توحيد، عدالت، تعادل او عامه مصلحت) درک کړي او د هغې
- توپير له نورو اقتصادي نظامونو (سرمايه‌داری، سوسياليزم) سره وپېژني.
- د مالي منابعو د تأمين اسلامي ميکانيزمونه (زکات، خمس، انفال، جزيه، خراج) وپېژني او د هغوی رول د شتمنۍ په عادلانه وېش کې تحليل کړي.
- د تجارت او معاملاتو اصول د اسلام له نظره (حلال او حرام، ربا، غرر، احتکار) درک کړي او د هغوی اغېز د اقتصاد پر سلامتۍ وڅېړي.
- د مالکيت مفهوم په اسلام کې (شخصي، عامه او دولتي مالکيت) وپېژني او د هغې حدود د ټولنيزو مصالحو له مخې درک کړي.
- د افرادو اقتصادي حقونه (د کار حق، د ټولنيز تأمين حق، د حداقل معيشت حق) وپېژني او د دولت مسؤليتونه په دې برخه کې درک کړي.
- د اسلامي اقتصادي بنسټونو (بيت‌المال، وقف، قرض‌الحسنه) سره آشنا شي او د هغوی رول د اقتصادي پراختيا په بهير کې تحليل کړي.
- د اخلاقو او اسلامي ارزښتونو رول (رښتينولي، امانت، له اسرافه ډډه) د اقتصادي فعاليتونو په تنظيم کې وپېژني.
- وکړای شي معاصر اقتصادي ستونزې (پرسوب، بې‌کاری، فقر) د اسلامي اقتصادي نظام له ليدلوري تحليل کړي.
- د مالي او پولي سياستونو اصول په اسلام کې (د بازار تنظيم، د قيمتونو کنټرول، مالياتي سياستونه) وپېژني.

د تدريس او زده کړې طريقې

- لکچرونه وړاندې کول، سپينه تخته، ملټي ميډيا پريزنټېشنونه او کتابونه.
- دمحصل محوري ميتود له مخې ددرسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.
- کورنۍ دندې، ډله ايز بحث، د قضيې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې.
- ازموينه، کوئز، پريزنټېشنونه، د سمولو تمرينونه (د رول لوبول).

د محصلانو د ارزونې طريقه

- صنفي فعاليت او حاضري (۱۰ %)
- کورنۍ وظيفه (۱۰ %)
- د سمستر منځنۍ ازموينه (۲۰ %)
- د سمستر وروستۍ ازموينه (٦٠ %)

د مضمون درسي مفردات: (فصلونه او فرعي عنوانونه)

لومړۍ څپرکی: د اقتصادي نظام عمومي پېژندنه

- د اقتصادي نظام تعریف، موضوع، اهمیت، اهداف او تاریخ
- د اقتصادي نظام بنسټیز مسایل: لومړیتوبونه ټاکل، د وسایلو ځانګړنه، د عوایدو ویش، پرمختګ
- د پانګوال، سوسیالیستي او مخلوط اقتصادي نظامونو تعریف، تاریخ، اصول، د ځلورګونو مسایلو حل او نیمګړتیاوې
- د اسلام د اقتصادي نظام تعریف، اهمیت او تاریخ
- د نبوت په پیر کې اقتصاد، تر نبوت وروسته پیړیو کې اقتصادي جوړښت، د اسلامي اقتصاد معاصره بڼه

دوهمه څپرکی: د اسلامي اقتصاد سرچینې، بنسټونه او ځانګړتیاوې

- د اسلامي اقتصادي نظام سرچینې، بنسټونه او اساسي اصول، د اقتصادي آزادۍ مفهوم، حدود، شرعي اصول
- د اسلامي اقتصاد ځانګړتیاوې او اهداف، د اسلامي اقتصادي نظام بهتري او له نورو وضعي نظامونو سره پرتله
- اقتصادي آزادي په بیلابیلو نظامونو کې، په اسلام کې د اقتصادي آزادۍ محدودیت لاملونه او ډولونه
- په اقتصادي چارو کې د دولت مداخله: مفهوم، اهمیت، اهداف، مشروعیت او ډولونه
- د مداخلې له پلوه د اقتصادي چارو ډولونه

دریمه څپرکی: د ملکیت احکام او د تولید نظام

- ملکیت: اسباب، ډولونه، د خصوصي ملکیت تعریف، ځانګړتیاوې، اهداف او محدودیتونه
- د خصوصي ملکیت سرچینې: بیعه، اجاره، زراعت، صنعت او نور
- د عمومي ملکیت تعریف، ثبوت، ځانګړتیاوې، اهداف او سرچینې: خیریه اوقاف، حمی، معدنونه او نور
- د ملکیتونو ترمنځ تعارض او د ساتنې وسایل، د تولید هڅوونکي، مشروعیت، د تولید عوامل
- د خصوصي او عمومي ملکیت د تعارض پر مهال لومړیتوب، تولیدات او شراکتونه
- عواید: مشروع عواید، شخصي عواید، دولتي عواید او سرچینې، غیر مشروع عواید
- سود: ډولونه، سودي توکي، احکام، حرمت، حکمت او په قرضونو کې سود

څلورمه څپرکی: د عوایدو وېش، لګښتونه او اقتصادي مسؤلیتونه

- د عوایدو وېش او د اسلام او وضعي نظامونو ترمنځ توپیرونه
- مصارف او په اسلامي اقتصاد کې د لګښت موخې، د لګښت ډولونه، د اسلامي هېواد اقتصادي مسؤلیتونه

پنځمه څپرکی: اسلامي بانکوالي او مشارکتي تمویل

- د بانک تعریف، اهمیت، تاریخ، ډولونه او کړنې، د اسلامي بانکداری تعریف، اهمیت، اړتیا، تاریخ او اهداف
- په اسلامي بانکوالی کې د مشارکت پر بنسټ تمویل، تمویل لارې چارې: مثالي او غیر مثالي طریقې
- د شرکت تعریف، مشروعیت، ډولونه او شرطونه، د مشارکت پر بنسټ تمویل بیلګې
- د مضاربت تعریف، مشروعیت، عناصر، شرطونه او ډولونه
- د مشارکې او مضاربې ترمنځ توپیرونه، د مضاربت پر بنسټ تمویل
- د مرابحې او اجارې پر بنسټ تمویل: تعریف، مشروعیت، عناصر، ډولونه او شرطونه
- د سلم او استصناع پر بنسټ تمویل: تعریف، مشروعیت، عناصر، شرطونه او توپیرونه
- حسنه قرض او اقتصادي ګټې، اسلامي پانګوونې صندوق

نښړمه څپرکی: بیمه، تکافل او پولي نظام

- د بیمې او تکافل پېژندنه، د بیمې ډولونه
- د بیمې د نامشروعیت دلایل او اسباب
- تکافل د بیمې بدیل، د تکافل فقهي شکلونه
- پولي نظام: د پولې واحد تعریف، ډولونه، د اسلامي پولي سیاست اصول
- د پولي واحدونو ترمنځ تبادله او احکام، په پولي واحدونو کې سود

د (اسلام اقتصادي نظام) مضمون اونیز پلان

اونۍ	منځپانګه	اونیز درسي ساعتونه			
		ټولټال	نظري	عملي	ساحوي
لومړۍ	د اقتصادي نظام تعریف، موضوع، اهمیت، اهداف او تاریخ یې. د اقتصادي نظام بنستیز مسایل . الف : لومړیتوبونه ټاکل. ب : د وسایلو څانګړنه. ج . د عوایدو ویش د . پرمختګ	۲	۲		
دوهمه	د پانګوال، سوسیالیستي، او مخلوط اقتصادي نظامونو تعریف، تاریخ، اصول او څلورګونو مسایلو حل او نیمګړتیاوې یې.	۲	۲		
دریمه	دسلام د اقتصادي نظام تعریف، اهمیت. د اهمیت دا سلام د اقتصادي نظام تاریخ. د نبوت په پیرکې تړې وروسته پیړۍ، معاصره بڼه یې د اسلام د اقتصادي نظام سرچینې، بنسټونه، اساسي اصول. د سلامي اقتصاد څانګړتیاوې او اهداف د اسلام د اقتصادي نظام بهتري او له نورو وضعي نظامونو سره یې پرتله.	۲	۲		
څلورمه	د اقتصادي آزادی مفهوم، حدود او شرعي اصول یې. اقتصادي آزادي په بیلابیلو نظامونو کې. په اسلام کې د اقتصادي آزادی د محدودیت لاملونه او ډولونه. په اقتصادي چارو کې د دولت مداخله. د مداخلې مفهوم، اهمیت، اهداف او مشروعیت و ډولونه یې. د مداخلې له پلوه د اقتصادي چارو ډولونه.	۲	۲		
پنځمه	ملکیت، د ملکیت اسباب، ډولونه، د خصوصي ملکیت تعریفو څانګړتیاوې، اهداف او پرې محدودیتونه	۲	۲		

شپږمه	د خصوصي ملکیت سرچینیږ بیعه، اجازهو زراعت، صنعت.....	۲	۲		
اوومه	د عمومی ملکیت تعریف، ثبوت، ځانګړتیاوې اهداف او سرچینې .خیریه اوقاف، حمی، معدنونه و غیره...	۲	۲		
اتمه	د ملکیتونو ترمنځ تعارض او د ساتنې وسایل یې. د خصوصي او عمومي ملکیت د تعارض پرمهال لومړیتوب	۲	۲		
نهمه	تولیدات، شراکتونه، د تولید هڅوونکي، د مشروعیت تولید عوامل، عواید، مشروع عواید، شخصي عواید، دولتي عواید او سرچیني یې. غیر مشروع عواید. سود، ډولونه یې، سودي توکي او احکام یې، د سود حرمت، د سود د حراموالي حکمت، په استهلاکي او استثماري قرضونو سود. د غیر مشروع عواید نورې سرچینې	۲	۲		
لسمه	د عوایدو وېشو د عوایدو په وېش کې د اسلام اقتصادي نظام او ضعي نظامونه ترمنځ توپیرونه. مصارف، په اسلامي اقتصاد کې د لګښت موخې، دلګښت ډولونه. د اسلامي هیواد اقتصادي مسؤلیتونه.	۲	۲		
یوولسمه	اسلامي بانکوالي. د بانک تعریف، اهمیت، تاریخ، ډولونه او کړنې یږ داسلامي بانکوالي تعریفو اهمیت اړتیا، تاریخ او اهداف یې.	۲	۲		
دولسمه	د مشارکت پربنسټ تمویل. په اسلامي بانکوالی کې د تمویل لارې چارې مثالي لارې چارې. غیر مثالي لارې چارې. د شرکت تعریف، مشروعیت، ډولونه او شرطونه یې. په اسلامي بانکوالی کې د مشارکت پر بنسټ د تمویل بیلګې.	۲	۲		
دیارلسمه	د مضاربت تعریف او مشروعیت. د مضاربت عناصر، شرطونه او ډولونه. د مشارکې او مضاربې ترمنځ توپیرونه. د مضاربت پر بنسټ تمویل.	۲	۲		
څوارلسمه	د مرابحې او ا جارې پربنسټ تمویل. د مرابحې او اجارې تعریف او مشروعیت د مرابحې او اجاري عناصر. ډولونه او شرطونه یې.	۲	۲		
پنځلسمه	د سلم او استصناع پر ننسټ تمویل. سلم او استصناع تعریف او مشروعیت یږ	۲	۲		

	د سلام او استصناع عناصر او شرطونه. د سلم او استصناع ترمنځ توپيرونه. حسنه قرض، د حسنه قرض اقتصادي ګټې، د ا سلامي پانګونې صندوق.				
شپاړسمه	بيمه او تکافل. د بيمې او تکافل پېژندنه. د بيمې ډولونه. د بيمې د نامشروعيت دلايل او اسباب. د بيمې د بديل په توګه کافلږ د تکافل فقهي شکلونه. پول د پولې واحد تعريف، ډولونه، د اسلام د پولي سياست اصول، د پولي واحدونو ترمنځ تبادله او احکام يې په پولي واحدونو کې سود.	۲	۲		

مقرر کتاب	محتوا او نوي درسي کتابونه دې د دې نصاب له ټاکل شويو مفرداتو سره سم، د لوړو زده کړو وزارت تر څارنې او سرپرستۍ لاندې، د رسمي ژبو ترڅنګ په انګليسي ژبه کې د (تجربوي او طبيعي علومو) او په عربي ژبه کې د (ټولنيزو علومو) لپاره د لاندې ټکو په پام کې نيولو سره ترتيب او تأليف شي: • په تجربوي علومو کې دې د مضمون محتوا د وروستيو پرمختګونو سره سم ترتيب شي، او چيرې چې اړتيا وي د مسلمان پوهانو رول او لاسته راوړنې دې هم پکې يادې شي. • په ټولنيزو، انساني او ادبي علومو کې دې ديني اصل وساتل شي او په ساينسي او طبيعي علومو کې چيرې چې اړتيا وي،د ظاهري علتونو ترڅنګ دې الهي او شرعي اړخ هم ذکر شي،لکه: زلزله، باران، طوفان، د اقليم بدلون، د نفوس کنټرول، د انساني اعضاوو پيوند او داسې نور.

د سرچينو فهرست	
اصلی سرچينی	۱. صيغة مقترحة لقانون البيع الاسلامي، الشيخ تقي العثماني. ۲. اسلام او نوی تجارتو مفتي محمد تقي عثماني ۳. د اسلامي بانکوالي بنسټونه، مفتي محمد تقي عثماني
مرستندوی سرچينی	٤. النظام الاقتصادي في الاسلامو مجموعة من العلماء ٥. اسلامي اقتصاد او بانکوالي، مفتي عبدالحق حقاني

د (قرآن او عصری علوم) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان

پوهنتون	سلام پوهنتون
پوهنځی	اقتصاد
ډیپارټمنټ	د سوداګرۍ اداره
د پروګرام عنوان	د سوداګرۍ اداري لیسانس
د مضمون کوډ	SL.IC.0782
د کریډیتونو شمیر	۲
کټګوري	ټول شموله
مخکینی مضمون	نلري
سمستر	اووم

د مضمون لنډه پېژندنه

قرآن کریم او معاصر علوم د اسلامي ثقافت د مضامینو څخه یو مهم ټول شموله مضمون دی چې د تحصیلي نصاب په چوکاټ کې په اووم سمستر کې تدریسیږي، دا مضمون به کلي توګه د قرآن کریم د مطالبو اړیکه له معاصرو علومو سره بیانوي او په سمه توګه د اسلام په پېژندنه کې ورته خرګنده اړتیا لیدل کیږی، ځکه چې معاصرې ټکنالوژی ځینې هغه ځوانان له خطرناکو شکوکواو شبهو سره مخامخ کړي دي چې د قرآني مضامینو په اړه کافي معلومات نه لري، د بېلګې په توګه داسې ګومان کول چې د علم او ټکنالوژی د پرمختګ په زمانه کې د قرآن کریم مطالب د پلي کیدو وړ نه دي.

خو معاصرو علومو چې ځومره نوښتونه رامنځته کړي به حقیقت کې له هغه څه پرته بل څه نه دي چې څه باندې یو رز او ځلورسوه کاله مخکې د قرآن کریم او نبوي سنتونو په علمي اشارو کې راغلي دي.

د دې مضمون په لوستلو د سمستر په پای کې محصلان د قرآن کریم د نزول صورتونو، مرحلو، حقوق، او د اعجاز پر بیلابیلو اړخونو او له نویو ایجاداتو سره یې د ټرلو په اړه، کلي علمي معلومات ترلاسه کوي.

د دې مضمون په پایله کې یې د قرآن کریم دعلمي اعجاز له عظمت او لویي سره لاښه آشنا کیږي او په انفرادي او ټولنیز ژوند کې د قرآن کریم د لارښوونو په پلي کولو کې بې دریغه هڅې او کوښښونه کوي او د ژوند په هره برخه کې اغیزمن ګامونه پورته کوي.

د مضمون زده کړه ییزې موخې

د کورس په بشپړیدو سره، زده کونکي به پدې پوه شي:

- د قرآن کریم د عمومي او کلي مباحثو، د نزول مرحلو او پراوونو، د اعجاز اړخونو او د هغه تلپاتې الهي کلام د اعجازي بېلګو پېژندل.
- د قرآنکریم د حقوقو، مقاصدو، او اهدافو درک او پېژندنه.

- د قرآنکریم د اعجاز اړخونه، له معاصرو اکتشافاتو سره د قرآنکریم اړیکه او د معاصرو علومو له لوري پر وړاندې شویو نظریاتو د باور کچه او کیفیت پېژندل.
- د سیارو د پیدایښت، په مدارونو کې یې حرکت، د انساني پیدایښت پرمختګ، د باران اوریدل او په کایناتو کې د جوړې د نظام د شتون په اړه په قرآني مطالبو پوهه ترلاسه کول.

د مضمون تمه شوي پایلې

د دې کورس د بشپړولو لپاره، محصلان باید لاندې فعالیتونه په عمل کې ترسره کړي او وکولی شي:

- د قرآن کریم د آیتونو او د تجربوي علومو (طبیعي علوم، طب، فلک‌پېژندنه، ځمک‌پېژندنه او نور) تر منځ اړیکه درک کړي.
- د قرآن علمي اعجاز په بېلابېلو برخو کې وپېژني، لکه د انسان د خلقت پراوونه، د هستۍ د جوړښت اسرار او د طبیعت قوانین.
- وکړای شي د قرآني مفاهیمو او معاصرو علمي نظریو تر منځ تحلیلي او تقابلي ارزونه ترسره کړي.
- د علمي تفسیر د حدودو او اصولو سره آشنا شي او له دې څخه ډډه وکړي چې ناپایداري او غیر ثابتې علمي نظریې پر آیتونو وتپي.
- د قرآن رول د تفکر، څېړنې او علمي څارنې د هڅونې په برخه کې درک کړي، په ځانګړي ډول د مشاهده، تجربه او تعقل پر اهمیت باندې.
- د قرآن د لیدلوري او تجربوي علومو د لیدلوري تر منځ توپیر درک کړي، په ځانګړي ډول د توحیدي لیدلوري او مادي لیدلوري تر منځ.

د تدریس او زده کړې طریقې

- لکچرونه وړاندې کول، سپینه تخته، ملټي میډیا پریزنټېشنونه او کتابونه.
- دمحصل محوري میتود له مخې ددرسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.
- کورنۍ دندې، ډله ایز بحث، د قضیې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې.
- ازموینه، کوئز، پریزنټېشنونه، د سمولو تمرینونه (د رول لوبول).

د محصلانو د ارزونې طریقه

- صنفي فعالیت او حاضري (۱۰ %)
- کورنۍ وظیفه (۱۰ %)
- د سمستر منځنۍ ازموینه (۲۰ %)
- د سمستر وروستۍ ازموینه (۶۰ %)

د مضمون درسي مفردات: (فصلونه او فرعي عنوانونه)

لومړۍ څپرکی: د قرآن کریم پېژندنه او وحي

- د قرآن کریم لغوي معنا او د قرآن کریم اصطلاحي تعریف
- وحي او ډولونه یې، وحي جلي (متلو)، وحي خفي (غیر متلو –نبوي احادیث)
- نبوي احادیث او مقام یې، د قرآن کریم نومونه

دوهمه څپرکی: د قرآن کریم نزول، تدوین او قراءت

- د قرآن کریم د نزول مرحلې، د قرآن کریم تدریجي نزول او حکمتونه
- په قرآن کې د نسخې حکمتونه
- اسباب نزول، اختلافات او پېژندنې ګټې
- د وحي لیکونکي
- د قرآن کریم د جمع کولو ډولونه، پراوونه، خصوصیات او کړنلارې
- توثیقي لارې په جمع کې
- د قرآن کریم نسخې، قراءتونه، روایت او توپیر یې، د قراء اصول او شروط
- د قرآن کریم د سورتونو او آیتونو شمېر، د سورتونو ترتیب او د ویش ګټې
- د سورتونو ډولونه: مکي او مدني سورتونو خصوصیات، د سورتونو د اندازې له مخې ډولونه
- د قرآن کریم حقانیت او د عدم تحریف دلایل، د قرآن په اړه د غربي پوهانو نظرونه

دریمه څپرکی: د قرآن کریم علوم، موضوعات او فضایل

- هغه علوم چې قرآن پرې مشتمل دی
- د قرآن کریم اساسي موضوعات، د علماوو نظرونه: غزالي، دهلوي، ابن عاشور، رشید رضا
- د قرآن کریم فضایل، د قرآن کریم صفات، په ژوند کې د قرآن اهمیت، د قرآن کریم حقوق، د قرآن تلاوت آداب

څلورمه څپرکی: معجزه، اعجاز او د رسول الله ﷺ معجزې

- د معجزې تعریف، د معجزې ډولونه، د معجزې شرطونه
- د رسول الله صلی الله علیه وسلم معجزې، د قرآن کریم اعجاز، د اعجاز ډولونه: بیاني، بلاغي، تشریعي، غیبي، علمي

پنځمه څپرکی: د قرآن کریم علمي اعجاز او تفسیر

- د علمي اعجاز په اړه د علماوو نظریات
- د علمي تفسیر او علمي اعجاز ترمنځ فرق
- د قرآن کریم د علمي اعجاز نمونې
- خلقت او کایناتو پراختیا
- په هر شي کې زوجیت
- شپه او ورځ
- له ستنو پرته آسمان
- د اسمان او ځمکې جلا کېدل

- د ځمکې مرکزیت
- د ځمکې کرویت او حرکت
- د غرونو شکلونه او دندې
- د ونو تلقیح
- د انسان خلقت، د انسان د خلقت مراحل او د جنین د نمو پړاوونه
- د نباتاتو په اړه د قرآن علمي حقایق
- چاپېریال ساتنه د قرآن له نظره
- د سمندرونو په اړه علمي لارښوونې، د سمندرونو ترمنځ حایل

ښپړه څېړکی: د حلالو او حرامو خوړو علمي اعجاز

- په حرامو خوړو کې علمي اعجاز
- د خبائثو په اړه د قرآن کریم لارښوونې، د خبائثو تفصیلي بیان
- د خوړو د قرآني لارښوونو طبي او علمي اړخونه

د (قرآن او عصری علوم) مضمون اونیز پلان

اونۍ	منځپانګه	اونیز درسي ساعتونه			
		ټولټال	نظري	عملي	ساحوي
لومړۍ	د قرآن کریم لغوي معنا. د قرآن کریم اصطلاحي تعریف. وحي او ډولونه یې. وحي جلي (متلو). وحي خفي (غیر متلو (نبوي احادیث)). نبي احادي او مقام یې. د قرآن کریم نومونه.	۲	۲		
دوهمه	د قرآن کریم د نزول مرحلې. د قرآن کریم تدریجي نزول او حکمتونه یې. په قرآن کریم کې د نسخې حکمتونه. اسباب نزول، په اسباب نزول کې اختلاف او پېژندنې ګټې یې.	۲	۲		
دریمه	د وحي لیکونکي. د قرآن کریم جمع کولو ډولونه، پړاوونه او د هرپړاو خصوصیات او کړنلاره. هغه توثیقي لاري چې د قرآن کریم په جمع کولو کې تر ې ګټه اخیستل شوې دهر. د قرآن کریم نسخې. قراءتونه او قراءت او روایت ترمنځ توپیر او د قراء اصول او شروط.	۲	۲		

څلورمه	د قرآن کریم د سورتونو او آیتونو شمېر د سورتونو ترتیب او د قرآن کریم د ویش ګټې. د قرآن کریم د سورتونو ډولونه. د ملکي او مدني سورتونو خصوصیات. د اندازې له پلوه د سورتونو ډولونه.	۲	۲		
پنځمه	د قرآن کریم حقانیت او د عدم تحریف دلایل د قرآن کریم په اړه د غربي پوهانو نظرونه. هغه علوم چې قرآن کریم پرې مشتمل دی. د قرآن کریم اساسي موضوعات. د مختلفو علماوو نظرونه (غزالي، دهلوی، ابن عاشور، رشید رضا).	۲	۲		
شپږمه	د قرآن کریم فضائل. د قرآن کریم صفات. په ژوند کې د قرآن کریم اهمیت. د قرآن کریم حقوق. د قرآن کریم د تلاوت آداب.	۲	۲		
اوومه	معجزه او ډولونه یې. د معجزې تعریف دمعجزې شرطونه. د رسول الله صلی الله علیه والسلم معجزې د قرآن کریم اعجاز. د قرآن کریم د اعجاز ډولونه.	۲	۲		
اتمه	د قرآن کریم بیاني او بلاغي اعجاز د قرآن کریم تشریعي اعجاز. د غیبو په اړه د قرآن کریم خبر ورکول.	۲	۲		
نهمه	د قرآن کریم علمي اعجاز. د قرآن کریم د علمي اعجاز په اړه د علماء نظریات. د قرآن کریم علمي تفسیر او د قرآن کریم علمي اعجاز ترمنځ فرق.	۲	۲		
لسمه	د قرآن کریم د علمي اعجاز نمونې. خلقت او کائناتو پراختیا د قرآن کریم او معاصرو علومو له نظره. په هرڅه کې زوجیت. شپه او ورځ د قرآن کریم او معاصرو علومو له نظره. له ستنو پرته آسمان. د اسمان او ځمکې جدایي. د ځکمې مرکزیت. د ځمکي کرویت. د ځمکي حرکت.	۲	۲		

یوولسمه	د غرونو شکلونه او د هغوی دندې د قرآن کریم او معاصرو علومو له نظره. د ونو تلقیح	۲	۲		
دولسمه	د انسان خلقت د قرآن او معاصر علومو له نظره. د انسان د خلقت مراحل په قرآن کې. (د جنین د نمو پړاوونه).	۲	۲		
دیارلسمه	د نباتاتو په اړه قرآن او معاصرو علومو نظر. علمي حقائق د نباتاتو په اړه. چاپېریال ساتنه د قرآن کریم له نظره.	۲	۲		
څوارلسمه	د سمندرونو په اړه د قرآن کریم او معاصروعلومو نظر. د سمندرونو ترمنځ حایل.	۲	۲		
پنځلسمه	په حرامو خوړو کې علمي اعجاز.	۲	۲		
شپاړلسمه	د خبائثو شیانو په اړه د قرآن کریم لارښوونې او تفصیل یې.	۲	۲		

مقرر کتاب	محتوا او نوي درسي کتابونه دې د دې نصاب له ټاکل شویو مفرداتو سره سم، د لوړو زده کړو وزارت تر څارنې او سرپرستۍ لاندې، د رسمي ژبو ترڅنګ په انګلیسي ژبه کې د (تجربوي او طبیعي علومو) او په عربي ژبه کې د (ټولنیزو علومو) لپاره د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره ترتیب او تألیف شي: • په تجربوي علومو کې دې د مضمون محتوا د وروستیو پرمختګونو سره سم ترتیب شي، او چیرې چې اړتیا وي د مسلمان پوهانو رول او لاسته راوړنې دې هم پکې یادې شي. • په ټولنیزو، انساني او ادبي علومو کې دې دیني اصل وساتل شي او په ساینسي او طبیعي علومو کې چیرې چې اړتیا وي،د ظاهري علتونو ترڅنګ دې الهي او شرعي اړخ هم ذکر شي،لکه: زلزله، باران، طوفان، د اقلیم بدلون، د نفوس کنټرول، د انساني اعضاوو پیوند او داسې نور.

د سرچینو فهرست	
اصلی سرچینی	۱. قرآن و علوم معاصر د. مصباح الله عبدالباقی ۲. الاتقان في علوم القرآن، للامام السيوطي. ۳. مناهل العرفان، للامام الزرقاني. ٤. علوم القرآنو للشيخ شمس الحق الافغاني. ٥. علوم القرآنو للشيخ تقي العثماني.
مرستندوی سرچینی	٦. التبيان في علوم القرآن، للشيخ محمد علي الصابوني. ۷. أصول التفسيرالميسرة، للشيخ خالد سيف الله الرحماني. ۸. مباحث فی علوم القرآن للشيخ مناع القطان. ۹. شريعة الرقرآن من دلائل اعجازه للشيخ أبوزهرة. ۱۰. الاعجاز العلمی فی القرآن کریم للدکتور زغلول النجار.

د (اسلامي تمدن) مضمون مفردات او اونيز درسي پلان

پوهنتون	سلام پوهنتون
پوهنځی	اقتصاد
ډیپارټمنټ	د سوداګرۍ اداره
د پروګرام عنوان	د سوداګرۍ اداري لیسانس
د مضمون کوډ	SL.IC.0883
د کریډیتونو شمیر	۲
کټګوري	ټول شموله
مخکینی مضمون	نلري
سمستر	اتم

د مضمون لنډه پېژندنه

د اسلامي تمدن مضمون چې د اسلامي ثقافت د تحصيلي نصاب په چوکاټ کې يو مهم مضمون دی، چې په حقيقت کې د اسلامي تاريخ هغه برخه ده چې اوسنيو مسلمانانو او په ځانګړې توګه ځوان قشر هير کړی دی چې پرې خبريدل او په سمه توګه يې پېژندل د محصلاتو بنسټيزه اړتيا ده.

د سمستر په پای کې محصلان د تمدن پر مفهوم، د تمدنونو د رامنځته کېدو پرعواملو، د تمدنونو رغنده عناصرو، په ځانګړې توګه د اسلامي تمدن پرعناصرو، د تمدن د لاسته راوړنو په لاره کې د سمون او مثبت تغيير په اړه د اسلام د رول، په اړه کلي معلومات ترلاسه کوي.

په پايله کې يې محصل کولای شی چې د تمدن د اساساتو ترځنګ د تمدن په مختلفو برخو او په بېلابېلو علومو کې لکه کيميا، فزيک، رياضې، طب، فارمسي، انجنيري، همداراز تاريخ، فلسفه، فلکيات او د شرعي علومو سربيره، د مسلمانانو له لاسته راوړنو دفاع وکړي او په خپراوي کې يې رغنده هڅې وکړي.

د مضمون زده کړه ييزې موخې

د کورس په بشپړيدو سره، زده کونکي به پدې پوه شي:

- د تمدن له رغنده عناصرو او له اسلام وړاندې له بشري تمدنونو سره بشپړه بلدتيا.
- د تمدن تشکيلوونکي عناصر په عامه توګه او د اسلامي تمدن عناصرپه خاصه توګه، له مستندو دلايلو سره په علمي او اکاډميکې لارې څرګندول او بيانول.
- په محصل کې دا وړتيا پيدا کول چې د اسلامي تمدن د جوړښت او پراختيا په زمانه کې رسول الله صلی الله عليه وسلم په بشري تمدن کې کوم بدلونونه او اصلاحات رامنځته کړل او کوم نوي اصول يې وضعه کړل.
- محصل د دې جوګه شي چې د اسلامي تمدن په وده او پراختيا کې د راشده خلفاوو له کارنامو څخه ښلګې وړاندې کړای شي او د اسلامي تمدن د هېرو شويو وړتياوو په اړه خپله مسؤولانه وظيفه ادا کړي.
- په مدلل ډول له دې دفاع کول چې معاصربشري تمدن د اسلام په پيل او لومړني تاريخ کې د مسلمانانو د هڅو او کوښښونو پوروړی دی.

د مضمون تمه شوي پايلې

د دې کورس د بشپړولو لپاره، محصلان بايد لاندې فعاليتونه په عمل کې ترسره کړي او وکولی شي:

- د اسلامي تمدن مفهوم درک کړي او د هغې توپير له نورو بشري تمدنونو سره د عقيدوي، کلتوري او علمي بنسټونو له مخې وپېژني.
- د اسلامي تمدن د رامنځته کېدو او پراختيا عوامل وپېژني، په ځانګړي ډول د قرآن، سنت نبوي، اسلامي حکومتونو او د بېلابېلو ملتونو د ونډې رول.
- د اسلامي تمدن علمي لاسته راوړنې په بېلابېلو برخو کې (طب، رياضي، نجوم، کيمیا، فلسفه او ادب) وپېژني.
- د اسلامي تمدن د ستر عالمانو لکه ابن‌سينا، خوارزمي،ابن‌هيثم،رازي او فارابي علمي او فکري خدمتونه درک کړي.
- داسلامي معماری اوهنر ځانګړنې مسجدونه،مانې،خطاطي،تذهيب اودتمدن اسلامي فرهنګي سمبولونه وپېژني.
- د اسلامي تمدن د تعليمي نظام او علمي بنسټونو (مدارس، کتابتونونه، د ژباړې او څېړنې مرکزونه) سره آشنا شي.
- د اسلامي تمدن اغېز پر لوېديځ تمدن او د هغې رول د اروپا د رنسانس په رامنځته کېدو کې درک کړي.
- د اسلامي تمدن د رکود او زوال عوامل د تاريخ له نظره تحليل کړي.
- د اسلامي تمدن د بيا راژوندي کېدو ننګونې او فرصتونه په معاصر عصر کې وپېژني.
- خپل اسلامي هويت او د اسلامي تمدن د ميراث د احيا په وړاندې مسؤليت احساس پياوړی کړي.
- د اسلامي تمدن او نورو تمدنونو (لوېديځ، ختيځ) تر منځ تقابلي تحليل ترسره کړي.
- د عربي ژبې رول د علمي او فرهنګي ژبې په توګه د اسلامي تمدن په پرمختګ کې وپېژني.

د تدريس او زده کړې طريقې

- لکچرونه وړاندې کول، سپينه تخته، ملټي ميډيا پريزنټېشنونه او کتابونه.
- دمحصل محوري ميتود له مخې ددرسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.
- کورنۍ دندې، ډله ايز بحث، د قضيې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې.
- ازموينه، کوئز، پريزنټېشنونه، د سمولو تمرينونه (د رول لوبول).

د محصلانو د ارزونې طريقه

- صنفي فعاليت او حاضري (۱۰ %)
- کورنۍ وظيفه (۱۰ %)
- د سمستر منځنۍ ازموينه (۲۰ %)
- د سمستر وروستۍ ازموينه (٦٠ %)

د مضمون درسي مفردات: (فصلونه او فرعي عنوانونه)

لومړۍ څېړکی: د تمدن پېژندنه او بنسټيز مفاهيم

- د تمدن لغوي معنا، د تمدن اصطلاحي تعريف
- د تمدن عناصر: اعتقادات، باورونه، اخلاقيات، سياست، اقتصاد، علوم، فرهنګ او هنر
- د تمدن، مدنيت او کلتور ترمنځ اړيکې، له اسلام څخه مخکې تمدنونه
- منځنيو پېړيو کې د شرق، اروپا او غرب اخلاقي، سياسي، اقتصادي او اجتماعي وضعيت

دوهمه څپرکی: د اسلامي تمدن رامنځته کېدل او ځانګړتیاوې

- د اسلامي تمدن تعریف، تاریخ، عناصر او ډولونه
- د اسلامي تمدن او نورو تمدنونو توپیرونه (اتفاقي او اختلافي موارد)
- د اسلامي تمدن ځانګړتیاوې
- له عقیدې سره ترڅو، له عباداتو سره ترڅو، له اخلاقو سره ترڅو
- اعتدال او توازن، دیني، انساني او کلتوري ارزښتونه، تعادل او تکامل

دریمه څپرکی: د رسول الله صلی الله علیه وسلم او راشده خلفاوو تمدني نقش

- رسول الله صلی الله علیه وسلم او د اسلامي تمدن بنسټ ایښودنه
- د اسلامي ټولنې رامنځته کول
- قوانین او تطبیق یې (ټولنیز عدالت)
- علم او پوهې ته هڅونه، د اسلامي اقتصاد اساس ایښودل
- د اقتصاد د ټکني کوونکو اسبابو له منځه وړل: سود، غرر، قمار، احتکار، د رغنده سیاست رامنځته کول
- رسول الله صلی الله علیه وسلم او طب
- د جګړې اخلاقي اصول او قوانین
- په راشده خلفاوو پېر کې تمدني پرمختګونه
- په اسلامي ټولنې د استحکام هڅې
- په سیاست او اداره کې پرمختګ (حکومتولي او قوانین)

څلورمه څپرکی: د اسلامي تمدن علمي، کلتوري او تخنیکي لاسته راوړنې

- د پخوانیو مسلمانانو تمدني کارنامې
- د علومو په برخه کې لاسته راوړنې (علما، مرکزونه)
- د فنونو لاسته راوړنې (خطاطي، نقاشي، معماري)
- د صنعت او ایجاد لاسته راوړنې (کاغذ، قطب‌نما، ساعت، بارود، عینک)
- د زراعت لاسته راوړنې
- په اسلامي شرعي علومو کې پرمختګ: تفسیر، اصول تفسیر، حدیث، اصول حدیث، فقه، اصول فقه، عقیده، علم کلام
- په ټولنیزو علومو کې لاسته راوړنې: تاریخ، جغرافیه، ژبه، ادبیات
- د ریاضیاتو، هندسې او فزیک لاسته راوړنې
- د ساینسي، کیمیاوي او طبي علومو لاسته راوړنې
- د فلکیاتو، فلسفې او حکمت لاسته راوړنې

پنځمه څپرکی: د اسلامي تمدن مصادر، انساني ارزښتونه او ټولنیز خدمتونه

- د اسلامي تمدن مصادر او اصول: قرآن کریم، نبوي سنت، اجماع، قیاس، مصالح مرسله
- مسلمانان د یوې متمدنې ټولنې بنسټګر
- د ټولنې لپاره د انساني اصولو وضع کول: انساني کرامت، متقابل احترام، د بیان ازادي، حقوقي مساوات د فرد او ټولنې د اصلاح تصور
- ټولنیز خدمتونه: لویې لارې، کاروان‌سرایونه، روغتونونه، دارالمجانین، یتیم‌خانې، زندانونه

ښپړمه څپرکی: د اسلامي تمدن نړيوال نفوذ، معاصرې ستونزې او د افغانانو ونډه

- په اسلامي تمدن کې د افغانانو ونډه: د علومو او فنونو برخه
- په معاصر تمدني ډګر کې د مسلمانانو وروستوالی
- بيروني او داخلي لاملونه او حل لارې
- اروپا او لويديځ د اسلامي تمدن مرهون
- د مسلمانانو لاسته راوړنو په رڼا کې د لويديځ پرمختګ تحليل

د (اسلامي تمدن) مضمون اونيز پلان

اونۍ	منځپانګه	اونيز درسي ساعتونه			
		ټولټال	نظري	عملي	ساحوي
لومړۍ	د تمدن لغوي معنا. د تمدن اصطلاحي تعريف. د تمدن عناصر: اعتقاداتو باورونهو اخلاقيات، سياست، اقتصاد، علوم، فرهنګ او هنر د تمدن، مدنيت او کلتور ترمنځ اړيکې. له اسلام څخه د مخکې تمدنونو لنډه ارزونه. (په ځانګړې توګه منځنيو پيړيو کې د شرق، اروپا او غرب اخلاقي، سياسي، اقتصادي او اجتماعي حالات)	۲	۲		
دوهمه	د اسلامي تمدن رامنځته کېدل. د اسلامي تمدن تعريف، تاريخ،عناصر او ډولونه يې. د اسلامي تمدن له نورو تمدنونو سره توپيرونه. (اتفاقي او اختلافي مواردې)	۲	۲		
درېيمه	د سلامي تمدن ځانګړتياوې. له عقيدې سره تړاو. له عباداتو سره تړاو. له اخلاقو سره تړاو. اعتدال او توازن. ديني، انساني، او کلتوري ارزښتونه. تعادل او تکامل	۲	۲		
څلورمه	رسول الله صلى الله عليه وسلم او د اسلامي تمدن بنسټ ايښودنه. د اسلامي ټولنې رامنځته کول. قوانين او تطبيق يې (ټولنيز عدالت) علم او پوهې ته هڅونه. د اسلامي اقتصاد اساس ايښودل.	۲	۲		

	د اقتصاد ټکني کوونکو اسبابو له منځه وړل، لکه سود،غرر،قمار،احتکار و غیره د رغنده سیاست رامنځته کول. رسول الله صلی الله علیه وسلم او طب د جګړې اخلاقي اصول او قوانین رامنځته کول.				
پنځمه	د راشده خلفاوو اسلامي دولت په پېر کې د تمدن پرمختګونه د اسلامي ټولنې د استحکام په برخه کې د سیاست او ادارې په برخه کې د حکومتولی،طرز قوانین	۲	۲		
شپږمه	د پخوانیو مسلمانانو تمدني کارنامو ته لنډه کتنه. د علومو په برخه کې(نامتو علماوو، علمي مرکزونو لنډه یادونه) د فنونو په برخه کې (خطاطي، نقاشي،معماري) د صنعت او ایجاد په برخه کې(کاغذ، قطب نماو ساعت، بارود، عینک) د زراعت په برخه کې.	۲	۲		
اوومه	په اسلامي شرعي علومو کې د اسلامي تمدن لاسته راوړنې تفسیرو اصول تفسیر، حدیث، اصول حدیث فقهو اصول فقه، عقیدهو علم کلام او نور	۲	۲		
اتمه	په ټولنیزو علومو کې د سلامي تمدن لاسته راوړنې تاریخ، جغرافیه، ژبه او ادبیات	۲	۲		
نهمه	د ریاضیاتو، هندسې، او فزیک علومو په برخه کې.	۲	۲		
لسمه	د ساینسي، تجربوي، کیمیایي او طبي علومو په برخه کې.	۲	۲		
یوولسمه	د فلکیاتو، فلسفې او حکمت په برخه کې.	۲	۲		
دولسمه	د اسلامي تمدن مصادر او اصول. قرآن کریم نبوي سنت اجماع ، قیاس، مصالح مرسله	۲	۲		
دیارلسمه	مسلمانان د یوې متمدنې ټولنې بنسټګر د ټولنې لپاره د انساني اصولو وضع کول. (انساني کرامت، متقابل احترام، د بیان ازادي، حقوقي مساوات او) د فرد او ټولنې د اصلاح تصور رامنځته کول. ټولنیز خدمتونه وړاندې کول(لکه دلویو لارو جوړول، کاروان سرایونه، روغتونونهو دارالمجانین، یتیم خانې، زندانونه او)	۲	۲		

څوارلسمه	په اسلامی تمدن کې د افغانانو ونډه. د علومو په برخه کې د فنونو په برخه کې	۲	۲		
پنځلسمه	په معاصر نړیوال تمدني ډګر کې د مسلمانانو د وروستوالي لاملونه او حل لاري یې. د اخلي او بیروني لاملونه او حل لاري یې.	۲	۲		
شپاړلسمه	اروپا او لویدیځ په معاصر تمدني پرمختګ کې د سلام مرهون دي. د مسلمانانو د یادو شویو لاسته راوړنو په رڼا کې باید تحلیل شي	۲	۲		

مقرر کتاب	محتوا او نوي درسي کتابونه دې د دې نصاب له ټاکل شویو مفرداتو سره سم، د لوړو زده کړو وزارت تر څارنې او سرپرستۍ لاندې، د رسمي ژبو ترڅنګ په انګلیسي ژبه کې د (تجربوي او طبیعي علومو) او په عربي ژبه کې د (ټولنیزو علومو) لپاره د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره ترتیب او تألیف شي: • په تجربوي علومو کې دې د مضمون محتوا د وروستیو پرمختګونو سره سم ترتیب شي، او چیرې چې اړتیا وي د مسلمان پوهانو رول او لاسته راوړنې دې هم پکې یادې شي. • په ټولنیزو، انساني او ادبي علومو کې دې دیني اصل وساتل شي او په ساینسي او طبیعي علومو کې چیرې چې اړتیا وي،د ظاهري علتونو ترڅنګ دې الهي او شرعي اړخ هم ذکر شي،لکه: زلزله، باران، طوفان، د اقلیم بدلون، د نفوس کنټرول، د انساني اعضاوو پیوند او داسې نور.

د سرچینو فهرست	
اصلی سرچینی	۱. ماذاخسر العالم بانحطاط المسلمینو لابي الحسن علی الندوی ۲. معالم الحضارة فی الاسلام، لناصح علوان.
مرستندوی سرچینی	۳. من روائع خضارتناو لمصطفی سباعی. ٤. الحضارة الاسلامیة مقارنة بالحضارة الغربیة، لتوفیق یوسف الواعي.

د (انګلیسي ژبه - ۱) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان

پوهنتون	سلام پوهنتون
پوهنځی	اقتصاد
ډیپارټمنټ	د سوداګرۍ اداره
د پروګرام عنوان	د سوداګرۍ اداري لیسانس
د مضمون کوډ	B.BA.0115
د کریډیټونو شمیر	۲
کټګوري	ټول شموله
مخکینی مضمون	نلري
سمستر	لومړۍ

د مضمون لنډه پېژندنه

انګلیسي ژبه په ځلورو بنسټیزو مادلونو ولاړه ده، چې عبارت دي له (لیکل، لوستل، اوریدل او خبرې کول) دا ټول موضوعات یو له بل سره تړلي دي. لکه څنګه چې مور په اوسني وخت کې د انګلیسي ارزښت پوهیږو چې دا یوه نړیواله ژبه شوې ده او دا د سوداګرۍ ژبه ده؛ په ټوله نړۍ کې ډیری خلک په انګلیسي ژبه خبرې کوي.

انګلیسي ژبه د هرې اداري یو له خورا اساسي اړتیاو څخه ده. هره اداره د خپلو دفتري چارو لپاره غوره انګلیسي مفاهمه کوونکو ته اړتیا لري.

د مضمون زده کړه ییزې موخې

د کورس په بشپړیدو سره، زده کونکي به پدې پوه شي:

- په ښلاښلو حالاتو کې د انګلیسي ژبې له لارې مؤثره اړیکه ټینګه کړي.
- د ژبې ځلور بنسټیز مهارتونه (اورېدنه، خبرې کول، لوستل او لیکل) پیاوړي کړي.
- د لغتونو زېرمه پراخه کړي او د ګرامري جوړښتونو پوهه زیاته کړي.
- د انګلیسي ژبې له کلتوري اړخونو سره آشنایي وموميي.
- خپل ځان د علمي او مسلکي چاپېریال لپاره د ژبې عملي کارونې ته چمتو کړي.

د مضمون تمه شوي پایلې

د دې کورس د بشپړولو لپاره، محصلان باید لاندې فعالیتونه په عمل کې ترسره کړي او وکولی شي:

- د بنسټیزو او پرمختللو لغتونو معناوې درک او په مختلفو برخو کې یې په سمه توګه وکاروي.
- د ګرامري جوړښتونو څخه په سمه توګه په خبرو او لیکلو کې استفاده وکړي.
- د ښلاښلو موضوعاتو لیکلي متنونه درک کړي او تحلیل یې کړي.

- د ورځنيو او مسلکي خبرو اترو د پوهېدو وړتيا ولري.
- خپل نظريات او مفکورې په روانه انګليسي ژبه شفاهي ډول څرګندې کړي.
- بېلابېل ليکلي متنونه (بريښنالیک، راپور، مقاله) وليکي.
- په رسمي او غيررسمي حالاتو کې د ژبې مناسب کارونه ترسره کړي.
- د کلتوري توپيرونو په درک سره د انګليسي اړيکو په اغېزناکه توګه برخه واخلي.
- د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د انګليسي سرچينو څخه ګټه واخلي.
- په ډله‌ييزو خبرو اترو او پريزنټېشنونو کې فعاله برخه واخلي.

د تدريس او زده کړې طريقې

- لکچرونه وړاندې کول، سپينه تخته، ملټي ميډيا پريزنټېشنونه او کتابونه.
- دمحصل محوري ميتود له مخې ددرسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.
- کورنۍ دندې، ډله ايز بحث، د قضيې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې.
- ازموينه، کوئز، پريزنټېشنونه، د سمولو تمرينونه (د رول لوبول).د کورس اړوند مستند فلمونه / ويډيو زده کړه.

د محصلانو د ارزونې طريقه

- صنفي فعاليت او حاضري (۱۰ %)
- کورنۍ وظيفه (۱۰ %)
- د سمستر منځنۍ ازموينه (۲۰ %)
- د سمستر وروستۍ ازموينه (٦٠ %)

د مضمون درسي مفردات: (فصلونه او فرعي عنوانونه)

لومړۍ څېړکی: د ګرامر بنسټونه او د وينا برخې

- د وينا د برخو پېژندنه
- اسم، د اسم ډولونه او حالتونه
- ضمير، د ضمير ډولونه
- فعل، د فعل ډولونه
- صفت، د صفت ډولونه
- قيد، د قيد ډولونه
- حرف اضافه، د حرف اضافه ډولونه
- حرف ربط، د حرف ربط ډولونه
- حرف ندا(Interjection)

دوهمه څپرکی: زمانونه او مهمې دستورې قاعدې

- حال ساده او بېلابېلې کارېدنې
- حال استمراري، د ing د زیاتولو قواعد
- تیر ساده (Simple Past)
- راتلونکی ساده (Simple Future)

دریمه څپرکی: د کار، دندو او صنعت اړوند درسونه

- د دندو او صنعت پېژندنه (Unit 1)
- ځایونه او صنعتونه (Unit 2)
- د کار ډولونه (Unit 3)
- کار ته رسېدل او تګ راتګ (Unit 5)

څلورمه څپرکی: د سوداګرۍ سفر او د کار چاپېریال

- د سوداګرۍ سفر ۱ (Unit 6)
- د سوداګرۍ سفر ۲ (Unit 7)
- څوک رئیس دی؟ (Unit 10)
- د کار کولو لارې چارې (Unit 11)

پنځمه څپرکی: مهارتونه، زده کړه او روزنه

- مهارتونه (Unit 13)
- تحصیلات او روزنه (Unit 14)
- ای ـ زده کړه (Unit 15)

شپږمه څپرکی: مالي موضوعات، پیسې او شرکتونه

- د ازاد وخت او رخصتیو موضوع (Unit 22)
- نوټونه او سکې (Unit 23)
- بیې (Unit 24)
- شمېرې او پیسې (Unit 25)
- ایا موږ یې اخیستلی شو؟ (Unit 26)
- معاش او امتیازات (Unit 27)
- د شرکت بانکداري (Unit 28)
- کمپنۍ او پیسې ۱ (Unit 29)
- کمپنۍ او پیسې ۲ (Unit 30)

د (انګلیسي ژبه-۱) مضمون اونیز پلان

اونۍ	منځپانګه	اونیز درسي ساعتونه			
		ټولټال	نظري	عملي	ساحوي
لومړۍ	د وینا برخو پېژندنه او معرفي اسم، د اسم ډولونه او د اسم حالتونه	۳	۱	۲	
دوهمه	ضمیر او د ضمیر ډولونه ساده اوسنی زمان او د دې زمان بېلابېل استعمالونه	۳	۱	۲	
درېیمه	لومړی واحد: دندې او صنعتونه دوهم واحد: ځایونه او صنعتونه	۳	۱	۲	
څلورمه	درېیم واحد: د کار ډولونه پنځم واحد: کار ته رسېدل	۳	۱	۲	
پنځمه	شپږم واحد: سوداګریز سفر ۱ اووم واحد: سوداګریز سفر ۲	۳	۱	۲	
شپږمه	لسم واحد: څوک رئیس دی یوولسم واحد: د کار کولو طریقې	۳	۱	۲	
اوومه	دیارلسم واحد: مهارتونه څوارلسم واحد: وړتیاوې او روزنه	۳	۱	۲	
اتمه	قید او د قید ډولونه اوسنی روان زمان د ing زیاتولو قاعدې	۳	۱	۲	
نهمه	تېر ساده زمان راتلونکی ساده زمان صفت او د صفت ډولونه	۳	۱	۲	
لسمه	فعل او د فعل ډولونه حرف اضافه او د حرف اضافه ډولونه	۳	۱	۲	
یوولسمه	پنځلسم واحد: انلاین زده‌کړه دوویشتم واحد: د فري وخت او رخصتیو موضوعات	۳	۱	۲	

دولسمه	درويشتم واحد: نوټونه او سکې څلورويشتم واحد: بيې	۳	۱	۲	
دیارلسمه	پنځه ويشتم واحد: شمېرې او پيسې شپږ ويشتم واحد: ايا موږ يې اخيستلی شو؟	۳	۱	۲	
څوارلسمه	اووه ويشتم واحد: معاش او امتيازات اته ويشتم واحد: د شرکت بانکداري	۳	۱	۲	
پنځلسمه	نهه ويشتم واحد: شرکتونه او پيسې ۱ ديرشم واحد: شرکتونه او پيسې ۲	۳	۱	۲	
شپاړلسمه	حرف ربط او د حرف ربط ډولونه ناروغي يا احساسات پريزنتيشنونه او پوښتنليکونه	۳	۱	۲	

مقرر کتاب	محتوا او نوي درسي کتابونه دې د دې نصاب له ټاکل شويو مفرداتو سره سم، د لوړو زده کړو وزارت تر څارنې او سرپرستۍ لاندې، د رسمي ژبو ترڅنګ په انګليسي ژبه کې د (تجربوي او طبيعي علومو) او په عربي ژبه کې د (ټولنيزو علومو) لپاره د لاندې ټکو په پام کې نيولو سره ترتيب او تأليف شي: • په تجربوي علومو کې دې د مضمون محتوا د وروستيو پرمختګونو سره سم ترتيب شي، او چيرې چې اړتيا وي د مسلمان پوهانو رول او لاسته راوړنې دې هم پکې يادې شي. • په ټولنيزو، انساني او ادبي علومو کې دې ديني اصل وساتل شي او په ساينسي او طبيعي علومو کې چيرې چې اړتيا وي،د ظاهري علتونو ترڅنګ دې الهي او شرعي اړخ هم ذکر شي،لکه: زلزله، باران، طوفان، د اقليم بدلون، د نفوس کنټرول، د انساني اعضاوو پيوند او داسې نور.

د سرچينو فهرست	
اصلی سرچینی	1. Business Vocabulary in Use elementary to Pre-intermediate, Second Edition 2. Oxford Business English Business Result (Elementary / Pre-Intermediate)
مرستندوی سرچینی	3. English for Business Studies Cambridge 4. Market Leader (Elementary / Pre-Intermediate) Pearson

د (انګلیسی ژبه - ۲) مضمون مفردات او اونیز درسي پلان

پوهنتون	سلام پوهنتون
پوهنځی	اقتصاد
ډیپارټمنټ	د سوداګرۍ اداره
د پروګرام عنوان	د سوداګرۍ اداري لیسانس
د مضمون کوډ	B.BA.0220
د کریډیټونو شمیر	۲
کټګوري	ټول شمول
مخ اړی مضمون	انګلیسی ژبه - ۱
سمستر	دوهم

د مضمون لنډه پېژندنه

انګلیسي ژبه په ځلورو بنسټیزو مادلونو ولاړه ده، چې عبارت دي له (لیکل، لوستل، اوریدل او خبرې کول) دا ټول موضوعات یو له بل سره تړلي دي. لکه څنګه چې مور په اوسني وخت کې د انګلیسي ارزښت پوهیږو چې دا یوه نړیواله ژبه شوې ده او دا د سوداګرۍ ژبه ده؛ په ټوله نړۍ کې ډیری خلک په انګلیسي ژبه خبرې کوي.

انګلیسي ژبه د هرې اداري یو له خورا اساسي اړتیاو څخه ده. هره اداره د خپلو دفتري چارو لپاره غوره انګلیسي مفاهمه کوونکو ته اړتیا لري.

د مضمون زده کړه ییزې موخې

د دې کورس د مطالعې له لارې محصلان به په لاندې موضوعاتو لاس ومومي:

- د غوره اړیکو پراختیا لپاره (لفظي).
- د سم ګرامر کارولو وړتیا لوړولو لپاره.
- د سوداګرۍ لغتونو سره زده کونکي آشنا کول.
- د ځان مطالعې عادتونو ته وده ورکول.

د مضمون تمه شوي پایلې

د دې کورس له بشپړولو وروسته، محصلان باید وکولای شي لاندې کړنې په عملي توګه ترسره کړي:

- د مختلفو برخو کې د بنسټیزو او پرمختللو لغتونو پوهه او کارول.
- په وینا او لیکنه کې د ګرامري جوړښتونو سمه کارول.
- د مختلفو موضوعاتو سره اړوند لیکلي متنونو درک کول.
- د ورځني او تخصصي خبرواترو درک کول.

- د نظریاتو او ایده‌ګانو په شفاهي توګه بیانول.
- د مختلفو متنونو لیکل (ایمیل، راپور، مقاله).
- په رسمي او غیر رسمي شرایطو کې د ژبې کارول.
- په انګلیسي اړیکو کې د کلتوري توپیرونو درک کول.
- د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د انګلیسي منابعو کارول.
- په ګروپي خبرو اترو کې ګډون کول او پریزنټیشنونه وړاندې کول.

د تدریس کړنلاړه

- لکچرونه وړاندې کول.
- سپینه تخته، ملټي میډیا پریزنټیشنونه او کتابونه.
- دمحصل محوري میتود له مخې ددرسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.
- کورنۍ دندې، ډله ایز بحث.ازموینه، کوئز، پریزنټیشنونه، د سمولو تمرینونه (د رول لوبول).
- د کورس اړوند مستند فلمونه / ویډیو زده کړه، د قضیې مطالعې، د ټولګي پر بنسټ پروژې.

د محصلانو د ارزونې طریقه

- صنفي فعالیت او حاضري (۱۰ %).
